دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعلومو اکاډمي
دبشري علومو معاونيت
دټولنيزو علومو مرکز
دفلسفې او ټولنپوهنې انستيتوت

# هومانيزم

## د شرقي او غربي فلاسفه وو له نظره



ليکوال: څېړنوال سلطاني منګل

کال ۱۳۹۰ لمريز

دچاپ چاری دلیکوال په مالی مرسته
دچاپ ځای محله جنگی پشاور
ظاهر کتب خانه موبائیل: 0312-9899575
دچاپ تول حقوق لیکوال سره خواندی دی

دافغانستان اسلامي جمهوريت

دعلومو اکاډمي

دبشري علومو معاونيت

دټولنيزو علومو مرکز

دفلسفې او ټولنپوهنې انستيتوت

# هومانيزم دشرقي او غربي فلاسفه وله نظره

(دڅېړنوالی علمي رتبې ته دترفيع لپاره)


ليکوال

څېړنوال سلطاني منګل



کال ۱۳۹۰لمريز

## کتاب پېژندنه :

دکتاب نوم:هیومانیزم د شرقي او غربي فلاسفه و له نظره

لیکوال: څېړنوال سلطاني منګل

لارښود استاد : څېړنوال میرزامحمد لودي

کمپوز او ډیزاین: رحمت الله هوتک او ظاهرشکیب

خپرندوی :

تیراژ : ۱۰۰۰

چاپ کال : ۱۳۹۰ ل

چاپ ځای:



# ډالۍ :

دغه اثر خپلې اروابښادې مور او خپل اروابښاد پلار ته ډالۍ کوم

(س. منګل)

# دمطالبو فهرست

## ســــــرليک — مخگڼه


دلاربنود استاد نظر ........................................ الف

تقریظ ........................................ د

تقریظ ........................................ هـ

تقریظ ........................................ ز

سریزه ........................................ ۱

## لومړی فصل

د خېړنې پس منظر ........................................ ۶

## دوهم فصل

دهومانیزم مانا، مفهوم او وده ........................................ ۱۷

الف: دهومانیزم مانا او مفهوم ........................................ ۱۷

ب: دهومانیزم وده او تکامل ........................................ ۳۱

ج. دهومانیزم اهمیت ........................................ ۳۷

## درېیم فصل

دهومانیزم فلسفه دځینو شرقي فلاسفه و له نظره ........................................ ۳۹

الف: په لرغوني شرق کې هومانیزم ........................................ ۳۹

۱- زردشت ........................................ ۴۳

۲- بودا (بودیزم) ........................................ ۵۰

۳- کنفوسیوس ........................................ ۵۵

ب: په لرغوني یونان کې هومانیزم ........................................ ۵۸

ج: داسلامي فلسفې له نظره هومانیزم ........................................ ۷۵

۱_ داسلام اخلاقي نظام ........................................ ۷۷

۲- داسلام ټولنیز نظام ........................................ ۸۰

۳- په اسلامي نظام کې دبشري حقونو او بشرپالو نظریاتو څرک ........................................ ۸۱

## څلورم فصل

دغرب او شرق دبېلابېلو فلسفي مکتبونو له نظره دهومانيزم فلسفي بنسټونه ........ ۹۲
الف : په ځينو شرقي فلسفي مکتبونو کې دهومانيزم دنظريو فلسفي بنسټونه ........ ۹۲
۱ - ابو نصر فارابي ........ ۹۳
۲ -ابن سينا بلخي ........ ۹۷
۳ -علامه اقبال ........ ۱۰۲
۴ - دخوشال خان خټک په اشعارو کې هيومانيستي افکار ........ ۱۰۷
ب : په ځينو غربي فلسفي مکتبونو کې دهومانيزم دنظريو فلسفي بنسټونه ........ ۱۱۱
۱ - دپراگماتيسم په فلسفه کې هومانيزم ........ ۱۱٤
۲ - دمارکسيسم په فلسفه کې هومانيزم ........ ۱۱٤
۳ - د اگزيستانسياليسم په فلسفه کې هومانيزم ........ ۱۱۵
ج : دشرقي او غربي فلاسفه و په نظرياتوکې دهومانيزم دمفکورې ........ ۱۱۷

## پنځم فصل

په افغاني ټولنه باندې دشرقي او غربي هيومانيستي نظرياتو اغېزې ........ ۱۳۹
الف: دمذهبي مرکزونو له لارې ........ ۱۵٦
ب : هومانيزم دښوونې او روزنې له لارې ........ ۱٦٤
ج : هومانيزم دعامه رسنيو له لارې ........ ۱٦٦
د : دقوانينو او حقوقو له لارې ........ ۱٦۸
هـ: دطبي خدمتونو له لارې ........ ۱۷٤
و : سوله او هومانيزم ........ ۱۸۳
پايله (نتيجه ) ........ ۱۸۸
وړانديزونه ........ ۱۹٤
اخځليکونه ........ ۱۹٦

## دلارښود استاد نظر:

(هومانيزم دشرقي او غربي فلاسفه و له نظره) دهغه اثر نوم دی ، چې ښاغلي سلطاني منګل دڅېړنوالۍ علمي رتبې ته دترفيع لپاره زما ترلارښوونې لاندې ليکلی دی ، محترم استاد دغه پروژه په پيل کې دسرمحقق محمد يونس بې ريا تر لارښوونې لاندې پيل کړې وه ، چې دځينو لاملونو له امله يې په خپل ټاکلي وخت کې دپروژې څېړنيز کار بشپړ نه شو کړای ، نو يې نيمه دوره تمديد واخيست ، چې دځه وخت په تېرېدو سره ښاغلي بې ريا تقاعد وکړ ، نو دهمدې امله دانستيتوت دعلمي شورا دپرېکړې پر بنسټ دنومړې پروژې دلارښوونې مسؤليت ماته راوسپارل شو ، په دغه کمه موده کې ما تر خپل وسه دښاغلي منګل سره لازمه همکاري کړې ده ، البته دا بايد ووايم چې طرح شوې موضوع ډېره پراخه او جامع ده او په دوو تمدني ساحو کې دهغې څېړل ډېر درووند کار دی ، چې زما په اند ديوه څېړونکي کار نه بلکې ديوه ټيم کار دی ، چې دا ډول پروژه په دغو دوو تمدني ساحو کې بشپړه کړي او بيا ددغو دوو تمدني ساحو اغېزې په افغانستان کې دموضوع څېړل ډېر ستونزمن کار په نظر راځي .

ددغو ستونزو سره سره ښاغلی منګل دخپل توان سره سم دغه پېچلې او پراخه موضوع څېړلې او ډېر زيار يې ګاللی دی .

دپروژې دبشپړېدو په اړه بايد ووايم چې ښاغلي منګل هر فصل په ځانګړي ډول ماته سپارلی او داصلاح او سمون وروسته مې محترم ليکوال ته بېرته سپالی ، ترڅو چې ټول اثر بشپړ شو او په ټوليزه توګه مې هغه تر نظر تېر کړو ، کومې

نیمگړتیاوې چې په نظر راتلې ، هغه مې لیکوال ته یادښت کولې . ترڅو په پای کې دنومړي دپروژې کار بشپړ شو ، چې زه یې په باب خپل نظر داسې څرګندوم :

دشکل له پلوه :

دغه اثر په پنځوو څپرکو کې بشپړ شوی دی ، چې په لومړي فصل کې (دموضوع تېر وخت ته کتنه ) څېړل شوې او دنومړي څپرکي په ترڅ کې دموضوع ارزښت او هغه کارونه چې دهومانیزم دمفکورې په اړه دفلسفې په تاریخ کې دبېلابېلو فلاسفه و له نظره تېر شوي دي یعنې دهومانیزم دتاریخي بهیر راسپړل شوی دی ، همدارنګه هغه مهم آثار چې ددغې موضوع په اړه لیکل شوي او ددغه اثر په بشپړېدو کې ورڅخه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ګټه اخیستل شوې ده ، هغه یې یو په یو راوړي دي .

په دوهم څپرکي کې دهومانیزم دفلسفې اصطلاح ، مفهوم ، وده او ارزښت بیان شوی دی ، همدارنګه په دریم څپرکي کې دهومانیزم فلسفه په ختیځ کې څېړل شوې ده ، چې په ترڅ کې یې دیو شمیر فلاسفه و او ادیانو نظریات راخیستي دي ، همدارنګه په اسلامي فلسفه کې دهومانیزم طرز فکر څېړل شوی دی ، په څلورم څپرکي کې دختیځ او لویدیځ دبېلابېلو فلسفي مکتبونو له پلوه دهومانیزم فلسفي اساسات څېړل شوي دي ، په دغه څپرکي کې نوموړي موضوعات په مقایسوي توګه پرتله شوي دي ، چې ترټولو ښهٔ روش همدغه پرتلیز (مقایسوي) میتود دی .

په پای کې دهومانیزم مسئله په افغانستان کې څېړل شوې ده ، چې دا دپنځم څپرکي څېړنیزه موضوع ده . البته دختیځ او لویدیځ دهومانیستي افکارو او نظریاتو اغېزې دافغانستان په بېلابېلو برخو کې راسپړل شوي دي او دهومانستي نظریاتو خپرول دبېلابېلو بنسټونو له لارې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي .

برسېره پر یادو شویو څپرکو سریزه ، پایله ، وړاندیزونه او د سرچینو لېست هم لري ، دماخذونو معرفي کول داکاډمیکو اصولو سره سم تر سره شوي دي .

دمحتوی په لحاظ :

دغه اثر دمحتوا له پلوه دموضوع دپیچلتیا او پراخوالي سره سره بډایه ده . دموضوعاتو تحلیل په ښۀ ښه مستدلل او پر اسنادو ولاړ ترسره شوی دی ، په هر څپرکي کې راغونډ شوي مطالب دعنوان سره په مطابقت کې دي ، دموضوع تسلسل ښه دی ، ژبه یې روانه ده او دمطالبو افاده په ساده او منطقي ښه ده .

دپورتنیو مطالبو په پایله کې وایم :

که چیرې محترم لیکوال دڅېړنوالۍ رتبې ته نور قانوني شرایط بشپړ کړي وي ، دغه اثر زه بریالی ارزیابي کوم او دڅېړنوالۍ رتبې ته یې دترفیع مستحق بولم او محترم لیکوال ته دژوند په نورو چارو کې دنورو بریاوو په هیله یم .

په درنښت

څېړنوال میرزا محمد لودي

تقریظ:

مکتوب شماره مـــکتوب $\frac{٨٨}{٩١}$ ۱۳۹۰\۱۱\۳۰ ریاست محترم اکادمی علوم افغانستان که تقاضای ایرایه تقریظ بالای اثر علمی – تحقیقي تحت عنوان (هومانیزم دشرقي او غربي فلاسفه و له نظره ) بخاطر ترفیع علمي به معاون سرمحقق محترم سلطاني منگل به این اداره مواصلت ورزیده است به اینجانب پوهاند احمد ضیاء نیکبین سپرده شد . اثر مذکور مورد مطالعه دقیق وهمه جانبه قرار دادم ، محترم سلطانی منگل درتهیه اثر متذکره تلاش فراوان نموده ونظر فلاسفه شرقی وغربي را در مورد اومانیزم تحقیق همه جانبه نموده و در تهیه اثر متذکره از آثار معتبر علمي و دست اول استفاده نموده اند . اثر متذکره یک اثر مفید برای دانش آموزان رشته جامعه شناسي محسوب شده ومیشود ، اثر متذکره برای دانش آموزان فلسفه وجامعه شناسي مفید محسوب میشود . از نظر من یک اثر علمی واکادمیک است ، در تهیه آن از روشهای ومیتود های علمی ومعیار استفاده شده .

برای ترفیع محترم محقق سلطاني منگل از رتبه علمي محقق به رتبه علمي معاون سرمحقق بسنده میدانم ومورد تائید من میباشد ، وبرای محترم منگل از خداوند متعال آرزوی موفقیت دربلند بردن ظرفیت علمی واکادمیک می نمایم .

باحترام

پوهاند احمد ضیاء نیکبین

## تقریظ:

به اثر نامۀشماره۹۱ مؤ رخ۳۰/ ۱/ ۱۳۹۰ش.ریاست محترم اسناد و ارتباط اکادمی علوم افغانستان که مزین به امضاء مقام ریاست اکادمی بوده و از تأیید پروژۀ علمی— تحقیقی محترم محقق سلطانی "منگل "تحت عنوان "هومانیزم دشرقی او غربی فلاسفه و له نظره " توسط مرکز علوم اجتماعی اکادمی به غرض ترفیع به رتبۀ معاون سر محقق خبر میدهد؛ از اینجانب خواستار تقریظ شده اند که ذیلاً پیرامون آن به ابراز نظر میپردازم:

درین رساله نخست مفهوم ،تاریخچه ، واهمیت هومانیزم و سپس هومانیزم در اندیشه های زردشت ،بودا ،کنفوسیوس،در یونان باستان و بعد در دین مبین اسلام در آراء ابن سینا،فارابی ،علامه اقبال و خوشحال ختک و سپس در مکتب های پراگماتیزم ،مارکسیزم و اگزیستانسیالیزم به کاوش و بررسی گرفته شده است .ازویژه گی های آن بررسی اختصاصی هومانیزم در جامعۀ افغانی و نفوذ آن در نهاد های دینی ،قومی ، طبی ،عدلی و قضایی در کشور و از طریق آن مزین ساختن افکار مردم کشور با اندیشه های هومانیستی و بشر دوستانه میباشد.چنانکه به نظر مؤلف رساله هومانیزم به مفهوم انساندوستی و اصالت بخشیدن به انسان و قرار دادن انسان در مرکز تأملات خویش،میباشد.به قول مؤلف به مشکل میتوان هومانیزم را مکتب ویژۀ مستقل خواند بلکه چنان طرز دید و جریان با نفوذی میباشد که در باختر زمین بر شمار زیادی از نظریات فلسفی، دینی ،اخلاقی ، ادبی وهنری ونیز بمثابۀ دیدگاه سیاسی،اقتصادی و اجتماعی پس از رنسا نس ریشه دوانیده است.مؤلف بر آنست که هرچندریشۀ هومانیزم بمثابۀ دیدگاه در تفکر انسانی دیرینۀ زیاد دارد،اما از اصطلاحات بمیان آمده در قرن نزدهم میباشد.بکار گیری این اصطلاح درادبیات دری یه عنوان انسان سالاری و در ادبیات پشتو به عنوان انسان پالنی گسترۀ وسیع دارد .ازویژه گی های آن در یونان باستان آیین آنتروپو مورفیسم و آمیختن تندیس ارباب الانواع با مظاهر فزیکی و معنوی انسانی میباشد . اینکه قرآن در سورۃالبقره انسان را خلیفۀ خدا در روی زمین میداند چه دیدگاهی میتواند به انسان ارزشی بالا تر ازاین دهد؟

چون نه تنها حکمت بلکه عرفان یونانی شادمان و آمیخته با خوشبینی نسبت به انسان بلکه همه مظاهر هستی بود ،روم علمبردار آن گردید ،عباسیان به برگردانی داشته های آن پرداختند.درین رساله آمده که انجمن فلسفی مطالعهٔ انسانی [1] به غرض تحقیق آثار یونان باستان به هدف رشد قدرت معنوی انسان ،در عصر رونسانس به میان آمد که سرآغاز هومانیزم جدید بشمار می آید. مؤلف نظریات هومانیستی پترارک(۱۳۰۴—۱۳۷۴م.) و بوکاچیوی(۱۳۱۳—۱۳۷۵م.)را بر ایراسم ،و ولـــــتر وفلسفهٔعقلگرایی (دکارت و اسپینوزا)و تجربه گرایی (لاک ،برکلی وهیوم )،بویژه اصل " فکر میکنم پس هستم." دکارت را نقطهٔعطف برای هومانیزم میداند. به نگارش مؤلف در عصر روشنگری توجه به انسان و حقوق و رفاه بشری در نظریات دالامبر ، کندرسه ،دیدرو و منتسکیو بازتاب یافت. مؤلف در فلسفه های شرقی اساسات افکار کنفوسیوس ،زردشت ،بودا ودر فلسفهٔیونان تعالیم ایلیایی،سوفسطایی، سقراط ،افلاطون و ارسطو،اپیکوریُان ، کلبیون ،رواقیان و متعاقباً احوال و افکار ابن سینا ، فارابی،علامه اقبال و خوشحال ختک را بمثابهٔبزرگترین مفکران حکمت اسلامی در زمینهٔ هومانیزم به بررسی گرفته است .

در رابطه به مفهوم هومانیزم از فرهنگ نشر نو ،فرهنگ واژه ها ،واژه نامهٔامیر نیک آیین و فرهنگ بلغاریایی و در رابطه به هومانیزم در اسلام از قرآن،صحیح بخاری،سنن ابو داؤد ، تاریخ ادیان و اشعار علامه اقبال و خوشحال ختک ،درین رساله استفاده بعمل آمده است.

برخی اغلاط هاردکاپی و موضوعات تخنیکی که حین مرور پیش نویس رساله به نظر رسید بصورت دوستانه جدا از آنچه نگاشته آمد با نگارندهٔ آن در میان نهاده شد .

بامزایا و ونقشی که در زمینهٔ هومانیزم و تحقیقات فلسفی و تأ ثیری که در رفع کمبودی همچوآثار در السنهٔ رسمی افغانستان محسوس میباشد ،زحمات چندین ساله و آفرینش این اثر علمی –تحقیقی را به دیدهٔ قدر و سپاس نگریسته برای رتبهٔ معاون سر محقق آن را مناسب دانسته و برای نویسندهٔ آن محترم سلطانی "منگل " از بارگاه خداوند متعال موفقیت های مزید آرزومینمایم .همچنان چاپ آن راعندالموقع پیشنهاد مینمایم .

باااحترام

معاون سر محقق عبدالبصیر " روانپرور "

---

۱ -- stadia Humanita

## تقریظ:

اثر علمی – تحقیقی تحت عنوان (هومانیزم دشرقي او غربي فلاسفه و له نظره) که محقق محترم سلطاني منگل تحت نظر معاون سرمحقق میرزامحمد (لودي)به رشته تحریر در اورده وذریـــعه مـــکتوب $\frac{۹۰}{۹۲}$ مورخ ۱۳۹۰\۱۱\۳۰ جهت ارایه تقریظ به اینجانب محول گردیده بود ، بجواب چنین مینگارم :

اثر متذکره دارای پنج فصل بوده ، فصل اول مرور به گذشته موضوع اختصاص یافته ، در فصل دوم محقق توانسته ، روی معنی ومفهوم هومانیزم تحقیقات خود را به اتمام برساند . فصل سوم هومانیزم از نظر فلاسفه شرق باستان همچنان از نظر فلاسفه اسلام وسایر ادیان چون زردشت ، بودا .... به پژوهش گرفته شده است . محترم سلطانی منگل در فصل چهارم هومانیزم را از نظر مکاتب فلسفي شرق وغرب با ارائه نظریات (ابونصر فارابي ، علامه اقبال لاهوری ، ابن سینا ) ودیگران به بررسی گرفته ، و در غرب روی مکاتب فلسفي غرب به بحث نشسته ، و روی هر مسئله پرداخت مفصل نموده است .

در فصل پنجم محقق بطور اخص روی تاثیرات هومانیزم شرق وغرب بالای افغانستان مکث نموده ، و در اخیر ضمن معرفی آثار استفاده شده درکار تحقیق ، نتیجه گیری نیز نموده وبا ارائیه پشنهادات مشخص به مراجع زیربط سخنان خود را با پایان رسانیده است .

از آنجائیکه محترم محقق سلطانی منگل نظر به توان در نوشتن این اثر که کاملاً موضوع در خور اهمیت است ویکی از ناب ترین مسایل به شمار می رود ، سعی وتوان فراوان به خرچ داده ، و از منابع خوب علمي استفاده نموده است در صورتیکه سایر شروط دفاع را مکمل نموده باشد ، اینجانب اثر نوشته شده را برای

ترفیع علمی معاون سرمحقق برایش بسنده می دانم وبرای محقق محترم موفقیت های بی پایان درخصوص تحقیق وسایر عرصهٔ های زنده گی خواهانم .

بااحترام

معاون سرمحقق عبدالجبار (عابد)

امر انستیتوت فلسفه وجامعه شناسی

# سریزه

هومانیزم (humanism) هغه اصطلاح ده چې د رنسانس د دورې یو له ځرګندو او د نفوذ څخه ډکو اړخونو څخه دی، چې د لرغوني یونان متونو ته په پام سره انسان د خپلو تاملاتو په مرکز کې ګرځوي. دغه طرز دید یا فلسفه چې خپل ډیر پام یې یوازې د منځنیو پیړیو او کلیسا یي نفوذ په دوران کې د حاکم وضعیت څخه و تیښتې، ته اړولی و.

د هومانیزم اصطلاح چې د انسان پالنې یا د انسان اصالت او انسان دوستۍ په مانا ده، داسې طرز دید او یا فلسفې ته ویل کیږي. چې انسان ته د خپلو تاملاتو په مرکز کې قرار ورکوي او هم د انسان ودې او غوړیدو ته اصالت ورکوي.

دا چې دغه طرز دید او فکر څه وخت رامنځته شو؟ د هغه تاریخي پس منظر او ستنه چیرته؟ او کوم وخت د یوه منظم او سیستماتیک طرز تفکر په بڼه رامنځته شوه؟ په دې څیړنه کې به دا ثابته کړم، چې دغه طرز تفکر یو ځانګړی مکتب دی، لکه نورو فلسفي مکتبونو په شان د رنسانس څخه را وروسته په لویدیځ کې په ډیر شمیر فلسفي، دیني، اخلاقي، ادبي، هنري او هم په سیاسي. اقتصادي او ټولنیز و لید تو کو کې یې ریښې

ځغلولي دي. کـه څـه هـم دهومـانیزم دطرز تفکـر ریښې پـه انـساني تفکـر کـې ډیـر لرغونتوب لري، خو دنولسمې پیړۍ درامنځته شویو اصطلاحاتو څخه ده. دابه روښانه شي، چې ولې او پـه کومو شرایطو کې دغه اصطلاح پـه نولسمې م پیړۍ کې رامنځته شوه او پـه نوموړي وخت کې یې کومو څیزونو تـه اشاره کوله؟ او بیا پـه آلمان کې ولې رامنځته شوه هغه پیغام چې یې پـه سر کې لرلو هغه کوم و؟ او آیا پـه آلمان کې دهومانیزم داصطلاح د کارولو څخه مطلب انسان پالنه وه او کـه دلرغوني یونان او لاتین ادبیاتو دیـو شکل پـه زده کړې باندې تاکید کول وو؟ دابه پـه خپله څېړنه کې روښانه کړو، چې آیاد هومانیزم مفهوم درنسانس پر وخت کارول شوی او کـه نـه؟ نوموړی مفهوم درنسانس دغه مانا لرله، چې اوس یې لري؟ کـه چیرې هومانیزم پـه رنسانس کې پـه هغه مفهوم چې اوس کارول کیږي، نه کارول کیدلو، نو پـه کوم مفهوم باندې یې اطلاق کیدلو؟ همدارنګه هومانیزم برسیره پر نوموړې مانا، نورې اصطلاحي ماناوې هم لرلې او کـه نـه؟ دهومانیزم طرز تفکر پـه کومو نورو فلسفي مکتبونو کې راڅرګند او پیدا شو؟

بالاخره پـه دغه اثر کې ددغه فلسفي، ادبي او فرهنګي طرز تفکر وضع پـه ختیځ کې څنګه ده؟ دغه غور ځنګ چې پـه لویدیځ کې دهغو دوو بهیرونو څخه راپیدا شوی دی، پـه ختیځ کې یې کوم رنګ لرلو او کوم ګرایشونه یې لرل؟ پـه لویدیځ کې نوموړي ګرایشونه کوم وو؟

پـه دغه اثر کې هڅه شوې چې دا ډول پوښتنو تـه ځواب وویـل شي. البتـه دا بایـد لـه یـاده ونـه باسو، چې زما د څېړنې میتود مقایسوي روش دی، چې د دا ډول طرز تفکر حالت پـه مقایسوي ډول پـه لویدیځ او ختیځ کې سره پرتله کړو، کوم توپیرونه او ورتـه والی چې دغه هومانیستي طرز تفکر یې پـه دغو دوو بیلو ټولنیزو او فرهنګي چاپیریالونو کې لرلو. هغه به راوڅېړو. همدارنګه دا ډول طرز تفکر چې انسان تـه د خپلې توجه پـه محراق کې ځای ورکوي. د رنسانس څخه را پـه دې خوا

د ختيځو خلکو په ژوند او تمدن کې په ډول ډول مقولو کې د زیاتو بدلونو او اوښتونو سرچینه ګرځیدلې، همدغه موضوع په ښه تفصیل سره بیان شوې ده.

په لویدیځ کې دغه بهیر په فرد پالنې او ټول پالنې په دوو بڼو راڅرګند شو. په ختیځ کې ددې بهیر د حرکت لوری په کومو بڼو کې و او کومې بڼې یې غوره کړې دي؟

په لویدیځ او ختیځ کې دا بهیر په تاریخي ډول را پیل شوی او په لویدیځ کې د لرغوني یونان څخه را پیل او تر معاصرو دورو پورې څېړل شوی دی. په لرغوني یونان کې د هومانیزم نظریات د کومو عیني شرایطو په پایله کې رامنځته شوی و؟ له بلې خوا په یونان کې هرڅه انساني صفات او خویونه لرلي، دغه انساني خویونه او صفات د ژوند په ټولو اړخونو کې څرګندوو. په نوموړي دوران کې انساني حیثیت او فردي خپلواکۍ ته څومره ارزښت ورکول کیده؟ او کله چې دا ډول نظریات او افکار و روم ته لیږدیږي، هلته څرنګه بڼه غوره کوي؟

همدارنګه همدغه لیدتوکو په منځنیو پیړیو کې څرنګه وضعیت لرلو او د کلیسایي نظریاتو په چوکاټ کې د دا ډول نظریاتو شتون ممکن و؟ کله چې په خپله په کلیسایي افکارو کې د ریفورم تر نامه لاندې بدلونونه رامنځته کیږي، دبیا راژوندي کیدو شرایط او ډول یې څرنګه و. چې د هغو ټولو بدلونو په پایله کې د رنسانس له نفوذ څخه ډک اړخ او څرګندو ځانګو څخه ګټل کیدلو. د کلیسایي افکارو څخه تیښته او د هغو نظام پر هدف د منظمو فلسفي او علمي نظریاتو په طرحه کې یې چندان تشویش نه کولو او ټولو هغو نظریاتو ته یې زیات هرکلی ویلو، چې د منځنیو پیړیو نظریاتو او کلیسایي نفوذ څخه د خلاصون په خاطر له هغو سره تقابل او مخالفت کولو. هغوی د انسان اختیار او آزادي ته څومره ارزښت ورکولو، همدارنګه نور موضوعات لکه په اخلاقي ژوند کې د لذت ځای او نورو انساني موضوعاتو سره مینه لرله.

د کومو لاملونو له کبله دغه غورځنګ د شپاړسمې پیړۍ په وروستیو کې د یوه غورځنګ په توګه مخ په زوال شو او کوم آثار او نفوذ چې یې په را وروسته کې تر اوسه پورې په لویدیځ تمدن کې پرې ایښي دي، هغه په روښانه توګه راسپړل شوي دي او په را وروسته معاصرو فلسفي جریانونو کې د نوموړو افکارو اغیزې څېړل شوي دي.

په ختیځ کې ددغه غورځنګ بهیر په کومو لورو حرکت کړی او په بیلا بیلو ټولنو کې یې کوم رنګ اخیستی دی. سره ددې چې د هومانیزم د ماناوو لمن ډیره پراخه او تمایلات یې زیات وو. په ختیځ کې یې څرنګه تاویل او تفسیر کیدلو، آیا یوازې دیني رنګ یې لرلو او د انساني تفکر په ټول تاریخ کې هومانیزم یو ډول و او که ډیر ډولونه یې لرل. ددغو ډولونو څیړنه په بیلابیلو کلتوري حوزو کې څیړل ددغه اثر کار دی.

په لنډه توګه دهومانیزم اصطلاح دفلسفې دیپارتمنت په پلان کې شامل و او زما دپاره دزیاتې علاقې وړ موضوع وه، نو ځکه مې دلارښود استاد په مشوره پلان جوړ کړه، چې سریزه، پنځه څپرکي، پایله، وړاندیزونه او اخځلیکونه په کې ځای پر ځای شول.

په لومړي څپرکې کې دڅیړنې پس منظر په دویم څپرکي کې دهومانیزم معنا، مفهوم، وده او اهمیت راغلی دی، په دریم څپرکي کې دهیومانیزم فلسفه دځینو فلاسفه و له نظره راغلې په څلورم څپرکي کې دلویدیځ او ختیځ دبېلابېلو فلسفي مکتبونو له نظره دهومانیزم فلسفي بنسټونه راغلي او په پنځم څپرکي کې د ختیځ او لویدیځ دهیومانیستي نظریو تاثیرات په افغاني ټولنه باندې څیړل شوي دي او په اخیر کې په عمومي پایلې بښودل شوي او ځانګړي وړاندیزونه ایرایه شوي دي.

په پای کې باید یادونه وکړم چې ددې اثر په ترتیب . تنظیم او کښلو کې زما لارښود استاد ښاغلي میرزا محمد لودي زما سره هراړخیزه مرسته کړې . چې په خپل وار ترې مننه کوم . همدرانګه دډاکټر شیر علي ظریفي څخه هم ځانګړې مننه کوم چې دځینو ایتونو . احادیثو او عربي مفاهیمو په ژباړه کې یې راسره مرسته کړې ده او د ښاغلي رحمت الله هوتک څخه هم مننه کوم . چې زما سره یې د اثر په کمپوز کې مرسته وکړه . همدارنګه د پښتو څېړنو دنړیوال مرکز د علمي غړي ښاغلي څېړندوی عبدالظاهر شکیب څخه مننه کوم . چې د اثر په سمون او ډیزاین کې یې راسره مرسته کړې ده . د ټولو دې کور ودان وي .

په ادبي مینه

څېړندوی سلطاني منګل

# لومړی څپرکی

# دموضوع شالیدته کتنه

د هومانیزم حرکت د تاریخي او ټولنیز واقعیت په توګه د بشري نوي تمدن لاسته راوړنه ده، چې د څوارلسمې میلادي پېړۍ څخه نیولې بیا تر (۱۸) میلادي پېړۍ پورې د بورژوازۍ د ودې او منځنۍ طبقې د عقلاني او انساني ارزښتونو د پرمختګ پراساس رامنځته شو او نوموړې پدیده دجهان شموله پدیدې په توګه بدله شوې ده، خوښکاره ده چې داشمولیت او پراختیا په ټولو هېوادونو او ټولنو کې یوشانته نه دی، له بلې خوا تاریخي او ټولنیز واقعیتونه دا ثابتوي، چې په لویدیځ کې دا فکري جریان ډېر قوي، ولې په ختیځ کې دهومانیزم حرکت پر دیني او عاطفي احساساتو ولاړ و. په لویدیځ کې هومانیزم ډېر پرمختللی و، چې د ټولو پراخو پر ګنو غوړونو ته ورسیده. په ختیځ او لویدیځ کې د هومانیزم په ځانګړې توګه په افغانستان کې د هومانیزم د جریان د پیژندنې یوه لاره دا ده، چې لومړی تر ټولو هومانیزم په لویدیځ کې، د هومانیزم د جریان د پیداکېدو علتونه او د هغې ریښې، ټولنیز تاریخي شرایط، فکري او فرهنګي فضا درک او وپیژنو، نو ددغې

موخې د ترلاسه کولو لپاره دا ضروري بريښي، چې د هغې شکلونه او کلي جريان د هرې ټولنې په ټولنيزو او اقتصادي مناسباتو کې کشف او رابرسيره کړو.

د هومانيزم مفکوره په داسې شرايطو کې رامنځته شوه، چې په اروپايي ټولنو کې فيوډاليزم مسلط و.

فيوډالي ټولنې چې اقتصادي - اجتماعي مضمون يې فيوډالي مناسبات دي، د مريي ټولنې د ړنګېدو څخه سر راپورته کړ. دغې دورې تقريبا سوونه کالونه دوام وکړ، چې د روم د سقوط (۴۷۶ میلادي کال) سره سمون لري، پيل کيږي. توماس اکينوس thomas von aquin، چې د منځنيو پيړيو دفلسفې ډېر نامتو نماينده دی، نوموړی په ۱۲۲۵م کال کې د ايټاليه په ناپيل ښار کې پيدا شوی او په ۱۲۷۴ م کال کې له دې دنيا څخه سترګې پټې کړې دي د نوموړي په عقيده، چې: ((بايد ايمان په ادراک مقدم وي او هغه څه چې کليسا وايي، بې له دې چې په هغه باندې فکر وشي، د منلو وړ او حقيقت دي او په دې برخه کې د عقل او احساس څخه استفاده ونشي، لومړی بايد ايمان راوړل شي او وروسته له ايمان څخه عقل بايد ترلاسه شي.[1]))

په منځنيو پيړيو کې په علم او فلسفه باندې بنديزونه لګول شوي وو او ټول د کليسا په خدمت کې وو، چې هغه يې کفر او جادو ګڼل. په دې دوره کې انسان خپل ماهيت او ارزښت له لاسه ورکړی و.

کله چې په لويديځ کې د علم او فرهنګ لمر د ډوبېدو په حالت کې و، خو په ختيځ کې د علم، حکمت اوفرهنګ سپرغۍ هرې خواته خپرې شوې وې. په

[1] رابرت،سولومون اوکاتلين هيګنيزم، مترجم منوچهرشادان، تاريخ فلسفه جهان ،تهران، ۱۳۸۸ ، ص ۲۲۵ .

یوولسمې او دولسمې میلادي پېړیو کې خلکو ډېرې ښې دیني عقیدې درلودې، چې د علم او ټولنې د پرمختګ سره یې مرسته کوله او ډېر لوی ښارونه، تجارت او لوی تمدن رامنځته شوی و، ځکه لومړني آثار په شرقي هېوادونو کې را څرګند او د هومانیزم غورځنګ سره آشنا شول او د اسلامي فیلسوفانو اکثره آثار یې وژباړل، لویدیځوال پوهان د دغو آثارو څخه زیات اغیزمن شول.

د لویدیځ پوهان د دین د اصلاح په فکر کې شول، چې دغه غورځنګ ته د (دین د سمولو) نوم کیږدي، چې د مارتین لوتر جرمني فیلسوف (۱۴۸۳–۱۵۴۶م) له خوا یې لاښوونه کیدله. په واقعیت کې په لویدیځ کې د انسان پالنې (هومانیزم) نظریات پر دیني طرزدید باندې برلاسی شو او په لویدیځ کې د (انساني دین) په نامه ادیان مطرح شول، چې د دې ډول تفکر له ډلې څخه کولای شو، چې د اګوست کنت (۱۷۹۸ – ۱۸۵۸ م) د (انسانیت مذهب) نوم واخلو، چې په بشري مذهب باندې باور یې لرلو او هغه د ټولنې اصلاح لپاره وو.

د دغو هومانستانو د مفکورو او نظریاتو د اغیزو په هکله باید ووایم، چې د رنسانس څخه وروسته ډېر شمیر فلسفي مکتوبونه د یو ډول هومانیستي طرزدید تر اغیز لاندې راغلې وې. د رنسانس د دورې هومانیستي فلسفې هومانیزم نه و، خو په نوې دوره کې د ځینو فلاسفه و په راڅرګندیدو سره لکه د کارت، اسپینوزا، لاک، بارکلي، هیوم... او د دوو عمده فلسفي جریانونو رواجیدلو یعني د عقل پالنې او تجربې پالنې جریانات په تدریجي ډول سره خپل فلسفي مفاهیم یې بیا موندل. په عقل پالنې فلسفو کې که چېرې خبره د عقل د اصالت څخه رامنځته کیږي، په تجربه پاله فلسفو کې چې د حس او تجربې (من) کې پلټي. دا د کارت مشهور اصل یعني (چې فکر کوم، نویم) د (فکر کوونکی من) په چوکاټ کې انسان ته یې محوریت ورکولو او د هومانیزم د فلسفې د پیل ټکی و.

د پوهې د پیژندلو په اړه ځیني متفکرانو او فیلسوفانو د معرفت پر عقلي عنصر باندې ټینګار کولو او یو شمیر نورو بیا د حس پر عنصر باندې ټینګار کولو.

په رنسانس کې په همدې دوره کې پوهنې د کلیسا د جمود څخه بغاوت پیل کړ. بورژوازي چې بې له پوهې څخه یې شته والی نشو لرلای، چار ناچار دوی ددې بغاوت له مخې په اروپا کې رنسانس پیل کړ.

## رنسانس ( Renaissance):

رنسانس د بیا ژوندي کېدو په معنا ده یعني د هومانیزم دانسان د اصالت په برخه کې دانسان پام اړول او تعمیمول پیل شول . اوس چې ټول علمي نظریات د منځنیو پیړیو له بند او قید څخه خلاص شوي، نور نو ټول پوهان او فیلسوفان کولای شي د خپلو لاسته راوړنو، عقایدو او نظریاتو په اړه خپله انسان د نړۍ او انسان په هکله او د ټولنیزو پیښو په اړه فکر وکړي او ډېر کم به د نورو موضوعاتو په اړه خبرې وکړي. د همدغه جریان په پایله کې و، چې دلومړي ځل لپاره د هومانیزم اصطلاح د سیسرون (sisron)له خوا وکارول شوه، سیسرون د روم نامتو عالم او ویاند د۱۰٦ ق م کال کې زیږدلی دی وایي چې (( دولت دخلکو ملکیت او په خلکو اړه لري ))[1] دی په دې عقیده دی چې چې انسان طبیعتاً ټولنیز موجود دی او یوازې والي ته میل نه لري .[2] سیسرون دهغې ټولنې په اړه خبرې کوي ، چې دانسانانو ګټې مشترکې ، پر عدالت ولاړې او دخلکو په خیر وي ، ځکه دی دولت (کامنویلت) یعنې

[1] بصیر کامجو ، تاریخ نظریات فلسفي ، محل چاپ نګاه انتشارات میوند ، کابل ، ۱۳۸۱ل کا ل ، ص ۱۶۲ .

[2] همدغه اثر ، همدغه مخ.

مشترک المنافع بولي ، نوموړی دقانون په اړه عقیده لري چې دانسان دفکر څخه زیږېدلې موضوعه مقررات آسماني او طبعي حقوق نه دي او هغه ته باید قانون ونه ویل شي ، ځکه چې قانون تغییر نه کوونکی او تل ترتله شی دی . په طبعي او اسماني قوانینو کې عقل او هوښیاري موجود دي او پر ټولو کایناتو حکومت چلوي او دوه ډوله عملونه اجراء کوي ، چې یو یې ښو ته امر او دویم یې دبدو څخه منع کول دي . یعنې (امر بالمعروف او نهی عن المنکر)

اسماني طبعي قوانین موږ ته لارښوونه کوي ، چې کومې چارې اجراء کاندو او کومې چارې ونه کړو ، دنوموړو قوانینو مثبتې خواوې (امر) او منفي خواوې یې (نهې) دي .

او بیا وروسته دالمان له خوا نوموړې (Humanism) اصطلاح په نوم وکارول شوه او بیا د هغه وروسته د یوه منظم او سیستماتیک فلسفي او سیاسي جریان په توګه دانسان پالنې دنظریاتو دخپرولو په حیث یې په کار پیل وکړ.

دغه هومانیستي جریان اوږد تاریخ لري او دغه اوږده بهیر څېړنه ډېر زیات کار او ربړ ته اړتیا لري او زیات شمیر آثار باید ولوستل شي، ترڅو د دغو نظریاتو په هکله کره اوسم معلومات ترلاسه شي.

ما هم په خپل وار د دغه اثر دلیکلو لپاره دیو شمیر آثارو څخه ګټه اخیستې ده ، چې د هغو یادول ضروري کار راته ښکاري. دلته دغه آثاردوه ډوله دي ، یو شمیر هغه آثار دي ، چې زما دپروژې په بشپړتیا کې د اصلي آثارو په توګه رول لري او بل شمیر هغه آثار دي چې ثانوي رول لري، نو لومړی به هغه آثار را واخلو، چې هغه اصلي اثار دي او زما په پروژه کې ترې کار اخیستل شوی دی.

۱ – قرآن کریم : ۱۵ سپاره، اسرا سوره، ۷۰ نمبر آیت، بني اسرائیل، او د قرآن کریم نور آیتونه دانسان دنیکو، ښو اخلاقو، ښو اړیکو، ښومناسباتو په اړه تاکید کوي، د

ظلم، تیري، تجاوز، غلا او نورو منفي پدیلو په اړه زیات دنه کولو ټینګاریې کړی دی. انسان اشرف المخلوقات ګڼي او د ځمکې خلیفه یې ګڼلی دی او دانسان مقام ته په ډېرلوړ ارزښت قایل دی.

۲- ابوداوود: سلیمان بن اثعث السجستاني دارالکتاب العربي په لبنان بیروت کې په څلورو ټوکونوکې په ۱۳۸۵هـ کال کې چاپ شوی دی، چې دانسان داخلاقو دانسان د اړیکو، دانسان د مقام او ارزښت په اړه زیات مطالب په کې راغلي دي، چې د انسانیت، بشریت اوهومانیزم لپاره دهغه مطالعه ډېره اړینه اوحتمي ده او انسان یې د اسلامي مفکورې له مخې مطالعه کړی دی.

۳- آریانا دایرة المعارف: لومړی دور، لومړی ټوک، د کابل مطبعې له خوا په ۱۳۲۹ کې چاپ شوی دی.

۴- آریانا دایرة المعارف: دوهم دور، د افغانستان دعلوموا کاډمي له خوا په کابل کې ۱۳۸۶ کال کې چاپ شوی. دغه اثر د نورو موضوعاتو په څنګ کې د انسان او انسان پوهنې په اړه ښه کره معلومات وړاندې کوي. لوستل یې ګټور دي.

۵- تاریخ فلسفه شرق وغرب: لومړی ټوک، دغه اثر د راداکریشنان په زیار په دوو ټوکونوکې لیکل شوی او د خسرو جهانداري لخوا ژباړل شوی اوپه ایران کې په ۱۳۸۲ هـ ش کال د ایران دفرهنګي اوعلمي شرکت په مرسته چاپ شوی دی. نوموړی اثرپه پنځه ویشتو فصلونو کې تدوین شوی دی. ددې اثرپه نهم څپرکی کې د بوډا د هومانیستي، انساني، بشري، اخلاقي قصې متن لیکل شوی اود بوډا دڅلورو منظروقصبه مشهوره قصه ده، چې ده څلورداسې ننداره ولیدې، چې دده په روح اوضمیرېې زیاته اغیزه وکړه اود دنیا څخه یې زړه تورشو. بودا په خپلوافکارو او نظریاتوکې د انسان سره د رحم اوترحم احساسات څرګند کړل.

بوډا په لاره کې یوه ورځ سپین بږیری ولید، چې په ملا کړوپ شوی و او خپل ګاډیوان ته یې وویل: داڅه شی دي؟

هغه ورته وویل: دا سپین بږیری دژوند وروستۍ ورځې شپې تیروي، بوډا په دې پوه شو، چې دځوانۍ څخه وروسته زړتیا شته.

بله ورځ یې یوناجوړه ولید، چې له درده څخه زیات په عذاب دی، بودا په دې پوه شو، چې د روغتیا وروسته کمزوري او ناروغي راتلونکې ده. بله ورځ یې جنازه پرلاره ولیده، بوډا په دې پوه شو، چې دژوند پای مړینه ده.

د همدې اثر په یوویشتم څپرکي کې د کنفوسیوس، هومانیزم او د ده فلسفي مفکورې، چې دانسانانو د ټولنیزو اړیکو په اړه یې مفکورې څرګندې کړې دي، چې دانسانانو ترمنځ دانساني ټولنې لپاره د ټولنیزو اړیکو په ټینګولو کې اساسي رول لوبوي اوخپلې نظریې یې داسې څرګندې کړې دي، چې دټولنیزو اړیکو لپاره ځانګړې دندې اومسؤلیتونه دخلکو پر وړاندې په عملي توګه اجرا کړي. ده دا اړیکې د پلاراو زوی، دحاکم او رعیت، د مېړه اوښځې، د مشرانو او کشرانو وروڼو، د دوستانو او دوستانو ترمنځ اړیکې، چې دا ټولې متقابلې اړیکې دي او مکلفیتونه د ټولنې د ګړو پروړاندې په عمل کې ترسره کړي.

۶- تاریخ فلسفه شرق وغرب: دوهم ټوک، دغه اثر هم راداکریشنان لیکلی دی، چې جواد یوسفیان ژباړلی او د فرهنګي علمي موسسې لخوا په ۱۳۸۲ کال په تهران کې چاپ شوی دی. ددغه اثر څخه ما د خپلې پروژې په تکمیل او بشپړتیا کې پوره ګټه اخیستې ده.

نوموړی اثر ۲۴ فصلونه لري، چې ما ددې اثر د زیاتو فصلونو څخه، نوموړی اثر چې د لرغوني یونان دفیلسوفانوهومانیستي نظریې، د منځنیو پېړیو فیلسوفانو عقاید، اسلامي فیلسوفانولکه ابن سینا، فارابي، ابن رشد او نورو اسلامي پوهانو، د

توماس اکویناس او د منځنیو پېړیو مدرسي حاکمانو نظریات او په همدې ډول په نوي عصر کې د رنه دکارت، اسپینوزا، لایب نیتس بیکن، هابز، لاک، برکلي اوهیوم. . .نظریات او د اوسني بورژوازي فلسفي نظریات د هومانیزم په اړه د ویلیام جیمز، هانري برگسون، شیللر، ژان پل سارتر او نورو لخوا وړاندې شوي او انسان ته په لوړ مقام او ارزښت قایل شوي او انسان یې د بېلابېلو اړخونو له امله څېړلی او انسان ته د یوه محوري پدیدې په سترگه گوري، ور څخه مې گټه اخیستې ده. دوی انسان د ټولو شیانو د پېژندنې معیار او میزان گڼلی دی. دوی په ټولنیز نظم ډېر ټینگار کولو، ځکه چې انسان د ټولو ژویو څخه برتري لري، یعني عقل او شعور لري او د ښو او بدو ترمنځ توپیر کولی شي. دوی د طبیعي قوانینوسره باید ځان عیار کړي او د ټولنې د رهبري او ادارې لپاره انسان د ټولنیزو قوانینو څخه کار اخلي چې ددغه اثر لوستل د نورو موضوعاتو په څنگ کې د هومانیستي افکارو د څېړلو لپاره ډېر ښه او گټور اثر دی. لیکنه یې تحلیلي او انتقادي ده او ژور څېړنیز روش لري.

۷- تاریخ فلسفه درجهان: چې د رابرت سولومون او کاتلین هیگینز لیکلی او منوچهرشادان لخوا ژباړل شوی، نوموړی کتاب څلور فصله لري او هرڅپرکی یې زما د پروژې داستفادې وړ گرځیدلی، په ۱۳۸۸ کال کې د بهجت د نشراتي مؤسسې لخوا چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د لرغوني یونان فیلسوفانو د هومانیزم په اړه نظریات، د هومانیزم په اړه د اسلام عقاید، د هومانیزم په اند د نوې فلسفې او د نوي عصر د روشنفکرانو مفکورې، د نوي مدرنیزم په اړه معلومات لیکل شوي دي. په دې کتاب کې په ډېره روښانه توگه د هومانیزم ، (انسان دوستي) عقاید او نظریات وړاندې شوي او انسان یې د هرډول تیري او تجاوز څخه خوندي گڼلی دی. دی یې د

ټولنې ډېر فعال غړی بللی دی. په دې اثر کې د انسان کرامت، د انسان اختیار او آزادي او نور مسایل ډیر ښه څېړل شوي دي.

۸- تاریخ فلسفه اسلامي: دغه اثرهانري کوربن لیکلی او د جواد طباطبایي لخوا ژباړل شوی او په تهران کې د کویزد فرانسې او ایران پیژندنې دانجمن په وسیله په ۱۳۷۳ هـ ش کال کې چاپ شوی دی. نوموړی کتاب درې فصلونه او ۳۱۵ مخونه لري. په دې اثر کې د اسلامي فیلسوفانو لکه فارابي، ابن سینا، ابن رشد او ابن خلدون هومانیستي نظریات د اسلام له نظره څېړل شوي دي. فارابي د افلاطون په شان د آرماني ټولنې، چې اصلي موخه یې د اسلامي ټولنې د جوړیدو څخه عبارت ده، څېړلې او د اسلامي ټولنې د هومانیزم نمایندګي کوي. دغه اثر پخپل وار د بشرپالو نظریاتو د څېړنو لپاره ګټور اثر بولم.

۹- په فلسفه کې تل پاتې پیښې: دغه اثر د هنري توماس او دانالي توماس لیکلی او د نصیراحمد (احمدي) لخوا ژباړل شوی دی. په دې اثر کې د غرب فلسفه په تیره بیا د لرغوني یونان فلاسفه د غرب معاصر فلسفي هومانیستي نظریات پکې څېړلي او تشریح کړي دي او د هومانیزم اصطلاح یې په فلسفي چوکاټ کې تشریح کړي دي. ځینې نور آثار هم شته، چې د موضوع په اړه یې نیغ او غیر مستقیمه توګه معلومات وړاندې کوي، چې د دغو آثارو لیدل او مطالعه کول هم ګټور دي.

۱۰- تاریخ ادیان جهان: د عبدالعظیم رضایي لخوا د ایران د تهران د علمي او فرهنګي په واسطه په ۱۳۸۷ کال چاپ شوی دی او (تاریخ ادیان) د عبدالله آباداني مبلغي د حرد انتشاراتو په واسطه په ۱۹۷۶ کال په تهران کې چاپ شوی، چې د نړۍ نامتو او مشهور ادیان یې تشریح کړي او د هومانیزم په اړه یې ښه او په زړه پورې معلومات او په ترڅ کې یې په نوموړو ادیانو کې د هومانیستي افکارو څرک لټولی،

کوم هغه نظريات چې په ديني چوکاټ کې بشرپال نظريات دي، هغه مې راخيستي دي، لوستل يې د ګټې څخه تش نه دي اوهومانيزم د مسيحيت او اسلام له نظره تاييد او قبول شوی دی، چې موږ به دلته يوازې دهغو آثارو نومونه واخلو چې ما دخپلې پروژې په بشپړولو کې ترې کار اخيستی دی.

۱۱ - تاريخ نظريات فلسفي: دبصير کامجو ليکنه او د کابل دميوند دنشراتو لخوا په ۱۳۸۱ کال کې چاپ شوی دی.

۱۲ - مکتب های فلسفي بل اثر دی: چې دمهرداد، مهرين لخوا په تهران کې چاپ شوی او د چاپ کال يې نامعلوم دی او هومانيزم دبيلابيلو مکتبونو له نظره تشريح کړي چې زماد پروژې په بشپړتيا کې يې زياته ونډه اخيستې ده او هومانيزم يې دانساني اړيکو لپاره ډيره مهمه پايه ګڼلې ده.

۱۳ - د جبراو اختيار ډيالکتيک: دسيد بهاوالدين مجروح ليکنه ده او يو فلسفي اثردی دوهم چاپ او د کابل د پوهنتون دبشري علومود څانګې لخوا په ۱۳۵۳ کال کې چاپ شوی دی.

۱۴ - خوشحال خان خټک او دده ادبي مکتب: دعارف عثمان ليکنه او د افغانستان دعلومو اکاډمي د پښتو څېړنو نړيوال مرکز لخوا په ۱۳۶۱ هـ ش کال په کابل کې چاپ شوی دی. د هومانيزم په اړه د خوشحال خان خټک په غزلياتو، قصيدو، شعرونو، داستانونو او قطعاتو کې د انسان پالنې افکاراو نظريات په مستقيمه او غير مستقيمه توګه وجود لري او همدارنګه ده د خوشحال خټک په اخلاقي نظرياتو کې هم هومانيستي نظريات دحقيقي انسانيت يعني پاک اخلاقيات او د انسان ښکلي نظريات د شاعر په استيتکي افکارو کې ليدلی شو.

۱۵ - دلرغوني يونان د فلسفې لنډ تاريخ: د محمد ظاهر افق ليکنه او د افغانستان دعلوموا کاډمي له خوا په کابل کې په ۱۳۶۸ کال کې چاپ شوی دی.

۱۶- تاریخ فلسفه: د ویل دورانت لیکنه دعباس زریاب لخوا ژباړل شوی او په تهران کې د علمي او فرهنګي انتشاراتو لخوا په ۱۳۷۱ کال کې چاپ شوی دی.

له پورته آثارو پرته ما ددې پروژې په بشپړولو کې دځینو نورو معتبرو آثارو څخه هم ګټه اخیستې ده ، چې په پای کې مې دماخذونو په فهرست کې معرفي کړي دي.

# دوهم څپرکی

# دهومانیزم مانا، مفهوم او وده

## الف- دهومانیزم مانا اومفهوم:

هومانیزم (HOMANISM) لاتیني کلمه ده او دهومانیزم مانا انسان پالنه، دبشر داصالت مذهب، هومان: انسان دوست، دهمنوعې دوست، بشر دوست نوع پرور همدا ډول هوماني مانا انسانیت، مروت، شفقت، انساني صفات، همدغسې هومانان یعني انسان دوستان، بشردوستان، خیرخواه باندې دلالت کوي.[1]

دهومانیزم اصطلاح په پښتوژبه کې دانسان دوستي، انسان پالنې او د انساني اصالت مکتب له کلماتوسره په معادلت کې کاروي. خوپه اصطلاحي لحاظ: (هومانیزم هغه طرزدید یا فلسفه ده، چې انسان ته دخپلو تاملاتو په

[1] محمدرضا، جعفري، فرهنګ نشرنو، انګلیسي-فارسي، تهران، ۱۳۸۲ ش کال، ص ۳۱۳.

مرکزکې ځای ورکوي او د ټولو شیانو محوریې ګرځوي او د انسان اصالت ، ودې او غوړیدو ته ښه مناسب شرایط برابروي). [۱]

هومانیزم یوستونزمن مفهوم دی ، یوه داسې پېښه ده ، چې دانسان دعقل او انسانیت پرنسیپ متکي ده او دژوند ټول اخلاقي ارزښتونه په تجربه بنا او ولاړ بولي .

دهومانیستانو په عقیده او باور ، داخلاقي اصولو برابرول ، بشري تجربې او عقلاني فکر دمعرفت دلاسته راوړلو ، یوازینۍ منبع ګڼل کیږي . هومانیزم دداسې انساني ټولنې ښکارندوی دی ، چې په انساني ارزښت او طبعیت بنا او دعقل او خپلواکو پوهنتنو په رڼاکې دبشري وړتیاله مخې انسان دا حق لري ، چې خپل ژوند ته ښه او مفهوم وروبخښي . چې کولای شو هومانیزم دیوه ځانګړي او خپلواک مکتب لکه دنورو فلسفي مکتبونو په څیر وګڼو، خو هومانیزم یو طرزدید دی، چې د فلسفي، دیني، اخلاقي، ادبي، هنري ارادو او نظریاتو مجموعې څخه عبارت ده ، چې په زیات شمیر هیوادو کې نفوذ او پیروان لري.

هیومانیزم په دغې ځانګړې معنا سره درنسانس په زمانه کې پریوه ځانګړي جریان اطلاقیږي ، چې دهغه اصلي اهتمام په لرغوني یونان کې دلرغونو اثارو څېړل ، په خاصه توګه دلغت پېژندل وو . ددغه فرهنګي غورځنګ او جریان موخه داوه چې دیوناني ، رومي لرغوني فرهنګ کلاسیکو متونو ته په پام سره دانسان داخلي قواوې راوسپړي او دانسانو پوهه لوړه او اخلاقي او دیني ژوند دکلیسا له قیمومیت څخه ازاد کړي.

---

[۱] پروفیسورمیخایل بچوف،فلسفي دیکشنري،صوفیه،پارتیزات، ۱۹۸۵ م کال ، ص ۶۷۶.

هومانیزم نه دیوه غورځنګ او فکري جریان په معنا ، بلکې دیوه فکري روحي حالت له یوې لارې څخه عبارت دی، چې د انسان شخصیت او د ده بشپړ ځلاندتوب په ټولوشیانوکې مقدم ګڼي اوهم دفکر کولوسره موافق عمل شمیري، نوکولای شو، چې دهومانیزم تعریف دبیلابیلوپوهانو او عالمانو له مخې وګورو، لکه چې عبدالرسول بیات دلغاتوپه فرهنګ کې داسې تعریف کړی چې : (په آګاهانه ډول فکر اوعمل کول او پر انساني حیثیت باندې ټینګار او اصیل انسانیت ته لاس رسی کول دي). [1]

هومانیزم په واقعیت کې همدغه مانا ده، چې دنوې نړۍ دبنسټ او تهداب څخه شمیرل کیږي اودرنسانس څخه را وروسته تر نن ورځې پورې په ډیرشمیرد فلسفوپه مکتبونو او افکارو کې یې وجود درلود. که څه هم دهغه راځر ګندیدل اواغیزه په ځینوفلسفو او سیاسي مکتبونوکې لکه پرګماتیزم، اګزیستا نسیالیزم، پرسونالیزم ، مارکسیزم او لبرالیزم ډیر زیات شته والی درلود.

هومانیزم چې په تاریخي لحاظ دHOMO دعام یا دجنس دنوم په توګه په اتلسمه میلادي پیړۍ کې دلاتیني هومو یا انسان دکلمې څخه رامنځ ته شوی دی . اصلاً دځمکني ژوندي موجود (انسان او حیوان) معنی لري او دا کلمه په زړه لاتیني ژبه د HOMO له رېښې څخه ګڼل کیږي . [2]

دهومانیزم اصطلاح په یوه لغت نامه کې داسې راغلې ده : ((دا دهغه فکري نظام ټولګه ده چې نوموړی نظام دماوراء الطبیعه قدرت څخه خالي

---

[1] عبدالرسول،بیات،فرهنګ و اژه ها،چاپ دوم، ۱۳۸۷ ناشر،موسسه اندیشه تهران و فرهنګ دینی،ص ۳۹.

[2] www.vikipedia.org

ګڼي او انسان دارزښتونو او اخلاقیاتو درلودونکی وي ، نو دا دانسان په مانا دی ، دهیومانیزم اصطلاح دلومړي ځل لپاره په روم کې د HOMO په معنا چې لاتیني کلمه ده (دانسانیت ) په معنا راغلې ده . او یا (انساني انسان) چې په منځنیو پیړیو کې دمذهبي مفکورو او نظریاتو پر وړاندې دنوي انسان دپاملرنې وړ وګرځي )) [1]

هومانیزم یو فلسفي او ادبي فکري غورځنګ دی چې په ۱۴مه او ۱۵مه م پیړیو کې په ایټالیا کې راپیدا شو او ډیر ژر داروپا نورو هیوادونو ته انتقال شو ، دلحه فلسفي فکري غورځنګ دفرهنګ دنویو لاملونو په نتیجه کې رامنځته شو ، چې دانسان مقام ته په ډېر زیات احترام قایل وو او انسان یې دټولو شیانو معیار او ترازو ګڼلو ، دهغو شیانو چې موجود وو او دهغو شیانو چې موجود نه وو .

لومړنیو هومانستانو عقیده درلوده چې دانسان هغه روحي او معنوي ژوند ، چې په کلاسیک عصر کې یې وجود درلود او په منځنیو پیړیو کې یې دلاسه ورکړی و ، بېرته بیا له سره په ایټالیا کې راژوندی کړي .

ایټالیا په ۱۴ او ۱۵ م پیړیو کې داروپایي هیوادونو څخه پرمختللی هیواد و ، چې په دغه هیواد کې سرمایداري ، صنایع ، لاسي صنایع ، بانکداري او تجارت رامنځته شوی ، همدارنګه دادبیاتو څخه نیولې د نقاشۍ او هنره پورې یې وده کړې وه ، په نویو شرایطو کې نور نو زاړه مدرسي افکار او نظریات هومانیستانو ته دقبلېدو وړ نه وو ، سرمایدارانو ، کسبګرو او بانکوالو دخپلو شخصي نوښتونو په نتیجه کې دهیومانستانو

---

[1] محمود موسايي ، مفهوم درست www.arwansoinfo,۲۰۰۸،۱۱،۲۶۱۵,html و واقعي هومانیزم .

سره هر اړخیزې مرستې کولې او دوی خپل پیوستون دهیومانستانو سره اعلان کړ ، هومانستان نور نو انسان ته دیو عاصي او گنهګار په توګه نه ګوري ، بلکې نوموړي تـه دیـوه قدرتمنـد ، نوښتګر او عقل لرونکـي موجـود پـه سترګه ګـوري ، چـې همدغـه فرهنګـي جریـان دهومـانیزم دراتللـو سـبب وګرځېدلو .

نو په دې توګه وېلای شو ، چې دهومانیزم کلمه درنسانس په زمانه کې نه وه کارول شوې ، خو دهومانیزم اصطلاح درنسانس پـه وخت کـې ددا ډول مفهوم پـه بشپړ ډول حضور درلود ، چې نن یې دهومانیزم پـه نامـه یـادوو ، درنسانس په دوره کې هومانیزم په یوه ځانګړې معنا سره هم کارول کېده پـه دې معنا چې دهومانیزم مفهوم درنسانس په وخت کې یو فرهنګي مفهوم بلل کېده ، چې دهغه اصلي دنده دلرغونو آثارو څېړنه ، په ځانګړې توګه لغت پېژندنه وه .

هومـانیزم پـه مـشکل سره کـولای شـو یـو ځـانګړی او خپلـواک مکتـب وبولو ، بلکې له یو داسې جریان او نفوذ څخه ډک طرز دید دی ، چې په غرب کې یې ډېر شمیر فلسفي ، دیني ، اخلاقي ، ادبي او هنري نظریـاتو او افکـارو او هم یې په سیاسي اقتصادي او ټولنیز طرز دید په توګـه لـه رنـسانس څخـه وروسته ریښې ځغلولي دي.

آمیرنیـکآئیـن پـه سیاسي فرهنـک کېداسې تعریـف کـړی ، چې:(هومـانیزم دهغوعقایـدومجموعي سیـستم تـه ویـل کیـږي، چې دهغې عمـده مشخصات انـسان

دوستي، دانسان دنيکمرغۍ اوسعادت علايق او دانسان دشخصيت عالي طبع کې احترام موجودوي).[1]

همدارنګه هومانيست په لاندې توګه په بلغاريې فلسفي ډکشنري کې تعريف شوی دی:

لومړی:

۱- هومانيست هغه څوک دی، چې انساني طبيعت اوانساني کارونه مطالعه کوي.

۲- نوموړی هغه څوک دی چې دبشري پوهنوپه باره کې څېړنه اومطالعه کوي.

۳- يوکلاسيکي عالم مطالعه کوي.

۴- درنسانس ددورې پوهان چې د لرغوني يونان او روم ثقافتونه يې څېړل او را ژوندي کول.[2]

**دويم** -دادبياتولارښود ليکي: (هومانيزم انساني عنصراو انساني علايق د مافوق الطبيعي عناصرو په مقابل کې ترکتنې لاندې نيسي، نوله همدې امله د انساني امورو زده کوونکي ته هومانيست وايي او هومانيزم د انسان په حيث انساني مطالعې ته وايي، البته دنژاد په ډول نه بلکې دانساني کلتور د لوړتيا په تيره بيا د لرغوني يونان ژوند، افکار، ژبه او ادبيات مطالعه کوي.

په ادبي تاريخ کې د هومانيزم اصطلاح درنسانس ددورې پرهغه نهضت باندې اطلاق کيږي، چې غوښتل يې لرغونی فرهنګ راژوندی کړي. د هومانيزم

[1] اميرنيك، أيين. واژه هاى سياسي-اجتماعى،چاپ حزب توده ايران-تهران، ۱۳۷۰،ص ۴۷.

[2] پروفيسور، ميخايل بچوف. فلسفي ډکشنري، صوفيه پارتيزاد، ۱۹۸۵، ص ۶۷۶.

حرکت په ځوارلسمه او پنځه لسمه پیړۍ کې په ایټالیا کې مینځ ته راغی او اصلي موخه یې دلرغوني ادب څېړنه وه.

کوم وخت چې دغه غورځنګ انګلستان ته لاره وموندله، نو په ناڅاپي توګه انګرېزانو ځانونه د یوناني ژبې، دینیاتو، سیاست او ادبیاتو مطالعې ته وقف کړل. هومانیست نور زیار ایستلو، چې لرغوني ثقافت له دین سره ګډ کړي، سیاسي موسسو ته دمافوق الطبیعي پرځای بشري رنګ ورکړي او د صلاحیت خاوندانو د حقوقو پرځای دهغو دندو ته زیات وزن ورکړي او داسې نور.

**دریم** – دنړۍ دادبیاتو قاموس کې داسې لیکل شوي :((هومانیزم دکلاسیک فکر او ادب رنسانس ته وایي)).[1]

دهومانیستي غورځنګ په اثر ډېر لرغوني آثار چې له نظره لوېدلي وو، ترڅېړنې او مطالعې لاندې راغلل او دیوناني او لاتیني ژبو زده کړې ته ځانګړې پاملرنه وشوه او هومانیستانو کوښښ کاوه، چې دلرغوني یونان او روم کلچر دماډل او نمونې په حیث تعقیب کړي.

برسیره پردې هومانیزم دمحمدولي مندوزي په اثر کې داسې تعریف شوی چې :(هومانیزم دبشریت په تفکر کې یو مترقي میلان دی، چې دانسان سره دزیاتې مینې په څرګندولو کې د ظلم ستم، تعصب، کینې او تنګ نظریو په مخالفت کې را ولاړیږي او انسان ته دنیک مرغه ژوند په ټاکلو کې په دغه اخلاقي او انساني اصل اتکا کوي او په نوموړي اثر کې د انسان اخلاقي اصل داسې بیانوي چې :(انسان باید جدي او کارغوښتونکی وي، خونه خښن،

[1] میخایل ، واچو اوف. فلسفي دیکشنري،دوهم چاپ ،صوفیه پارتیزاد،۱۹۸۵، ص ۶۷۷.

سخت ګيره وي خو نه ظالم، خيرغوښتونکی وي، نه بې اصوله، زړه سوانده وي، نه ضعيف النفسه).[۱]

هومانيزم په ۱۷ او ۱۸ مو ميلادي پيړيو کې بورژوازي نسبتاً دمترقي خصلت په درلودلو سره دفيوډالي اشرافيت پرضد ځيني هومانيستي حرکات پيل شول او دخپلو نظرياتو په وړاندې کيدلو سره راپاځيده اوددې دورې غوره هومانيستانو استازيو به ويل چې: هرانسان يواجتماعي موجود دی، چې دفطرت اوطبيعت له مخې آزاد پيدا شوی اومساوي حقوق لري او اجتماعي عدالت دمساوي حقوقو په ورکولو سره تامينيږي. نومختلفو فلسفي مکتبونو په ۱۹مه پيړۍ کې دوړې بورژوازي هومانيزم دتخنيکي سوسياليزم داړيکو په درلودلو سره، چې دنوي هومانيزم په رڼا کې دپانګوالي نظام پرنيمګړتياو اونواقصو نيوکې کولې، ميدان ته راووتل.

دوی په دې عقيده وو، چې انسان دخپل آزاداو سالم عقل په برکت دخپل برخليک په ټاکلو کې ولوړې ځوکې ته ځانونه رسولی شي، چې په دې اړه دکارت وايي: (فکرکوم، نويم).[۲]

ددکارت په نظرچې کله معتقد شوم، چې يم، بيامې فکروکړ، :(څه شی يم)هرشی چې ماته دباورسبب ګرځيده، هغه (فکر)و. په دې توګه چې (فکر)لرم، نويم، که مې (فکر)نه درلودلای، نوپرخپل وجودمې کوم دليل نه درلود، ځکه کله چې عقل يو شی روښانه او څرګند کړ، هغه حق دی. څرنګه چې

[۱] محمدولي،مندوزی،هومانيزم ،دعلوموا کاډمي،۱۳۶۸ ،الف مخ.

[۲] رابرت سولومون،کاتلين هيګنيز،ژباړن،منوچهرشادان،تاريخ فلسفه درجهان،تهران،۱۳۸۸، ص ۳۳۲.

خپل نفس مې څرګند او په روښانه توګه وپیژانده، دنفس پرموجودیت مې باور راغی. دامفکوره ددیکارت دشکي فلسفې ښکارندوی ده، چې په فلسفه کې ورته دشک میتود ویل کیږي.

دانسان دانسانیت(ماهیت) په اړه تراوسه پورې دنړۍ ډېروسترو پوهانونظریات وړاندې کړي، چې ارسطو (انسان یې یوسیاسي حیوان تعریفوي) سقراط ورته د(ځان پیژندونکي حیوان) ګرتسن د(متفکر حیوان) اوبنیامین (انسان آلات جوړوونکی) بللی دی.

دمارکس په قول: (دانسان ماهیت یومجرد امر نه دی، چې دګوښه یا منفرد انسان ځانګړنه وي، بلکې دانسان ماهیت دټولو ټولنیزو مناسباتو مجموعه ده)[1].

یعني انسان یې ټولنیز موجود ګڼلی دی، چې نوموړی خپلې اړتیاوې په یوازیتوب سره نشي پوره کولی، نوټولنې ته اړتیا پیداکوي چې هغه انسان ټولنیز مخلوق ګڼلی دی.

دانسان د(ماهیت، انسانیت اوشخصیت) بیولوژیکي غرایزاو وراثت نشي ټاکلی، بلکې دانسان دانسانیت اوشخصیت دماهیت دټاکلو لپاره یوازینی سترلامل چاپیریال دی. دوګوردون چایلد په خپل اثرکې لیکي: (انسان په خپله ځان جوړوي)[2] او وایي: (چاپیریال نه یوازې اوبه اوهوا، ګرم والی او سوړوالی، رطوبت اوباد، دځمکې پرمخ غرونه، دریابونه، شنې جبه زارې دشتې په برکې نیسي، بلکې هغه لاملونه چې انسان خوړو او اوبوته اودانسان دښمن ځناوران اود

---

[1] پورتنی اثر، ۴۰۷ مخ.

[2] و.ګوردون چایلد، (انسان خودرا میسازد) مترجم ،اسدپور ، تهران، ۱۳۵۲ کال، ص ،۱۸.

انسان په اړه حتی دټولنیزو عنعناو رواجونو، آدابو، قوانینو، اقتصادي وضعې اومذهبي اعتقاداتومجموعه هم شاملیږي).[1]

دانسان انساني مختصات(ماهیت) لکه شعور، ژبه، انساني عواطف، احساسات اوداسې نورله کورنۍ، څخه نیولې بیاتر ټولنې پورې له چاپیریاله څخه زده کوي اوانسان اوانسانیت په اجتماعیت کې په واقعیت بدلیږي.

انګلس په دې عقیده و، چې دمادې او ټولنیز ژوند په بدلون کې دافکارو بدلون ضروري اوحتمي دی. دانسانانو شعور ددوی دموجودیت ټاکونکی نه دی، بلکې ددوی اجتماعي موجودیت ددوی شعور ټاکي.

دچایلد په عقیده چې: (دانسان (ماهیت) دټولو ټولنیزومناسباتومجموعه ده). ټولو رواني مختصاتو ته شکل ورکوي، حتی دانسان فزیولوژیکي ځانګړنې (لیدل، اوریدل، خوړل اوویدیدل، دټولنیزژوند ترتاثیر لاندې په نوي کیفیت بدلیږي).[2]

ټول ژوندي موجودات په تیره بیا انسان دوه خصلتونه لري:

لومړی- دوراثت خصلت.

دوهم- دچاپیریال سره دقابلیت اوتطابق خصلت.

دوراثت خصلت په پرله پسې توګه دساتنې مبدا ساتي. دوهم خصلت دچاپیریال سره دبدلون اوتطابق اساس تشکیلوي، یا په بله وینا: په هره بیولوژیکي نوع کې دژوندیو موجوداتو تکامل ددغودوو متبارزو خصلتونوڅخه منشا اونشات کوي. په دې مانا چې توارث په هره بیولوژیکي نوع کې په پرله

---

[1] پورتنی اثر، ۱۸ مخ.

[2] پورتنی اثر، ۱۹مخ.

پسې تو ګه خپل پخواني خاصيت او ورته والی ساتي. دوهم خصلت تغيير منځنه اونوی کيفيت څرګندوي. ددې دواړو اړخونو ترمنځ دمبارزې په پايله کې ژوندی موجود، چې دلته مطلب انسان دی، تکامل او پرمختګ کوي او د انسان خصلت په لوړو پوړيو کې ځای نيسي.

دانسان دماهيت لپاره يوعمده او جوت توپير دنورو حيواناتو سره دادی، چې نومووړی له يوې خوا دطبيعت دقوانينو تابع دی، اوله بله خوا دی طبيعت ته تغييرور کوي او د طبيعت دقوانينو څخه په خپله ګټه استفاده کوي. دطبيعي شيانواو پديدو ترڅنګ مصنوعي شيان او پديدې جوړوي او هرڅومره چې طبيعت دانسان ترتاثير لاندې راځي او د انسان داستفادې وړ ګرځي، په هماغه اندازه (انسان) (انساني) کيږي.

دانسان دبرخليک اړيکه له هومانيزم سره په څه کې ده؟

نوې فلسفه دانسان دبرخليک په باره کې دټولو بدبينونظرياتو پرضد راولاړيږي. په دې نظرچې انسان دنورو حيواناتوسره په توپيرکې دټاکنې اټکل، درک، شعور اوآزادې خودمختارې ارادې قدرت لري. بشر دخپل برخليک په ټاکلو کې لوی لاس لري. موږ کولای شوچې د خپل عقل اوخپلواکې ارادې په برکت ځانته رنګينه نړۍ جوړه کړو اوهمدغه رنګينه نړۍ جوړيدو ته هومانيزم وايي.

هو! په دې کې شک نشته، چې دانسان تاريخ د ستونزو تاريخ دی، خو په عين زمان کې د انسان داخلاقو، هڅو، ځلاندوبريو، علومو، فنونو او ښکليو هنرونو تاريخ دی.

په دې کې هم شک نشته، چې دطبيعت قهرجنو پيښو، زړو منفي اوله کاره لويدلو سننو دانسان په برخليک لوبې او مسخرې کړې دي اودنړۍ خلک يې د

غمونو او اوښکو په ډنډ کې ډوب کړي دي. هغه د قدماوو خبره، چې ویل به یې: (په زیاته پوهه کې زیات غمونه دي).[1] یعني دهرډول فرهنګ څخه تیښته.

په انساني ټولنه کې چې د پوهې پرېنا رامنځته شوې وي، په ځان شعور لري او د نورو انسانانو دژوندانه دښه توب لپاره هلې ځلې کوي او غواړي داسې ټولنه جوړه کړي، چې په نوموړې ټولنه کې غمونه او ستونزې نه وي، خو په عین زمان کې د انسان تاریخ پر مختلونکی او وړاندې تلونکی دی، حتمي په بدمرغیو بریالی کیږي، یعني انسان دا قدرت لري، چې په طبیعي او ټولنیز جبر غلبه حاصله کړي او بشریت نیکمرغیو ته ورسوي.

## دانسان بزخلیک :

دانسان دبرخلیک په باره کې تراوسه پورې زیاتې نظریې وړاندې شوې دي، چې له هغو څخه دوې نظریې ډیرې مهمې او دپام وړ دي.

یوه نظریه ، چې د انسان برخلیک د قضا او قدر سره تړلی بولي او وایي د انسان برخلیک پخوا ټاکل شوی دی او له هغه څخه انحراف ناممکن دی.

بله نظریه دکشف شویو او پیژندل شویو قوانینو سره اړیکې پیدا کوي، په دې مانا چې د فردي او ټولنیز ژوند عمومي لوری د پیژندل شویو قوانینو څخه داستفادې او ګټې اخیستلو په جریان پورې تړلی بولي.

دانسان دبرخلیک په باره کې لرغونو او معاصرو متفکرینو دوه ډوله نظریې وړاندې کړې، چې یوه ډله متفکرین دانسان برخلیک ته خورا بدبین دي. دانسان برخلیک یوه تراژدیکه پدیده بولي. دوی وایي چې د انسان ژوند سراسر له فاجعو، تراژیدیو او بدبختیو څخه ډک دی. حتی دانسان نیکمرغي د ژوند د ذات سره ګډه

---

[1] علي، شریعتمداري، جامعه وتعلیم وتربیه، انتشارات امیر کبیر،تهران،۱۳۸۱ ، ص ،۷۵.

او منافات ګنې. نړۍ دجګړو میدان بولي، په همدغه ډول ژوند له تضادونوڅخه ډک ګڼي. ددوی په نظرله هر تضاد څخه جګړه را ولاړیږي، جګړه له ځانه سره بې نظمي، ګډوډي، رنځ، عذاب، وژنه، وینې تویونه، وحشت او دهشت راوړي. دوی نړۍ د جګړې میدان بولي. په دغه میدان کې قوي پرضعیف بریالی اوغلبه کوي. حقیقت تل د زورمندانو تر پښو لاندې کیږي، نړۍ هم دزورمندانو او قدرتمندانو پرمدار چورلي. نوځکه چې ارسطوبه ویل: (مریې په فطري توګه مریې زیږیدلی دی او دا ددې لپاره پیداشوی دی، چې جسمي کارونه وکړي اود حکیمانو د راحت دوسیلې په توګه استعمال شي او پوهان اوفیلسوفان باید ذهني کارونه وکړي اوله ټیټو جسمي کارونو څخه وژغورل شي)[1].

دارسطو له دا ډول نظریې څخه په ډاګه څرګندیږي، چې زورمندان اوجګړه مار، پوهان او قهرمانان دنسب او ازل څخه ددوی په خټه کې د زیږیدو سره یوځای پیداشوي دي.

ځیني پوهانو انسان یوناتوانه حیوان بللی دی، په دې مانا چې انسان د طبیعت او ټولنې د قهرجنې قوا دناځاپي حملوپه مقابل کې مقاومت نشي کولای. یعني دټولو مصیبتونو پر وړاندې ناتوانه دی، همدارنګه نوموړی دطبیعت دړندو قوانینو، ټولنیزو جابرو قوانینو او تاریخي پېښو ترمنځ انسان داسې ایسارشوی دی، چې دخلاصون لپاره دتیښتې لاره نه لري.

همدا ډول دوی وایي چې انسان د تاریخ په رنګارنګ قفسونوکې ساتل شوی دی.

[1] محمدولي، مندوزی. هومانیزم، کابل،دعلوموا کاډمي ۱۳۶۸، ۷ مخ

شوپنهاور وايي: (ژوند پای ته نه رسیدونکی رنځ دی، چې په رنځ سره پای ته رسیږي). [۱] کارل یا سپرس د الماني نامتو فیلسوف به ویل: (تمدن او دعلومو تکامل د بدمرغۍ تومنه ده، دعلومو انکشاف دطبیعت جادویي او افسونګر حالت له منځه وړي او ژوند دمعنوي جذبې څخه خالي کوي). [۲]

مارکس او انګلس دنوي هومانیزم بنسټ په سیوسیالیزم کې لیده. دوی عقیده درلودله، چې د انسان دآزادۍ، برابرۍ، ورورۍ، نیکمرغۍ او دانساني شخصیت دعظمت او فضیلت ساتنه یوازې او یوازې دطبقاتي مبارزې له لارې ساتل کیدای شي.

سوله، آزادي، عمومي سعادت، برابري دهومانیزم دډېرو لوړو او عالي ایډیالونو څخه شمیرل کیږي. دغه ایډیالونه دخیال په نړۍ کې نه، بلکې د واقعیت په نړۍ کې تحقق موندلی دی.

---

[۱] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

[۲] پورتنی اثر، یاد شوی مخ.

## ب- د هومانیزم وده او تکامل:

هومانیزم په فیوډالي دوره کې را پیدا شوی، نودا ددې مانا نه لري چې دلومړي ځل لپاره هومانیزم په فیوډالي ټولنه کې منځته راغلی دی، بلکې دفیوډالي ټولنې دجوړېدو څخه وړاندې د(روم) په مریي لرونکې ټولنه کې هم یوفلسفي انجمن دپخواني یونان دآثارو دځېړلو لپاره منځته راغلی و، چې د( STADIA HUMANITA) په نامه یادیده. رومیانو عقیده درلوده، چې ددغه کار په سیوري کې دوی کولای شي، چې دانسان معنوي قدرت ته وده ورکړي اوهغه ته په انساني شکل تبارز ورکړي، نوځکه دځینولیکوالانو په لیکنو کې هغه فکر ته، چې په فیوډالي ټولنه کې منځته راغلی و، د نوي هومانیزم نوم هم ورکړشوی دی.

که څه هم هومانیزم په خپله ځانګړې مانا سره درنسانس دغورځنګ دانساني اوبنسټیزو اړخونو څخه دی، خوله تاریخي پلوه دهغه سته لرغوني فرهنګ ته رسیږي. په لرغوني یونان کې خدایان انساني صفات اوخویونه حتی انساني بڼه لرله. دشعرموضوع دهومري حماسو څخه بیا دنوي فرهنګ تر وروستیو دورو پورې انسان اوانساني برخلیک و.

انساني اندام دمجسمه جوړونې اونقاشي هنر دډېرو مهمو پدیدو څخه ګڼل کیده. په نوموړې دوره کې انسان ته پام واړول شو او خپلې لوړې کچې ته ورسیدو، حتی د سوفسطائیانو په طرز تفکر کې انسان د ټولوشیانو ترازو اومعیار و. سقراط هم په نوموړې دوره کې ډېر زیات ټینګار په ځان پیژندنې او د انساني فضایلو د لاسته راوړلو لپاره کاوه. په کلي توګه دیونان فرهنګي تاریخ ډیره برخه دانساني حیثیت، ارزښت، مقام او انساني وګړي خپلواکۍ ته وقف تاریخ بولي. دغه جریانات البته لومړی په ناآګاهانه ډول او وروسته په آګاهانه ډول را پیدا شو اوله

هغه څخه وروسته دختیځې ځاورې ټولو برخوته یې پراختیا وموندله. دغه غورځنګ درنسانس غورځنګ په نامه ونومول شو.

ددغه ډول طرزدید پایله دانساني وګړي خپلواکي او د کلیسا د قمومیت څخه آزادي یعنې د هومانیزم پیدا کیدل وو. ددغې دورې عجب توب او شیفتګي (مین والی) دلرغوني جهان دبډاینې او ښه والی ددې سَبب وګرځید، چې شاعران، لیکوالان، وینا وال، مؤرخین اوڅېړونکي د (هومانیستانو) په نامه راڅرګند شي، چې خپل ایډیالونه دلرغوني یونان په آثارو، درومیانو قهرمانیو او د لومړنیو مسیحیانو عقایدو کې وپلټي. په هرحال هومانیزم درنسانس له برجسته اونفوذ څخه دډکوارخونو څخه و، چې یوناني لرغونو متونو ته په پام سره، انسان ته یې د خپلو تاملاتو په مرکزکې ځای ورکاوه. دغه غورځنګ ډیر پام دمنځنیو پیړیو په دوره کې د حاکم وضعیت او د کلیسا دنفوذ څخه تیښته وه او په علمي او فلسفي چوکاټونو کې د خپلو نظریاتو په منظومو کې کومه ویره نه درلوده. هومانستانو دهغونظریاتو څخه ډیرملاتړ کاوه او هغو ته یې ښه راغلاست وایه ، چې د منځنیو پیړیو د حاکم نظام په تقابل او تخالف کې یې شکل غوره کاوه . هغوی دا ډول مفاهیم لکه دانسان اختیار او آزادي یې د کلیسا امپراتوري او فیوډالیزم د نظریاتو د حاکمیت پر وړاندې هر وخت ستایله. که څه هم هومانیستي فکري غورځنګ د بیلابیلو لاملونو له امله په شپاړسمه میلادي پیړۍ کې د یوه غورځنګ په توګه مخ په زوال شو، خوخپلې اغیزې یې د یوه نوي طرزدید په توګه په خپله دوره او د هغه څخه په را وروسته فکري جریانونو کې او په کلي توګه دلویدیځ په فکر، فرهنګ او د نوي تمدن په کړنو باندې یې تر نن ورځې پورې پر ځای پرې ایښي دي، په داسې ډول چې د هنر او ادب په ډګر کې، چې هومانستانو هغه دځان د لومړني پناهګاه په توګه یو نظر دی، چې هغوی

دانساني بيان آزادۍ ته د رسيدو لپاره ټاکلی و. داسې وګړي لکه پترارک (-۱۳۷۴ ۱۳۰۴) بوکاچيو (۱۳۱۳- ۱۳۷۵م) کلونو کې را پيدا شول، چې د خپلو انسان پالنې سره او دغه باور چې د هغوی فرهنګ هماغه د پخوانۍ لرغونې زمانې فرهنګ دی، چې د رنسانس د زمانې طرزديد يې طرح کړ. دهغوی نظريات ډير شمير ليکوالانو، شاعرانو، نقاشانو او مجسمه جوړوونکو ته الهام ښښونکي شول. د نورو وګړيو را پيدا کيدل هم لکه اراسمون، ولتردمذهب په ډګر کې او ددين داصلاحي غورځنګ (REFORMATION) او دعلم په ډګر کې لکه چاپيريال پيژندنه، طب، کيميا، فزيک او نورو کې ستر علمي پرمختګونه ددغې دورې اودغه فکري بهير تر اغيزو لاندې دي. له فلسفي پلوه هم ډير شمير فلسفې له رنسانس څخه د هومانيستي طرزديد څخه اغيزمنې وې. دا ټکی بايد په پام کې ولرو، چې د رنسانس ددورې هومانيزم، فلسفي هومانيزم نه و، خو په نوې دوره کې د ځينو فيلسوفانو د راڅرګنديدو سره موازي لکه برونو، بيکن، دکارت، اسپينوزا په راسيوناليستي (دعقل اصالت) دوره کې او لاک، بارکلي او هيوم په امپرسيم (تجربي اصالت) مرحله کې په تدريجي ډول منسجمو فلسفي مفاهيمو خپل ځان بيا موندلو.

په اوولسمه او اتلسمو پيړيو کې (د روشنګرۍ دوره) د هومانيستي نظرياتو اغيزې د روشنګرۍ دورې پر افکارو او آثارو کې په بشړه توګه څرګندوي. په دغه دوره کې د سترو اديبانو، فيلسوفانو او پوهانو لکه ولتر، منتسکيو، ديدرو، دالامبر. لاک، هيوم، کندرسه او نورو يوې ډلې ژوند کولو، چې د هغوی عمومي اعتقاد دا و، چې دآدمي د وجود اساسي او محوري مساله دانسان د فردي او ټولنيز ژوند سرو سامان موندل د عقلي موازينو سره سم وي، نه دخدای دارادې کشف ددغه خاورين موجود په باب. د انسان موخه د مافوق الطبيعي موجود سره عشق او ستاينه ده او نه

موعود جنت، بلکې ددغه جهان سره متناسب انساني طرحوته تحقق ورکول دي، چې د عقل له لوري وړاندې کیږي.

کولای شو ووایو چې ددغې دورې انسان پالنه یو ډول فرهنګي بهیر او خوځښت دی، چې بیلابیلې ساحې لکه اخلاق، سیاست، ښوونه او روزنه، اقتصاد، حقوق، دین پیژندنه او نور... یې تر خپلو جدي اغیزو لاندې نیولې وو.

د سیاست په ډګر کې هم چارې د انسان د ارادې او غوښتنې پر بنسټ د اکثریت په چوکاټ کې ټاکل کیږي او دموکراسي د تئوکراسي ځای ناستې کیږي. په واقعیت کې د وروستۍ پیړۍ زیات شمیر سیاسي نظریات یا په ځانګړې توګه لیبرالیزم د هومانیزم پر بنسټ طرح شوي دي. دغه بهیر یعني په روښنګرۍ دوره کې د هومانیزم بهیر تر معاصرې دورې پورې په همدې شان دوام وموند. په واقعیت کې زیات شمیر تیر اقتصادي بهیرونه د هومانیزم د تفکر پر خلاف تر سره شوي دي او د زیات شمیر معاصرو اخلاقي، حقوقي، سیاسي، دیني، ښکلا پیژندنې مباحثو جوهر تر اوسه پورې انسان پالنیزو نظریاتو ته شکل ورکاوه. که څه هم د هومانیزم نوم ددغو بحثونو په ترڅ کې یادنه شو، خو نننی هومانیستان تر ډیره کچې د روښنګرۍ د زمانې د هومانیستي افکارو د طرزدید څخه ډیر اغیزمن شوي دي.

د هومانیزم تاریخي بهیر سره اوهم د هغه د فعالیتونو او اغیزو په پام کې نیولو سره کولای شو، د هومانیزم لپاره دا لاندې ډولونه ومنو:

۱ - ادبي هومانیزم (LITERARY HUMANISM) په انساني علومو یا ادبي فرهنګ ادبیاتو ته په زړه پورې نژدیوالی.

۲ - رنسانس هومانیزم (RENAISSANCE HUMA.) د هغه روزنیزې برنامې باندې تکیه چې د منځنیو پیړیو په وروستیو او وروسته له هغه دلرغونو

لیکنو دراڅوندي کیدو سره یې پراختیا وموندله. په دغه وخت کې په انسان باندې د دوهم ځل اعتماد لپاره د چارو د صدق او کذب د تاکلو لپاره راڅرګند شو.

۳- فلسفي هومانیزم (PHILOSOPLCAL HUMANISM): د ماهیت، ځانګړ تیاوو، توانمندیو، ښوونې او روزنې د مفاهیمو او طرزدید په اړه او د انساني ارزښتونو له مجموعې څخه عبارت دی. دوه ډوله هومانیزم، مسیحي او نوی هومانیزم.

۴- مسیحي هومانیزم (CHRISTION HUMANISM): دا هغه ډول فلسفه ده، چې د انسان ځلا او ښایست د مسیحي اصولو په چوکاټ کې ګوري او له هغه څخه پلوی کوي.

۵-نوی هومانیزم (MODERN HUMANISM): دا ډول هومانیزم د ناتورالیستي هومانیزم ،علمي هومانیزم ، اخلاقي هومانیزم په نامه یادیږي. دنوي هومانیزم تعریف داسې شوی دی : هغه فلسفه چې هرډول مافوق الطبیعي موجود ردوي او په ځانګړي ډول په عقل، پوهې، دموکراسي، ترحم او انسان مهرباني باندې تکیه کوي.[1]

۶- دنیوپالنې هومانیزم (SECULAR HUMANISM): په اتلسمه پیړۍ کې دروشنفکرۍ د زمانې دعقل پالنې او هم دنولسمې پیړۍ د آزاد فکر کولو محصول دی. په اوس وخت کې ډیرشمیر هومانیستي ډلې لکه دموکراتیک او سیکولار هومانیزم انجمن، دامریکایي عقل پالونکې اتحادیه او پوهنتوني فیلسوفانو او پوهانو ددې ډول فلسفې ملاتړ کوي. دا ډول هومانیزم هر ډول ماورالطبیعي هڅې دبشري ستونزو د حل او دهستي د بیان لپاره رد او نفې کوي.

---

[1] www.addtoany.com ing \daneshnamaeh – up \۶\۶۲\ illustration-humanism- davinci.jpg.

۷- دیني هومانیزم (RELIGIOUS HUMANISM): دوحدت پالنې مسیحي نسل پالنې او ټولنې هغه ډلې چې په اخلاقوپورې تړلی فرهنګ خپروي، خپل ځانونه د دیني هومانستانو په نامه یادوي. دیني هومانیزم د سیکولاړ هومانیزم سره ګډ طرزدید لري، یوازې دهغوی څرګند توپیر ددین په تعریف او ددین په دنده کې دی. دیني هومانیزم له دین څخه ځانګړی تعریف لري او وایي دین هغه شی دی چې د انسانانو فردي او ټولنیزې اړتیاوې پوره کوي، چې دیوه فلسفي نړۍ لید څخه برخمن وي. لکه څنګه چې وویل شول، د هومانیزم تمایلات له یوه بل اړخه په دوو (فرد پالنې) او (ټول پالنې) اړخونو باندې هم ویشل کیږي.[1]

[1] www.pashgah.net عبدالرسول ، بیات ، فرهنگ واژه ها ، چاپ دوم ، مؤسسه اندیشه و فرهنگی دینی ، تهران ۱۳۸۷ ، ص ۴۰ .

## ج- د هومانیزم اهمیت:

د هومانیزم اصطلاح د بشر دوستي او انسان دوستي لپاره کارول کیږي. هومانیزم په ځوارلسمو او پنځه لسمو پیړیو کې د اروپا په ایټالیا هیواد کې منځ ته راغلی دی، چې یوازینی موخه یې د لرغوني ادب څېړنه وه. هومانیست هغه څوک دی، چې انساني طبیعت او انساني کارونه مطالعه کوي په بل عبارت هغه څوک دی، چې د بشري پوهنو په اړه څېړنې کوي. په هومانیزم باندې پوهه او د هغې څخه په انساني ټولنو کې له هغې څخه ګټوره استفاده کول او کارول په تیره بیا په انساني ټولنه کې د نیکو او حسنه اړیکو کې ترې کار اخیستل ډیر مهم او ضروري کار دی او د انسان لپاره ډیر اهمیت لري، ځکه چې انسان د تیر شوي تاریخ په تیره بیا د لرغوني یونان او روم د ژبې، دینیاتو، سیاست او ادبیاتو په بیا راژوندي کولو او راسپړلو خبروي.

هومانیستانو کوښښ کاو، چې ډیر لرغوني آثار چې له فکره لویدلي وو، تر څېړنې لاندې ونیسي او د لرغوني یونان او روم په کړنو ځانونه خبر کړي.

انسان او بشر هغه موجود دی، چې د نورو ټولو موجوداتو څخه برتري لري، ځکه چې اشرف المخلوقات دی. د ځمکې پرمخ خیر رسوونکی موجود دی او د ځمکې خلیفه ګڼل شوی دی او نوموړي عقل لرونکی او د خپلو اکې ارادې او ورتیا لرونکی او پر طبیعت پوره حاکم او په شرق او غرب کې د مختلفو دینونو، نظریاتو، فلسفي افکارو، د بشر حقونو، انسانیت او انساني کړنلارې څخه یې دفاع کړې ده او د انسان او انساني حقونو څخه په کلکه ساتنه کړې ده.

د هومانیزم د ژورې پیژندنې په اساس موږ کولای شو، چې په ټولنه کې د ښه او بد رفتار، کردار او سلوک په اړه بدلون راولو. ښه او بد، ښکلی او بد رنګ، جنګ او سوله، ظلم او عدل، دا ټول موږ د هومانیزم پر بنسټ پیژنو. هومانیزم موږ

ته دا را زده کوي، چې جنګ ویراني او ویجاړي ده او دهومانیزم بنسټونه له منځه وړي او سوله او آرامي بیا په ټولنه کې دانسانانو لپاره دبریالیتوب او کامیابۍ چانس دی، چې خلک علم، پوهې، ځان جوړونې، انکشاف او بشریت ته د خدمت لپاره رابولي. دانسان لپاره په اوسني عصر کې یوازینی هومانیستي کار علم او تخنیک په مرسته کیږي، چې دبشرلپاره یې ډیر زیات خدمت کړی.

هومانیزم تل دانسان سره ملتیا کړې، انسان یې ښې او مستقیمې لارې ته راکش کړی او دانسان مادي او معنوي ژوند ته یې وده او تکامل ورکړی دی.

هر انسان چې په ټولنه کې ژوند کوي، حقوق او وجایب لري، چې دیوه انسان شته والی پر ته له حقوقو او وجایبو څخه ناممکن دی. که چیرې دیوه انسان حقوق او وجایب سلب شي، نو په هغه صورت کې به نوموړی انسان دیوه حیوان سره مشابه وي، نوله همدې امله چې دنوموړي انسان څخه هیڅوک نشي کولای، چې دغه حقوق واخلي او یایې هغه حق سلب کړي، ځکه چې دغه حقوق او وجایب دخدای(ج) لخوا انسان ته ورکړل شوي دي، که چیرې سلب شي، نود خدای(ج)له فرمان څخه سرکشي ګڼل کیږي.

دبشرپه تاریخ کې ډیر اوږده کشمکشونه دزورمندانو او کمزورو ترمنځ پیښ شوي دي. کمزورو تل دزورمندانو پر وړاندې ډیر لوی قیامونه ترسره کړي دي. دوی ددې پر ځای چې دزورمندانو دظلم څخه مظلوم ولسونه خلاص کړي، نویې دخلاصون مناسبه لاره په ادیانو او فلسفي نظریاتو کې لیدله. علماوو او پوهانو اخلاق دهومانیزم په حیث ګڼل. دوی غوښتل چې دخلکو داصلاح لپاره دخلاصون یوازنی لاره اخلاق دي، نو ادیانو (مذاهبو) د ټولنې د پراخو پرګنو ،کورنیو او دهر انسان دقتل او دانساني کرامت اودهر ډول جنایاتو دمخنیوي لپاره هومانیزم مناسبه لاره بلله.

# دریيم څپرکی

# د هومانيزم فلسفه د ځينو شرقي فلاسفه و له نظره

هومانيزم دنوي فرهنگي روشنگرۍ دورې په غرب په يونان او په شرق کې په چين کې راپيدا شو ، يعنې هومانيزم دلرغونو لويو تمدنونو دودې جريان په تاکلو لازمو شرايطو کې رامنځته شو ، چې دهومانستانو دلرغونو زمانو ميراثونه يې جذب کړي وو .

## الف- په لرغوني شرق کې هومانيزم :

د تاريخي شواهدو له مخې شرق دعلم او فرهنگ زانگو وه او له شرق څخه غرب ته علم او فرهنگ لېږدېدلی دی. دارو پا هومانستانو د (منځنيو پيړيو) کومه اصطلاح چې رامنځته کړې وه دا هغه دوران و ، چې دارو پا ملتونو او قومونو په جهل او نادانۍ کې شپې او ورځې تېرولې ، نوموړی دوران دزړو مذهبي او مدرسي افکارو دوران و ، چې دهومانستانو له خوا رد ، مردود او محکوم گڼل شوی و . نو له همدې کبله دوی دلرغوني آثارو دبيا راژوندي کېدو په فکر کې شول او درنسانس يا

دبیا راڅوندي کېدو مسئله یې مطرح کړه . دا په حقیقت کې هغه هڅه او کوشش و ، چې اروپایي متفکرینو په هغه وخت کې دلرغوني فرهنګ دبیا راڅوندي کیدو لپاره یې هڅې او کوشش و چې ددوی دستاینې وړ ګرځېده ، رامنځته کړي . خو یوازې دغسې فکري غورځنګ په اروپا کې نه محدودېږي ، بلکې داسیا په چین کې هم دداسې فکري غورځنک ددوهمې نیمایي اتمې پېړۍ کې دتانګ په امپراتورۍ کې هم راپیدا شوی و ، چې ددې پېړۍ دډېر قوي فکري غورځنګ څخه ګڼل کیږي چې تر مغولو دحملو پورې ، چې ۱۳ پېړۍ ته ځان رسوي ، دوام کوي.

ددې فکري غورځنګ دنامتو متفکرینو شعار داو ، چې : (( [الرغوني ښوونه او روزنه ] یا (KU- WEN) بیا له سره راڅوندی شي . )) [1]

نو داسیا په چین کې هیڅکله (دمنځینو پیړیو) اصطلاح ونه کارول شوه ، خو ډوی دلرغونو زمانو تمدن او فرهنګ ته په زیات ارزښت قایل وو .

هان یو HAN- YU ددې فکري غورځنګ نامتو لارښود و ، ده د JEN کلمه هم استعمال کړې وه ، چې د(انساني ) او که یې پوره نوم واخلو نو انساني لاره یې بیان کړې ده ، کولای شو ، چې د HUMANISM اصطلاحي کلمې سره یې نږدې او څنګ په څنګ کلمه وګڼو ، چې په ټاکلو تاریخي ټولنیزو شرایطو کې درنسانس دمخکښانو له خوا رامنځته شوې ده .

که چیرې موږ اسلامي نړۍ ته په تېره بیا دمنځنۍ اسیا اسلامي هیوادونو ته نظر واچوو ، دا به ښکاره شي ، چې په ۹ مو او ۱۱ مو میلادي پیړیو کې یو لوی اسلامي تمدن رامنځته شوی او په مختلفو علومو لکه په فلسفه او ښوونه او روزنه

[1] سید احمد تولقون ، تاریخ قرون وسطی ، کتاب درسي محصلان ، نشر وزارت تحصیلات عالي ، چاپ کال ۱۳۶۳ ، کابل ، پنځم مخ.

کې لوی انکشاف او وده رامنځته شوې ، چې لوی پوهان او علماء یې لکه فارابي ، ابن سینا ، خوارزمي ، البیروني او داسې نورو څخه عبارت دي ، چې په هغه وخت کې یې لویه پوهه ترلاسه کړې وه ، دهغې زمانې ستر اصلي هومانستان وو ، چې دلرغونو زمانو میراثونه یې جذب کړي وو ، چې دهغو په بیا راژوندي کیدو کې یې رغنده ونډه اخیستې وه . چې په نوې ښوونې او روزنې او روښنګرۍ کې یې ستر نقش لوبولی دی . دوی ټولو دپوهې اساسي بنسټونه او لوی تمدنونه دلرغونو زړو ملتونو او قومونو ، چې دلرغوني یونان، روم ، هند او چین چې دفلسفې دنوې پوهې په اساساتو یې تکیه درلوده ، ګټوره استفاده کړې ده .

دغه داروپا چین او منځنۍ اسیا ګډ فکري جریان څه شی راښکاره کوي ؟

تر هرڅه لومړی دا حقیقت روښانه کوي ، چې دنوې روښنګرۍ څپې داسیا یي تمدن په مرکز ، چین او په اروپا کې دتاریخي بهیر دعمومي قانون په چوکاټ کې راڅرګندیږي ، یعنې دلرغونو لویو تمدنونو دودې جریان په ټاکلو لازمو شرایطو کې رامنځته کیږي ، نو ښکاره ده ، چې نوې ټولې فکري پدیدې نه شو کولای چې یو ډول یې وبولو ، که چیرې موافق واوسو هغه رنسانس ونوموو ، نو په هغه صورت کې چې د(چین رنسانس) او د(منځنۍ اسیا رنسانس ) چې هریو یې ژورې ځانګړنې لري ، چې دیو او بل او د(اروپا رنسانس) څخه یې توپیر کیږي.

خو ددغو ټولو توپیرونو سره سره هغه تاریخي جوهر چې د(رنسانس) پدیده یې رامنځته کړې ده او دا درنسانس پدیده یوازې داروپا په خلکو پورې محدوده نه ده ، دهغو ټاکلو شرایطو له مخې چې دغه فکري پدیده یې رامنځته کړې ، هم یې په اسیا او هم یې په اروپا کې منځ ته راوړې ، وده او تکامل یې کړی او یوه ګډه او مشترکه وجهه یې ددوی په منځ کې موجوده ده ، چې هغه دښاري فرهنګ چټک پراخوالی په منځنیو پیړیو کې دهغه تکامل او وده ده ، چې دزیاتو

لویو پوهانو ، لیکوالانو ، حقوق دانانو ، مؤرخینو ، فیلوسفانو او ټولنیزو مخکښانو له خوا رامنځته شوې ده . دغه ډلې چې دښاري فرهنګ سره يې ټینګې اړیکې درلودې او دنوي تمدن دنتیجو پر بنیاد او دکتاب چاپولو پراخوالی يې ډېر مهم لاملونه ګڼلی شو .

ځینې پوهان په دې اند دي، چې هومانیزم یوه غربي پدیده ده او دغربي هیوادونو څخه زموږ هیواد ته راغلې ده دوی وایي چې دا یوه پردی کلمه ده او هیڅکله زموږ د فرهنګ سره سمون نه لري. زه غواړم په دې څېړنه کې دهومانیزم دراپیدا کیدو لومړنی مفکوره په لرغوني شرق کې لکه (زردشتیزم، جینیزم، بودیزم، تائویزم، کنفوسیوس، ماني او مزدک په مفکورو او نظریاتو کې) ولټوم، ترڅو چې په لرغوني شرق کې دهومانیزم یعنې دانساندوستي او بشردوستي مفکورې په نوموړو دینونو کې پیدا کړم.

دنوموړي ادیانو پیروانو ، پوهانو او علمي شخصیتونو د ټولنیز ژوند دښه سمون لپاره د تفکر او تدبیر ټولې لارې چارې لټولي دي.

دوی غوښتل چې داخلاقو له لارې دانسانانو لپاره اصلاحي چارې ترسره کړي، چې دهغه ښه مثالونه په ډېر کم اختلاف سره په ټولنه کې دعدم تشدد غوښتنه کوي، لکه صحیح ایمان، صحیح علم او صحیح عملونه دنفس په تزکیه او دروح په پاکوالي، چې انسانان نیکمرغي او سعادت ته بیایي او له توري تیارې څخه يې ژغوري. دوی همدارنګه د ټولنې راتلونکي نسل ته دنیک او بد عمل، رڼا او تیارې، ظلم او عدالت، سولې او جګړې، تور او سپین، ځمکې او آسمان، دښو او بدو دتوپیر علایم انسانانو ته په ګوته کړي دي.

تر ټولو دمخه ځینې ادیان او مذاهب دهغه وخت دخلکو په اخلاقي اصلاح کولو کې يې مهمه او اساسي دنده تر سره کړې ده. په هغه وخت او په را

وروسته وختونو کې يې د ټولنې، کورنۍ او شخص د هر ډول تاوتريخوالي ، وژنې ، غلا او لوټماری، قمار او بد اخلاقۍ پر ضد او د انساني کرامت د ساتلو لپاره زياته پاملرنه کړې ده او دغو ديني علماوو خلکو ته د مسجدونو د منبرونو له لارې د وژنې ، تاوتريخوالي او د انسان پر وړاندې د هر ډول جنايت د مخنيوي او د انسان د لوړو اخلاقو، هومانيستي افکارو په رڼا کې همکاريو ، همدرديو او مرستو ته د رابللو دعوت ور کولو. په افغانستان کې د زردشت او وروسته د اسلام دين، په هند کې د جينيزم او بوديزم، په چين کې د تائويزم او کنفوسيوس او په ايران کې د مزدک د آزادۍ مفکورې، انسانيت او انساني کړنلارې يې د خلکو پراخو تودو او ولسونو ته وړاندې کړې دي. نو ځکه موږ دزردشت ځينې اخلاقي او انساني افکارو او دهغه اثرات دهغه وخت په ټولنه کې راوسپړو.

**۱- زردشت:**

زردشت د خپل عصر نامتو پوه او روحاني شخصيت و، داکثرو تاريخ پوهانو او علماوو د مستندو اسنادو او مدارکو له مخې په ځانګړې توګه دايران د ادبياتو تاريخ دلومړي جلد۲۹۵ مخ، چې مؤلف يې ميرزا جلال الدين اصفهاني دی، دا خبره تصديقوي چې زردشت د بلخ و.

همدا ډول په آريانا دايرة المعارف کې زردشت په بيلابيلو نومونو ياد شوی دی. په نوموړي کتاب کې ليکي چې: ((زردشت يا زرتشت، زراتو تشترا او يا زرتشت ياد شوی دی، پلار يې پوروشوسپا او نيکه يې پيتراسپه او لوی نيکه يې هيجاتاسپا نوميدل))[۱].

---

[۱] پښتو - أريانا دايرة المعارف، شپږم ټوك، د اطلاعاتو کلتور وزارت، کابل، ۱۳۵۵، ۱۸۲ مخ.

همدا راز په همدې اثر کې لیکي: ((د زردشت لقب سپین تمان و، چې په پښتو کې د(سپین لمنې) او په دري کې د(پاک دامن) مانا ورکوي))[1].

زردشت یو حکیم او.پوه سړی و او اخلاق او علمي تعلیمونه یې لکه طب، نجوم او طبیعیات د ټولو طبقاتو په تیره بیا دده د پیروانو لپاره ډیر ګټور وو. نوموړی د میلاد څخه پخوا په اوومه پیړۍ کې زیږیدلی دی او د شپږمې ق م پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې په اویا کلنۍ کې د بلخ (باختریا باکتریا) د معبد په یوه پوړ کې وژل شوی دی.

د زردشت مذهبي هومانیستي ښوونې :لکه څنګه چې وویل شول، زردشت یو حکیم او پوه سړی و او دده اخلاقي او مذهبي ښوونې د ډیرو خلکو او دده د پیروانو او مینه والو لپاره ډیرې ګټورې وې. دی د موجوداتو لپاره په یوه واحده او مجرده مبدا قایل دی، چې هغه ته (اهورا مزدا) وایي. نور او ظلمت یا یزدان او اهریمن دواړه حادث بولي. نوموړی په دې عقیده دی، چې: (د هستۍ نظام او قوام د نور او ظلمت او یزدان او اهریمن د لښکرو او په وروستۍ پایله کې د قوې او مادې د امتزاج د یو ځای کیدلو په واسطه ټینګیږي، نو دلته د ټولو ښو چارو مرجع یزدان او د ټولو ناوړه چارو مرجع اهریمن دی او د یزدان او اهریمنانو لښکر تل سره په جګړه کې دي او خلک به هغه وخت نیکمرغه او سړی به هغه وخت هوسا شي، چې د اهریمن نژاد له منځه ولاړ شي.

دی د انسان د ښېګڼو، انساني ښو عملونو، او د خیر ښیګڼو کارونو مبدا او اساس په (یزدان) کې بولي، خو دلته ده، چې زردشت د انسان د ښېګڼو، ښو عملونو، خیر ښیګڼو او د انساني کړو وړو، چې بل انسان او همنوعې ته ګټه

---

[1] پورتنی اثر، ۱۸۴ مخ.

رسوي او دنيک عمل شخه (اهورا مزادا) شخه نمايندگي کوي. ولې بر خلاف د انسان هغه کړه وړه او عملونه چې په ناوړو عملونو بنا وي، دی دغه کار په اهريمن کېويني.

زردشت وايي: (دعالم د پيدايښت بنسټ پر اجدادو ولاړ دی او دا خاورينه کره د نيکۍ اوبدۍ يا د يزدان او اهريمن دلښکرو د مبارزې ډگر دی او کائنات د دې قواوو د کښلو راکښلو په منځ کې واقع دي او د بشر نيکمرغي او بد مرغي د دغو دوو متضادو شيانو د مبارزې په پايلې پورې اړه لري، ابدي جنت د يزدان د پيروانو او د هغو کسانو په برخه دی، چې ښه نيت، ښه ويل او ښه کردار ولري او دوزخ دناوړو اواهريمن دارواحو ځای دی)[1].

زردشتيان چې دخپل ځانگړي کتاب پيروان وو او د مزديسنا دين د دوی اصلي دين دی. مزديسنا په لغت کې د ستاينې په مانا راغلی دی. زردشتيانو د دې لپاره چې (اهورا مزدا) ته عبادت او دعاوې وکړي، دوی داور لمبې د پاکي مظهر گڼلې، هغه ته درسيدو وسيلې يې گڼلي او په ډيرو مذهبي ځايونو کې يې (آتشکدې) جوړولې، نو همدا سبب وو، چې زردشتيانو اور ته زيات احترام درلود، چې اور د خدای روښنايي ده.

دوی همدا ډول دآبادولو، تولنې، مدنيت جوړولو، نظافت او د کوچنيانو روزلو، د گټوورو ځارويو لکه دغوايانو، پسونو، کرهڼې او نيالگيو ايښودلو او داسې نورو ښو چارو سپارښتنه کړې ده، همدا ډول د نجاست، طهارت، د مړو د ښخولو او نورو په باب گټور قوانين لري.

---

[1] عبدالعظيم، رضايي، تاريخ اديان، انتشارات علمی، تهران، ۱۳۸۰، ۱۷۳ ص.

دزردشتیانو فلسفه په اخلاقو بنا دي. دده مذهب قدیمي دی. دی د خدای(ج) په اړه لیکي: (خدای(ج) د مثبت او منفي خصوصیاتو درلودونکی دی او کائنات هم دده د خواهش پایله ده. نو ځکه په کائناتو کې هم د یوه حقیقت دوه اړخونه یعني شپه او ورځ، منی او سپرلی، اوړی او ژمی آن چې هر شی وجود لري، ددوو اړخونو یعني د نیکي او بدي نه جوړ شوی دی. که چیرې په دې دواړو کې یو موجود نه وي، نو د بل د موجودیت سوال به هیڅکله پیدا نشي)[1].

د انټرنیټ په ویب پاڼه کې د زردشت ددین د پیژنګلوي په مقاله کې دده د دین په په انساني او هومانیستي ښوونه کې درې اصله داسې بیانوي، چې: (اول نیک ګفتار، دوهم، نیک کردار او دریم نیک نصیحت، چې دا درې واړه اصلونه د زردشت دفلسفې څرګندوی دي.) نو له همدې کبله د زردشتیانو په عقیده، چې: (انسان هغه وخت لوړ سعادت، خوشبختي او یزدان تر لاسه کولای شي، چې انسان دا درې فعال حرکتونه اصلاح کاندي، چې هغه عبارت دي د ښې ارادې، ښې وینا او ښه فعل څخه)[2].

د زردشت د(ګاتونو) په لوی کتاب کې چې دده قلمي نسخه هم ده، د حقیقت دماهیت په اړه ځیني مسایل لیکلي دي، چې وایي (حقیقت)(راستي) د ژوند سره مترادف دي، لکه څنګه چې مرګ قادر نه دی، چې ژوند له منځه یوسي، نو (دروغ) هم نشي کولای چې (حقیقت) له منځه یوسي او حقیقت تل پر درواغو بریالی دی.

---

[1] سکندر خلیل، فلسفه، زړه نوې، ۱۱۸ مخ.

[2] تحولات اخیر در دین زردشت، www.persanararchiue-com.

دلته زه غواړم چې دزردشت دفلسفې په افکارو کې د(بدي) په اړه یو څوخبرې وکړم.

۱– په اندیشه او فکر کې (بدي).

دتکبر، حرص، بنیګنې، بدوالي، دحق نه پیژندلو، بدسترګي توب، قهر، حسد، بې رحمي، بې بندوباري او دجګړې غوښتنې څخه عبارت دي.

۲– په ګفتار کې (بدي).

دناشکرۍ، دروغو، دغولولو، ناحقه ویلو، په خوله بد لفظ ویل، ناسمو خبرو کول، غیبت کول او داسې نور په ویلو کې (بدي) بلل کیږي.

۳– په کردار کې (بدي).

انسان باید لټ، تنبل، بیکاره، غل، ظالم، په امانت کې خیانت کوونکی، سرې وژونکی، دظالمانو او ګناه کارانو ملاتړ کوونکی، دهوا او هوس پیرو او پلوی نه وي، بلکې نوموړی باید د ټولنې او کورنۍ د ټولو دچارو تنظیموونکی وي او دی د قهر او دبدو او ناوړه کارونو څخه باید په امن کې وي.

۴– دانسان اجتماعي (بدي ګانې).

انسان باید په ټولنه کې د قیمت پلورنې، احتکار، د قانون څخه دسر غړونې پلوی، جګړې پلوی، دیني، نژادي او قومي تعصب او جګړې غوښتونکی نه وي. زردشت یو لوی کتاب چې د(اوستا) په نوم یادیده، او هغه نړیوالو ته د سوغات په توګه وړاندې کړ. ده په دې کتاب کې خپلو پیروانو ته سپارښتنه کړې ده، چې تاسو باید دروح په پاکۍ، دجسم په پاکۍ، داوسیدو دځای په پاکۍ او دژوند په ټولو چارو کې پاکي په خپل ورځني ژوند کې تمرین او وروزئ.

زردشت دخپل وخت یو لوی پوه و، چې میترلنګ دده په اړه داسې نظر وړاندې کوي: (دزردشتي فلسفي نظریاتو سیستم او اخلاقي قوانین یو دهغو

مهمو او دنړۍ د پاکو او لوړو اخلاقي مقرراتو له ډلې شخه شمیرل کیږي، چې لا تراوسه پورې یې اغیزې پر ځای پریښودلي دي)[1].

د زردشت د زده کړې پر اساس انسان د خپل ځان پر وړاندې درې دندې لري:

۱- خپل دښمن دوست کړه، ۲- ناپاکه سړی پاک کړه، ۳- ناپوهه ته پوهه ورکړه.

د زردشت درې ګونې ښوونه او روزنه زیات اهمیت لري. داوستا د کتاب له مخې د درې ګونې ښوونې اوروزنې بیلابیل مراتب او مقامونه ټاکل شوي دي. همدا رنګه د خرد اوستا په کتاب کې نوموړي ښوونه او روزنه د هومتګا (د نیک فکر ځای او مکان) او هوختګاه (د نیک ګفتار مکان او ځای) او هورشتګاه (د نیک کردار مکان او ځای) په نومونو یاده کړې ده)[2].

دغه درې ګونې طبقې خلکو د جنت ته تللو په اړه داسې لیکي، چې د نیک فکر ځای د لومړني اصلي ځای د ستورو په کره کې دی او د دوهم د آسمان په میاشته کې دی او ددریم د ډیرو لوړ ځای په روښنایي کې قرار لري. نودلته دده د ښوونې او روزنې شخه په ډاګه معلومیږي، چې د نیکو انسانانو ځای په (جنت) کې دی، نو د دوزخ لپاره هم ده څلور طبقې ټاکلي دي، چې ددې جملې شخه درې طبقې د بد فکر، بد ګفتار او بد کردار به برزخ ته داخلیږي، چې توره تیاره به خپاره وي او هلته به اهریمن ته ورشي، چې چیرې دروغ دي.

د زردشت درې ګونې ښوونه او روزنه زیات ارزښت او ډیره لوړه فسلفه لري، ځکه چې دده د ښوونې او روزنې اساسي بنسټ او پایه محسنات اونیکي جوړوي،

---

[1] هاشم ، رضی، زردشت در گاتا ها، انتشارات سخن، تهران، ۱۳۸۲ ، ص ۸۳ .

[2] پوهنمل ، بصیر ، کامجو. تاریخ نظریات فلسفی، ناشر، انتشارات میوند، کابل، ۱۴۸۱، ص ۶۰.

نو له همدې کبله ده، چې نیک فکر او نیک گفتار په خپل ذات کې په زړونو کې د انسان د نیکي تخم کري او په پایله کې د انسان په اعمالو او کردارونو کې ښایسته علایق را برسیره کوي او بشري عالم ته د ګټور توب او د خلکو د آرامي باعث ګرځي.

په پایله کې د زردشت فلسفه د اخلاقو او د انسایت او بشریت فلسفه ده. دده د ټولې فلسفې د نظریاتو څخه دا نتیجه اخلو، چې د زردشت فلسفه یوه د هغو فلسفو څخه ده، چې په هغه کې د انسان لپاره ښه او بد، سمه او غیر مستقیمه لاره ښودل شوې ده او دده فلسفې تل د بدی او شر پرضد مبارزه کړې ده، نو زردشت هیڅکله د اهریمن سره نه پخلا کیږي او د مزدیسنا دین له لارې د انسان هر عمل او کړنه، چې انسان ښو چارو ته رهنمایي کوي او د انسان ښه عمل او نیکي غښتلې کوي، بدي او شر کمزوري کوي، د زردشت د فلسفې لپاره یو لوی بریالیتوب دی.

**۲- بودا(بودیزم)BOUDDISM :**

د میلاد څخه د مخه د شپږمې پیړۍ په نیمایي کې د بودیزم بنسټ اینښودونکی بودا د یوې داسې طریقې مخکښ شو ، چې تر اوسه پورې ډېر پیروان لري. دده اصلي نوم سید هاراتا ګوتمه شاکیا موني ( GAUTMA SHAKYA MYNI)وو او د ۵۶۰ ق م په شاوخوا کې همالیا ته نږدې زیږیدلی دی او د ۴۸۸ ق م په شاوخوا کې وفات شوی دی. پلار یې د شاکیا قبیلې مشر او د کوساله شاهانو تابع و.

بودا په ۲۹ کلنۍ کې شاهي شان او شوکت پرېښود او په سیر و سیاحت، تفکر او دنفس په تزکیه بوخت شو. ده په ۴۰ کلنۍ کې داسې فکر کاوه، چې د حقیقت نور پر هغه ځلیدلی او له دغې نیتې وروسته د خپلو عقایدو او افکارو په خپرولو یې پیل وکړ. دی د ځلو ښتو کلونو څخه وروسته تر ۸۰ کلنۍ پورې د خپلو افکارو او تعلیماتو په خپرولو کې بوخت شو او خلک یې سمو ږښتینو او نیکو کارونو ته راوبلل. بودا چې حکیم، آګاه، عاقل او پر اصلي علم باندې د یوه انسان په حیث شهرت پیدا کړ، ډېر ژر دهند په نیمه وچه کې دده دفلسفې هومانیستي افکارو هنګامې هرې خواته په چټکې سره خپرې شوې. بودا هیڅکله دنبوت ادعا نه کوله او خپل تعلیمات یې په یوه کتاب کې سره راټول نه کړه، بلکې نوموړي یو لوی متفکر وو، چې د بودایي دین مبادي یې راټول او هغه یې تدوین کړل. دبودیزم دین دتاو تریخوالي دین نه دی او په دې دین کې د تاو تریخوالي افکار وجود نه لري او په دې عقیده دی، چې دانسان رنځ له منځه یوسي او دانسان درنځ تدبیر او مخنیوی وکړي.

بودایان یوازې د انسان درنځ د له منځه وړلو په فکر کې دي او بل دوی د انسان راستکارۍ ته مبارزې کوي، چې لاسته یې راوړي.

بودایان د راستکارۍ په اړه وایي چې (سالک لپاره کلونه کلونه عمر په کار دی، چې انسان راستکارۍ (رښتینولۍ) ته ورسیږي)[1].

بودا د رنځ په اړه وایي چې: (زیږیدنه رنځ دی، زوړ تیا رنځ دی، مړینه رنځ دی، د هغه څه په ملګرتیا اخته کیدل چې ته نه غواړې رنځ دی، د هغه څه لرې والی او بیلیدل چې ته یې نه غواړې رنځ دی او خپلو هیلو ته نه رسیدل رنځ دی)[2].

لکه څنګه چې د حرکت څخه زیږیدنه منځته راځي، د زیږیدنې څخه زوړتیا، رنځ، شکایت، نا امیدي او مړینه منځ ته راځي. که ددغو علتونو لومړی علت له منځه ولاړ شي، چې هغه ناپوهي ده. که ناپوهي د خپلو ټولو آثارو او پایلو سره ورکه شي، رنځ په خپله له منځه ځي.

بودا خلکو ته سپارښتنه کوي، چې انسان باید ددې صفاتو درلودونکی وي، تر څو د رنځ څخه نجات ومومي:

۱– سپیڅلې عقیده.

۲– سپیڅلې اراده.

۳– سپیڅلې ژبه او سپیڅلی کلام.

۴– سپیڅلی عمل.

۵– دژوند سپیڅلي وسایل.

۶– سپیڅلې هڅې.

---

[1] رابرت، سولومون، کاتلین هیکینز، تاریخ فلسفه درجهان، مترجم، منوچهر شادان، تهران، ۱۳۸۸ ش، ص ۱۶۸.

[2] سروپالي، راداکریشنان، ژباړه: خسرو جهان داري، فلسفهٔ شرق وغرب، شرکت فرهنگي ایران، جلد اول، تهران، ۱۳۸۲، ص ۱۹۳.

۷- سپېڅلې حافظه.

۸- سپېڅلې اندېښنې.[1]

دبودا په عقیده دا هغه منځنۍ لاره ده، چې یو کامل انسان منلې ده، دا هغه لاره ده، چې سترګې پرانیزي او زړه روښانه کوي او انسان د پوهنې په رڼا کې و (نیروانا) (تل تر تله سعادت) ته رسیږي.

دبودا دنظریاتو بنسټ اخلاقي نظریات جوړوي، چې دلذایذو او شهواتو پرېښودل دي او دانسان ژوند بیا خپله رنځ دی او رنځ بیا دشهوتونو او تمایلاتو حاصل ګڼي. دشهواتو او لذتونو څخه صرف نظر کول، دقوي ارادې لرل دي. چې دې هدف ته درسیدو لپاره یوازینۍ دخلاصون لاره همدا ده او بس.

دبودا اخلاقي تعلیمات عبارت دي له، خلکو ته خدمت کول، دټولو ژوندیو نه آزارول، دغلا څخه ځان ساتل، دعلم او نفس په تزکیه کې کوښښ کول جوړوي، چې دا په خپله دبودا دفلسفې دهومانیستي نظریاتو مجموعه جوړوي.

بودا ددانشمند، پوه، روشنفکر او حکیم په مانا دی، دبودیزم هومانیستي فلسفه اصلاً دلذایذو، شهواتو او ظلم پر خلاف مبارزه ده او دانسان ټول ژوند رنځ او درد بولي، چې دبودیزم فلسفه همدغه درد او رنځ دله منځه وړلو لپاره مبارزه ده.

## دبودایي فلسفې مهم ټکي په لاندې ډول دي:

### دوجود نشته والی:

دبودایي فلسفې پر اساس په جهان کې ددوو لحظو لپاره هیڅ ټاکلی او شخصي شی په یوه وضع او مشابه حالت کې نه پاتې کیږي، یعني هر شی دتغییر او تحول په حالت کې ګڼي.

---

[1] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

د تثبیت اصل:

د بودایي فلسفې ډېر مهم اصل د تثبیت اصل دی. هیڅ ژوند له یو واحد سببه مینځ ته نه راځي، بلکې له دوو سببونو یا د زیاتو سببونو څخه پیدا کیږي. د تثبیت د عمل د نفوذ له امله نظم بر قرار یږي. د علت او معلول په پیښنه کې نظم او ترتیب وجود لري او همدغه د نظم او ترتیب نظریه (تسلسل سبب) تشکیلوي.[1]

نیروانا (NIR VANA):

په سانسکریت کې د نیروانا لغت د اور وژل، خاموشي او د نیستي په مانا دی. تر بودا د مخه د بودا په مذهب کې نیروانا د فردي ژوند فناده، چې له هغه سره یو ځای کېدل ټول هغه دردونه او رنځونه چې د وجود څخه را پیدا شوي دي، له منځه ځي. د نیروانا عالي هدف ته د انسان او نورو ټولو موجوداتو رسیدل د ژوند په یوه ساحه کې د ترقي او اتصال څخه پر ته امکان نه لري. د دغه بې ثباته هستیو په ترڅ کې بشپړ هغه موجود دی، چې له اول څخه نه و بشپړ شوی غیر د هغه څخه دي، بلکې د څراغ هغه شغلې دي چې شپه او ورځ سوځي او د شپې په پای کې په عین حال کې له ټولو مانا هغه اور نه دی، چې په سر کې وو او د هغه جزهم نه دی، خو د بودا ډېره مهمه او اساسي فلسفه د هغه اخلاقي فلسفه ده.

نیروانا لفظ د نیروانا جاین (NIR VANTAIN) د خوښي او نیکمرغي د مفهوم په بڼه کارول شوی دی ، خو په بودیزم کې د انساني ژوند د وروستی مقصد په مانا دی.

کولای شو د بودا اخلاقي فلسفه په لاندې ډول وښیو:

۱ – سم نظر: یعني هغه عقیده او نظر چې په سمه او رښتینې توګه د انسان لارښوونه وکړي.

[1] تېر اثر همدغه مخونه .

۲– اندیښنه یا درست فکر : دا چې انسان آرام او خوشحاله وي، نو په هیڅ ډول باید ژوندیو ژویو ته ضرر ونه رسوي.

۳– سمه خبره: په خوله دروغ ونه وایي او په تاو تریخوالي او ناسمو خبرو سره شونډې خلاصې نه کړي.

۴– سم رفتار: سړی باید په هیڅ ډول سره غلا، وینې تویونه، بداو ناوړه کار ونکړي، چې سبا ورځ په هغې باندې پښیماني وښیي.

۵– سم ژوند: سړی هیڅکله باید ناسم کار د ځان لپاره انتخاب نه کړي او خپله روزي د غلا او ناروا له لارې نه، بلکې د خپل کوښښ، هڅې، کار او زیار په پایله کې ترلاسه کړي.

۶– سم کوښښ: سړی تل باید په نیکۍ پسې وګرځي او هغه څه چې بد او ناسم دي، ځان ترې وساتي.

۷– سمه پاملرنه (توجه): ترڅو سړی آرام وي او خپل فکر په ښادۍ او غم کې ګډوډ نه کړي.

۸–سم تامل: په پاسنیو اوو قوانینو کې یې لیدلی شو.[۱]

---

[۱] تیر اثر همدغه مخ ونه.

**۳_ کنفوسیوس:**

کنفوسیوس چې اصلي نوم یې (کونګ چیو) و، خو خپلو زده کوونکو د(کونګ فوتزوه) په نوم یادوه. په ۵۵۱ ق م کال د(جوفو) په ښار او د(لو) په ولایت کې زیږیدلی دی.

د کنفوسیوس په اړه سقراط وایي: (د کنفوسیوس آیین یوازې د انسان او انساني چارو لپاره دي)[1]. په بل ځای کې وایي چې: (زه د کل وحدت غوښتونکی یم)[2].

دی په دې نظر و، چې انسان باید په انتخاب کې دقیق وي، ښه او بد د ژورې مطالعې له لارې باید و پیژني. همدارنګه ده ویل، چې (بې شمیره زامن او بې وفا ښځې هغه کسان دي، چې د حقیقت څخه خالي دي، ډیر لوی اخلاقي هنر، تیرو نیکونو ته احترام دي او باید د هغوی خاطرو ته په درنه سترګه وکتل شي او پلرونه او میندې د نیکونو او اجدادو نمایندګان او نښانه وي، تر څو چې ژوندي وي، زامن باید هغوی ته کاملاً اطاعت او اخلاص ولري. ځوانان باید زیاتې ستونزې پر ځان قبولې کړي، چې مور او پلار په آرامي سره ژوند وکړي. زاړه د زوړوالي څخه رنځ وړي. پاچا د خلکو لپاره د ښوونې او روزنې، سولې او روغتیا لپاره لارې چارې ولټوي او عدالت تل په نظر کې ونیسي)[3].

دا د کنفوسیوس خبرې دي، چې: (که چیرې رعیت د دولت د فرمانونو، قوانینو او دستورالعملونو څخه سرغړونه ونکړي، ولسمشر د هغوی د چارو د

---

[1] عبدالله ، مبلغی ، آبادانی، تاریخ ادیان و مذاهب جهان، جلد اول، انتشارات حر، تهران، ۱۹۷۶ ، ص ۱۷۸.

[2] پورتنی اثر، ص ۱۸۹.

[3] پورتنی اثر ،ص ۱۹۰.

عدالت څخه هیڅکله بهرونه وځي. که چیرې کارګران د سرمایه دارانو څخه دستور واخلي او اطاعت یې وکړي، کله چې تضادونه، جګړې، ظلم، ستم او تجاوز د ټولنې څخه لرې شي، نو په هغه صورت کې به په عمومي ډول سره د یو او بل دوستان وي... چې نور به تضادونه، طبقات او اختلافات نه وي او ټول خلک به په خوشحالۍ کې ژوند کوي او د ټولنې مادي او معنوي وضع به ګټوره تمامه شي)[1].

کنفوسیوس د ټولنې د فرد لپاره ځانګړي اخلاقي عقاید وړاندې کړل او نوموړی په دې نظرو، چې په ټولنیزو اړیکو کې د انسان لپاره مسؤلیتونه او دندې ځانګړې ګټې لري او په ټولنیزو اړیکو کې د انسان لپاره پنځه اړیکې ډیرې مهمې ګڼل شوي دي:

۱- د پلار زوی ترمنځ اړیکې.
۲- د ولسمشر او رعیت ترمنځ اړیکې.
۳- د ښځې او میړه ترمنځ اړیکې.
۴- د لویو ورونو او کشرانو ورونو ترمنځ اړیکې.
۵- د دوستانو ترمنځ اړیکې.

ده د انسان انسانیت ته زیات ارزښت ورکاوه. کنفوسیوس ویلي دي، چې: (انسانیت عبارت دی له نورو سره مینه او دوستي لرل)[2].

---

[1] پورتنی اثر، ص ۱۹۰.

[2] سرو پالي، راداکریشنان. تاریخ فلسفه شرق و غرب، مترجم، خسرو جهانداري، جلد اول،، تهران، ۱۳۸۸، ص ۵۸۳.

یعني هغه انسان چې نورو ته د دوست په سترګه وګوري ، نو انسان توانیدلای شي، چې دټولنې لپاره خپلې دندې او مسؤلیتونه په ښه توګه ترسره کړي .

د کنفوسیوس د ښوونې او روزنې مرکزي جوهر او دده د حکمت مقام او دده ښوونه(رن) یا (انسانیت) دی. د کنفوسیوس په نظر په دې ښوونه کې مرکزي ټکی د انسانانو د استعدادونو غوړیدنه او فرد او شخصیت ته د انساني حقوقو د ساتلو غوښتنې کولې.

په چیني ژبه کې (رن) د دوو حرفونو څخه تشکیل شوی دی، چې یو یې (انسان) او بل د انسان اړیکې له نورو انسانانو سره تاییدوي. کنفوسیوس (رن) نه یوازې د اخلاقي هنر په حیث، بلکې ده (رن) د یوه کامل (هنر) په حیث تعریفاوه.[1]

[1] پورتنی اثر ، همدغه مخ .

## ب_ په لرغوني یونان کې هومانیزم :

دهومانیزم اصطلاح که څه هم په معاصر وخت کې د یوه نفوذلرونکي مفهوم په توګه وکارول شوه او د رنسانس څخه وروسته د یوه فکري غورځنګ په بڼه ډیرې بنسټیزې اغیزې یې دڅوند په ټولو اړخونو کې لرلې، خو دهغه تاریخي اړخ بیا ډیر لرغونی مفهوم دی. له تاریخي پلوه دلرغوني یونان و فرهنګ ته رسیږي. دا ځکه چې په لرغوني یونان کې ټول شیان حتی هغه سپیڅلي شیان چې دهغوی لمانځنه یې کوله، انساني صفات او خویونه یې لرل او حتی انساني بڼه یې لرله، دبیلګې په توګه دهومري حماسو د شعر موضوع انسان او دهغه برخلیک و، چې دغه حالت د یوناني فرهنګ تر وروستی دورو پورې دوام درلود. همدارنګه دمجسمې جوړولو او نقاشي د هنر ډیره مهمه مساله انساني اندام و. نو ددغو خبرو په پام کې نیولو سره کولای شو، ووایو، چې په نوموړې دوره کې و انسان ته توجه خپلې لوړې کچې ته ورسیده او حتی د سوفسطائیانو په افکارو کې انسان د ټولو شیانو مقیاس او ترازو و او سقراط چې د سوفسطایانو د ځینو نظریاتو څخه اعظمي ګټه پورته کوي او هم ډیر د سوفسطائیانو د نظریاتو څخه متاثره کیږي او هم د انسان په ځان پیژندنې باندې ټینګار کوي او د انساني فضایلو په اړه ژورې مطالعې او څیړنې پیل کوي او انسان دې ته هڅوي، چې ته ځان و پیژنه، ځکه خودشناسي اساس د جهان شناسي ده. نو انسان چې د ټولو ژویو په معراج کې قرار لري، ورته ضروري ده، چې خپل موقف د نورو ژوندیو موجوداتو په مقابل کې وپیژني.[1]

---

[1] تیر اثر ، هماغه مخ.

په عمومي توګه د يوناني فرهنګ د تاريخ زياته برخه د انسان حيثيت او انساني فرد خپلواکي او ارزښت ته وقف تاريخ دی. کله چې د يونان فرهنګ مخ په زوال کيږي، نو د يونان استقلال زوال مومي، همدغه فرهنګ و روم ته ليږديږي. خو هغه دموکراسي او فردي آزادي چې په يونان کې وه، هيڅکله په روم کې په ښو ونه دريدله، خو په هر حال د يوناني فکر لاره او د انساني تفکر د خپلواکی نظر په روم کې خپل ژوند ته دوام ورکړلو.

دا يو ښکاره او منل شوی حقيقت دی، چې هره پديده په ناڅاپي توګه نه راڅرګنديږي، بلکې يو شمير دلايل او علتونه ددې سبب ګرځي، چې نوموړې پديده رامنځته کړي، يعني عيني او ذهني شرايط او زمينې د يوه حالت د رامنځته کيدو ضروري او لازم دلايل دي، چې بايد د نوموړې وضعې د رامنځته کيدو لپاره مساعد وي. د يونان ددغه حالت لپاره هم کافي دلايل شته، چې د هغې د رامنځته کيدو دلايل يې بللی شو. ددغې وضعې د روښانه کيدو ښه او پر ځای خبره به دا وي، چې د سقراط نه مخکې حالات راوڅيړو، ترڅو د سقراط، افلاطون او ارسطو د يونان دورې ته راورسيږو.

د لرغوني يونان په فلسفه کې د پرله پسې او خپلواکو پوښتنو څخه يوه هم داده، چې دا مطلق شی يا جوهر څه شی دی، چې ور څخه ټول شيان جوړ شوي دي. د ايليايي مکتب پوهانو په ابتدا کې همدې پوښتنې ته په ډير ساده ډول سره ځواب ويلی او انسان يې د ټولو شيانو د پيژندلو معيار بللی دی. دوی په دې نظر وو، چې: (انسان د جماداتو، نباتاتو او حيواناتو د مرحلو څخه راتير شوی، د انسانيت مقام ته رارسيدلی دی)[1]. دوی دلته د څلورو عناصرو نظريه رادمخه کړه،

[1] ارباب سکندر، خليل، فلسفه، زړه ـ نوې، ناشر، قصه خواني بازار،پيښاور، ۱۹۷۷ ، ۲۲مخ.

يعني (اور)، (اوبه)، (هوا) او (خاوره). دا څلور عناصر هغه بنيادي او ابتدايي مواد دي، چې د هغوی په عقيده د هرشي اصل دي. ټول شيان ددغو څلورو عناصرو څخه پيدا کيږي او په همدغو څلورو شيانو کې فنا کيږي. ددغو عناصرو څخه د ترکيب او تحليل نه وروسته هغوی د کشش او کراهت (مينه او نفرت) دوه اصوله وضع کړل.

دوی په دې نظر او عقيده وو، چې کائينات ددوو قوتونو څخه مرکب دي، يو يې کشش (مينه او محبت) او دوهم کراهت (نفرت او کرکه). له دغو نظريو څخه په ډاګه ښکاري، چې دوی د لومړي ځل لپاره د مينې او نفرت تضادونه (نه پخلاکيدونکي تضادونه) ټولنې ته وړاندې کړل. ددې مکتب نامتو فيلسوفانو فارمیندس (۵۴۰–۴۸۰)، (زينون) (۴۹۰–۴۱۰) او زينوفين (۴۸۰–۵۷۰) قبل الميلاد کې ژوند کولو.

د ايليايي فلسفي پوهانو او علماوو د انسان د فکر او عقل په اړه يې هم نظريات وړاندې کړي دي. دوی په دې باور وو، چې ښه او بد، تريخ او خوږ، جګ او ټيټ د انسان د عقل په واسطه سنجول او پيژندل کيږي. نو ځکه حکيم امپيدکلس (انباذ قلس) عقيده درلوده، چې انسان د جماداتو، نباتاتو او د حيواناتو د پړاوونو څخه راتير شوی. پخوانيو يوناني پوهانو انسان د ټولو شيانو معيار او ترازو ګڼلو، نو ځکه د انسانيت مقام ته رارسيدلی دی.

د ايليايي مکتب هومانيستي افکارو څخه وروسته د سوفسطائيانو هومانستان د علم ډګر ته راووتل. د سوفسطائيانو ډير نامتو فيلسوف حکيم پروتاکوراس چې ويل يې (انسان د ټولو شيانو معيار او ترازو دی)[1].

---

[1] ارباب سکندر خليل، فلسفه زړه او نوې، ۲۱ مخ.

لکه څنګه چې له یوه طرفه سوفسطائیانو عقل د دولت، عزت او شهرت ذریعه ګڼله، خو له بلې خوا یې ایتهنز(آتن) نومې ښار کې دلومړي ځل لپاره د یونانی فلسفې مرکز جوړ شو، نو د نوموړي ښار د ټولو حکیمانو نظریات سقراط، افلاطون او ارسطو اغیزمن کړل، چې دغو دریو علماوو یونان یوه زرین دور ته داخل کړ.

دا زرین دور د حکیم سقراط(۴۶۹-۳۹۹ق م)څخه پیل کیږي. لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه، هغه دسوفسطائیانو د نظریاتو څخه اغیزمن او دهغوی د نظریاتو سره همغږی و. د سوفسطائیانو ټولو دا نظر و، چې عامې ښوونې ته دې زیاته پاملرنه وشي. حکیم سقراط په ځانګړې توګه انساني کړو وړو، سلوک، رفتار او په تیره بیا اخلاقو ته زیاته توجه راواړوله. ده د شیانو ځانګړې پیژندنه چې د عقل له مخې پیژندل کیږي او تعلیم او د هغې ارزښت په ټولنه کې، دا د سقراط د ښوونې هومانیزم تشکیلوي.

د سقراط په عقیده، چې که څوک وغواړي چې په سمه توګه کوښښ وکړای شي، نو حقیقي علم به لاس ته راوړي. (هغه حقیقي علم چې د مختلفو ذاتي خیالاتو څخه توپیر لري). هغه طریقه چې سقراط د ځان لپاره انتخاب کړې وه او په لاره یې روان شوی و، په اصل کې استقرایي طریقه وه. د هغه په فکر د علم اهمیت دومره زیات و، چې نیکي هم هغه علم ګڼلو. دا چې حکیم سقراط د ځانه کومه لیکنه او اثر نه دی پریښودلی، خو دده ټوله فلسفه دده د زده کوونکو لکه افلاطون او نورو لخوا وروستیو پوهانو او زده کوونکو ته وړاندې شوې ده.

سقراط د نورو زده کوونکو په څیر په ځوانۍ کې زده کړه او تربیه تر لاسه کړه، خو د یونان او نورو هیوادونو د ځوانانو لپاره یې هم د ښوونې او روزنې د زده کړې وړاندیزونه کول. ده د (دلف) په لویه دروازه لیکلي وو، چې (ځان و پیژنه)[1].

ځکه (ځان پیژندنه) د نړۍ پیژندنه ده، ځان پیژندنه د ټولنې پیژندنه ده، ځان پیژندنه د ښوونې او روزنې او د حقیقي علم لاسته راوړنې څخه عبارت ده.

سقراط تل د یوه شي حقیقت ته رسیدل د پلټنې، څېړنې، محاورې، مشاجرې او د سوال او ځواب له لارې لاسته راوستلو. همدا ډول سقراط ځینې مختلف کلمات لکه فضیلت، عدالت، نیکي او ښایست د فلسفې په حیث د ډیر پراخ مفهوم په ډول کارولي دي، هغه دا مفهومونه او اصطلاحګانې د ډیالوګ له مخې استعمالولې، تر څو چې خپل حقیقت ځانته معلوم کړي.

د سقراط فلسفي بنسټ پر دوو اصولو ولاړ دی، یو اصل یې پوهه او بل اصل یې ناداني او ناپوهي ده. دده د پوهې څخه اصلي موخه دا وه، چې هر سړی باید پوهه او علم لاسته راوړي، ځکه چې د ټولو بدبختیو اساس په ناداني او جهالت کې دی. دسقراط په نظر دلته ناداني د هومانیزم ضد او د انسان دوستي او بشر دوستي ضد څرګندونې دي او که چیرته انسان پوهه او علم لاس ته راوړي، نو په هغه صورت کې به انسان د بدو او ناوړو کارونو څخه ځان وساتلی شي او انسان به هیڅکله د شر او بدبختیو لوري ته ونه هڅوي. د ښه والي په اړه سقراط داسې عقیده لري، چې: (ته ښه پیداشوی یې او که چیرې وغواړې او اراده وکړې، د ښو کارونو په ترسره کولو به وس ولرې، ته په خپل قدرت او قوت باندې تکیه لرې او

---

[1] مهر داد، مهرین، مکتب های فلسفی، ناشر، کانون معرفت، تهران، خیابان لاله زار، کال ؟، ص ۵۷

کوم مافوق شی او یا بشر په هغه څه کې چې ته یې کوي، اغیزه نه لري. خو دغه ستا قدرت په هغه صورت کې ستا د غلبې او بریالیتوب سبب کیږي، چې د هغه څخه ګټه واخلي، د سقراط خبره هم په اصل کې همدغه وه)[1].

د سقراط له نظره نیکي یو کلي امر نه دی، بلکې یو شخصي او عملي شی دی، چې انسان باید په عمل کې ښه وي، تر څو چې په عمل کې هغه ته (ښه لقب) ورکړل شي.

په رښتیا سره د همدې میتود پر بنسټ سقراط حقایق او حقیقت تر لاسه کاوه. نو د هغه د ژوند فلسفه او هومانیزم یوازې د هغه د خپلې وینا او کردار څخه اخیستلی شو، چې د هغه فاضل شاګرد حکیم افلاطون په لیکنو کې موجود دي. دا د سقراط هومانیستي نظریات او افکار وو، چې دده زده کوونکی افلاطون په افکارو یې زیاته اغیزه له ځانه پریښودلې وه.

افلاطون(۳۴۷-۴۲۷ ق م) هم د خپل استاد سقراط په څیر ښه عمل د نیک عمل پایله ګڼله او دی پر دې عقیده و، چې که چیرې خلک نیکي (خیر) وپیژني، نو بدي (شر) به هیڅکله د ځان لپاره خوښ نه کړي.

دغه فیلسوف اخلاقي او هومانیستي مسایل د ما بعدالطبیعه له مخې څیړل او بررسي کول او هڅه یې کوله، چې ټول مسایل د اخلاقي او هومانستي نظریې (مُثل) له مخې حل او فصل کړي. دده په باور چې (خیر) او عدالت الهي ماناوې لري او حقیقي هستي خپلواکه او مستقله ده. انساني روح د بدن د ننوتلو څخه پخوا دمُثل عالم او د (مطلق خیر) څخه سرچینه اخلي او اوس د ترکیب له مخې د

[1] هنري توماس او دانالیتوماس، په فلسفه کې تل پاتې پیښې، ژباړن، نصیراحمد، احمدي، پیښور،۱۳۸۴، ۱۷ مخ.

بدن په تن کې بندي دی او وس نه لري، چې د قدس په عالم کې حرکت وکړي، یعني د خیر او سعادت څخه لیرې شوې ده. ډیره ښه لاره یې داده، چې خپل ځان د چټلی او ناپاکی څخه وساتي، نوبه انساني فضایل تر لاسه کړي)[1].

افلاطون د نیکی مقابله د فکر سره کړې ده، ځکه چې (لمر) د اشیاوو د ودې، نشونما او د ډول ډول ننداړو د کتلو لپاره د رڼا د پیدا کولو وسیله ده. نو (نیکي) هم سمدستي د ټولو شیانو حقیقت او په اخرینې تحلیل کې زموږ د علم سرچینه ده. د افلاطون په نظر چې پاک خلک په باطن او ظاهر کې ښه ټولنه جوړولی شي.

افلاطون د خواهشاتو نفساني نظریه کې د هومانیستي، انساندوستي او بشر دوستي د انسان ضد عملونه په ډاګه شوي دي او هغه انسان چې د نفساني خواهشاتو درلودونکی وي، تل د ځان غوښتنې، خودخواهي، غرور او د انساني ضد عملونو څخه پیروي کوي. نو افلاطون دا ډول عملونه ډیر سخت غندلي او تل یې نورو خلکو او زده کوونکو ته افشا کړي، هغه کس چې نفساني په خواهشاتو کې ډوب وي، نو هغه انسان به تل ذلیل، خوار او تر ټولو انسانانو لاندې وي.[2]

افلاطون زیات آثار لري، چې تر ټولو زیات مهم یې د جمهوریت اثر دی، چې ده په دې اثر کې د افلاطون ټوله فلسفه ځای پر ځای کړې ده او نوموړی اثر د فلسفې دایرة المعارف نمایندګي کوي. ده په دې اثر کې د مدینه ټولنې یا مدینه فاضله د یوې داسې ارماني ټولنې څخه خبرې کړي دي، چې هلته انسانیت بشپړ تحقق مومي او انساني عدالت برقراریږي. د افلاطون په نظر چې یوازې ژوند د

[1] داکتر اصغر، دادبه، کلیات فلسفه، ناشر، دانشگاه پیام نور تهران، ۱۳۷۰، ص ۱۹۰.

[2] احمد ضیاء، نیکبین. مبادي فلسفه، چاپ اول، انتشارات میوند، کابل، ۱۳۸۵ش، ص ۳۷.

عدالت په اساس تاءمینداای شي. عادل انسان یوازې د دندې د سرته رسولو په پایله کې مقصد ته رسیدلی شي، چې دغه مقصد د انسان نیکي ده.

افلاطون بیا وایي، کله چې انسان عادل وي، د فضیلت پیروي به په کلکه وکړي، ځکه چې د روح سلامتي په فضیلت کې پرته ده، پرته د فضیلت څخه انسان ناروغ دی او نشي کولای د انسان هغه دنده چې په عدالت کې پرته ده، عملي بڼه غوره کړي، نو انسان ته نه ښایي چې حیواني لوري ته تمایلات ولري او انسان دښې لارې څخه منحرف کړي.

افلاطون د فضیلت مفهوم او همغږي په څلورو برخو کې ښودلې ده:

چې د عدالت، عقل، اعتدال او شجاعت څخه عبارت دي. خو کله چې معرفت حاصل کړلو، نو فضیلت هم حاصلولای شي.

افلاطون دلته د یوه ظالم په اړه خپله نظریه داسې وړاندې کوي: (ظالم په خپله ناروغ دی، چې خلک بې موجبه زوروي، نوموړی درملو او درملنې ته اړتیا لري. ظالم په خپله له دننه څخه ناروغ دی، په داسې حال کې چې مظلوم د بهرني کس یعني ستمګر لخوا تاوان موندلی دی، چې له دې څخه ښکاري داخلي ناروغي د بهرني تېپ پایله ده.

افلاطون وایي، ددې لپاره چې انسان ظالم ونه اوسي، ښوونې او روزنې ته اړتیا لري، یعني باید د فضیلت سیر او سلوک طریقې پیروي وکړي.

افلاطون د فضیلت درې غټ دښمنان په ګوته کړي، چې هغه عبارت دي له ښځې، طلا او ځمکې څخه. نو له همدې کبله ده چې کله هغه د قوم او ټولنې عدالت له نږدې څخه څېړلو، نو د شخصي ښځې او خصوصي اموالو او املاکو پر خلاف یې نظریات وړاندې کړل.

افلاطون د جمهوریت په کتاب کې د خلکو آزادي محدوده کړه. نیچه (NICHEE) دموکراسي د بې شپونه رمې سره ورته والی بللی او دا د همده تعریف دی. افلاطون د دموکراسۍ سخت مخالف و او دده په عقیده، چې د ټولنې ټول خلک خصوصي ګټې، پر ټولنیزو او ملي ګټو لوړې بولي.

د افلاطون په عقیده ټولنیز عدالت هغه وخت امکان لري، چې خلک عادل شي، ځکه چې ټولنیز اخلاق د ټولنې پر وګړو اغیزې لري.

افلاطون د ټولنې او دولت د ښې رهبرۍ او اداره کولو لپاره ښو رهبرانو، فیلسوفانو او پوه اشخاصو ته داړتیا وړاندوینه کوله. ترڅو وکولای شي د ټولنې او دولت د ادارې لپاره ښه شخصیتونه د ښې روزنې لرونکي وګړي انتخاب او وټاکي.

د سقراط او افلاطون فلسفي نظریاتو د ارسطو پر افکارو هم اغیزې کړې او د هغوی نظریات پر ارسطو باندې د ژوند په ټولو ډګرونو کې څرګند دي. ارسطو د خپل وخت نامتو فیلسوف و او د خپل وخت دایرة المعارف و، ده زیات آثار درلودل، چې ځیني محققین یې د تالیفاتو بشپړ شمېر د څلورو سوو په شاوخوا کې بولي، خو ځیني نور یې بیا د زرګونو په شاوخوا کې ګڼي، ژه چې یې دلته دده د فلسفې هومانیستي اړخ څېړو نو به یې یوازې (اخلاق) (سیاست) او (میتا فزیک) څخه چې فلسفي او هومانیستي موضوعات یې څېړلي دي، باید څه ناڅه ووایم.

ارسطو (۳۸۴– ۳۲۲ق م) په خپل (میتا فزیک) کې فلسفه د علتونو پوهنه بللې ده او په دې اړه وایي: ددې لپاره چې د نورو جزیي پوهنو څخه یې توپیر وشي، نو د لومړنیو علتونو پوهنه ده.

ارسطو د اخلاقیاتو په اړه لیکي چې: (د انسان وروستی هدف نیکمرغي ده. ټول شیان وسیلې دي او نیکمرغي د نیکمرغۍ څخه پورته د فضیلت له لارې تر لاسه کیدای شي. د نیکمرغۍ راز په عمل کې دی، یعني د انرژۍ په مصرف کې دی، خو په داسې توګه چې د شخص د چاپیریال او نهاد سره موافق وي)[1].

ارسطو هم د افلاطون د مفکورې پیروي کوله او ده هم عقل ته زیات ارزښت ورکولو. دده په عقیده: (د انسان دنده ده، چې د عقل څخه متابعت وکړي، ځکه همدغه له عقل څخه متابعت دی، چې انسان له ټولو حیواناتو څخه بیلوي)[2].

د ارسطو د اخلاقیاتو بنیاد د انسان شرف او ځانګړی قوت په عقل او فکر کې لیده، څومره چې د عقل او فکر قوت بشپړوي، نو هغومره به خوش قسمتي او خوشحالي زیاته وي، نو ځکه خوش قسمتي د برتري نوم دی. سم فکر د انسان ذهن روښانه او دده نفس تابع ګرځوي، نو د همدې علت په وجه د نفس غوښتنې موزونې او متناسبې کیږي او میانه رویي اختیاروي. د ارسطو د میانه روي تګلاره هومانیستي تګلاره ده.

ارسطو د کامل انسان په اړه داسې نظر لري، چې: (عقل مند انسان خپل ځان په بیهوده خطرونو کې نه اچوي، خو هر کله چې په ازمایش کې پریوزي، نو صبر کوي او استقلال او خپلواکي له لاسه نه ورکوي، تر دې چې یا خو بریالی شي، یا د

---

[1] سرو پالي، راداکریشنان، تاریخ فلسفه شرق و غرب، مترجم، جواد یوفیان، جلد دوم، چاپ روم، تهران، ۱۳۸۲، ص ۷۲.

[2] مهر داد، مهرین، مکتب های فلسفي، ناشر، کانون معرفت لاله زار، تهران، چاپ (۱۳۷۰) ص ۸۷.

خپل ژوند نه لاس ومينځي، دافراط او تفريط نه بيزار دی، په محبت کې صابر وي او هر حالت کې خپل توازن او توافق حاصلوي)[1].

همدارنګه ارسطو دوستي ته زيات ارزښت ورکوي او ده د دوستي شخه مقصد دانسان سعادت دی او ارسطو دوستي ته په دريو ډولونو کتنه کړې ده، چې هغه عبارت دي له:

١- پر شخصي ګټې ولاړه دوستي.
٢- د تفنن او تمتع لپاره دوستي.
٣- ددوستي لپاره سوچه دوستي.

دده په عقيده په دري واړو کې دريمه دوستي ډيره ښه دوستي ده، چې زياته برياليۍ ده. ددوو تنو دوستانو محبت، د مور او زوی تر منځ د محبت په شير وي. ده خوشحالي او نيکمرغي په نرمۍ کې ليدله. دارسطو په خيال چې (انسان هغه شوک دی، چې نورو ته د خدمت تږی وي، خو په خپله له نورو د خدمت طمع ونه لري)[2].

ده داخلاقو په اړه داسې عقيده شرګنده کړې ده چې: (شوک چې له خلکو سره مينه لري، له ځانه سره يې مينه کړې ده)[3].

ارسطو داخلاقو او سياست په اړه ډيرې ليکنې کړي دي او نوموړی په دې عقيده و، چې اصلي نيکمرغي ښه والی او هغه بيا د روح فعاليت دی. د هر انسان د

---

[1] ارباب سکندر خليل، فلسفه زړه او نوې، ۵۳ مخ.
[2] هنري توماس او دانالي توماس ،په فلسفه کې تلپاتې پيښې، ۶۴ مخ.
[3] محمد ظاهر، افق، د لرغوني يونان فلسفې لنډ تاريخ، علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶۸، ۱۲۵ مخ.

عمل هدف د هغه نیکمرغي ده، چې د فعالیت په وسیله پیژندل کیږي. دغه هدف د یوه بل عالي هدف د خوشحالۍ لپاره وسیله ده.

د ارسطو څخه وروسته فلسفي مکتبونو په ماده کې اتومونه کشف کړل، چې نوموړی مکتب د اتومي فلسفي مکتب په نامه یاد شو.

اتومي فلسفي مکتب دا توضیح کړه، چې کائنات او انساني ټولنې طبیعي او اجتماعي پیښې په خپله په طبیعت او ټولنې پورې اړه لري او حرکت کوي، دا ټول ژوندي موجودات د تدریجي تکامل په پایله کې رامنځ ته شوي دي.

ددې فلسفي مکتب موسس اپیکور او دموکریتوس وو. ددې فلسفې مکتب د تیرو سترو فیلسوفانو په څیر یې د علومو په انکشاف کې زیات بریالیتوب نه درلود، خو د فلسفې په نړۍ کې یې د خرافاتو پر ضد مبارزه پوره د ستاینې وړ ده. دوی د جادوګرو او فالبینو پر ضد داسې هر اړخیزې مبارزې کړي، چې تیرو فلسفي مکتبونو په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کیږي، نو ځکه د فلسفې په تاریخ کې د ستاینې وړ ځای لري.

اپیکور چې د طبیعت په اړه څیړنه کوي نو په دې اړه داسې نظر وړاندې کوي، هغه: (دبشري ټولنې د ټولو موسساتو اساس، وده او تکامل په مادي اصولو کې ویني)[1].

ددې فلسفي مکتب فیلسوفانو په ځانګړې توګه د اپیکور لخوا تدریجي تکامل تیوري ته زیاته وده او انکشاف ورکړ، چې په وروستیو پیړیو کې د(هیګل)او (چارلس ډاروین) په څیر فیلسوفانو او محققینو نوموړې تیوري نوره هم متکامله او بشپړه کړې ده.

---

[1] پورتنی اثر، ۳۷ مخ.

اپیکور د ټولنې د غوښتنو او آرزوګانو په اړه هم څېړنې کړې وې او ده دا غوښتنې او ارزوګانې په دریو ډولونو ویشلې وې:

۱ – طبیعي او ضروري غو ښتنې.

۲ – طبیعي او غیر ضروري غو ښتنې.

۳–غیر طبیعي او غیر ضروري یا خیالي غوښتنې.

ده لومړی ډول غوښتنې او تمایلات هغه ډول غوښتنې وبللې، چې که چیرې تامین نه شي، انسان ژوند نشي کولای لکه، ډوډی، اوبه او داسې نورو ضرورتونو غوښتنې.

ده دوهم ډول غوښتنې، ضرورتونه او تمایلات که چیرې پوره هم نشي، انسان ژوندی پاتې کیږي، خو خوشحاله به نه وي، لکه د ښې ډوډی، ښې اوبه، ښې جامې او ښه اسباب او الات او داسې نور. دریم ډول غوښتنې او تمایلات دده په نزد چې نه طبیعي دي او نه ضروري، حتی بې ځایه او بې نومه دي، لکه حرص، د لوړوالي احساس اوداسې نور...

ده دریم ډول غوښتنې او تمایلات تل غندلي او دې غوښتنو ته یې بد ویلي دي.

په دې توګه وینو، چې د اپیکور په فلسفه کې خوند اخیستنه او نیکمرغي له نړۍ څخه تیښته او له رنځونو او کړاوونو سره مقابله ده. موږ ته دیوژن د فلسفې هغه نظریه را په یادوي چې: (هوسایي زیات غم دی، د بشر بدمرغي همدا ده، چې ډیر راحت غوښتونکی وي)[1].

---

[1] مهر داد، مهرین، مکتب های فلسفی، ناشر، کانون معرفت، خیابان لاله زار تهران، چاپ سال ۱۳۷۰، ص، ۱۰۰.

ځیني پوهان بیا د یوه شي په لاسته راوړلو کې د هغه خوشحالي سبب بولي. سړی باید داسې عمل او کړنه وکړي، چې فقط خوشحالي لاس ته راشي. بیا وایي چې عقلمند انسان ښه انتخاب کولی شي، دوی وایي چې یوازې عقل دی، چې خوشحالي ډیره ښه وسیله ګڼي. سړی چې څومره زیات عقل حاصل کړي، نو هغومره به زیاته خوشحالي لاسته راولي.

داپیکور په عقیده ډیر لوړ لذت د درد له منځه وړل دي او هر هغه څه، چې درد له منځه وړلای شي، هغه عقل دی او حکمت چې د عقل څخه سرچینه اخلي، موږ د شهوت له شره، زیاتو خوړلو، ډار، د مرګ او زړګونو غمونو څخه ژغورلی شي. دی وایي چې عاقل سړی د شهوت او خودخواهي څخه تیښته کوي او د رقابت څخه تزکیه کوي او سعادت د وجدان په آرامتیا کېویني، نه په تحصیل او تجملاتو کې.

ده د دوو دوستانو دوستي ته هم ارزښت ورکولو او په دې اړه یې ویل چې: (د ټولو شیانو په منځ کې چې حکمت یې د ټول ژوند لپاره تیاروي، دوستي له ټولو ډیره مهمه ده) [1].

داپیکوریانو د فلسفي مکتب څخه وروسته د لرغوني یونان بل فلسفي مکتب د کلبیونو په نوم د لوی سکندر په زمانه کې را پیدا شو. دغه فلسفي مکتب چې د لرغونو مکتبونو څخه شمیرل کیږي، دوی بډایي، شان او شوکت او ښه ژوند غندلو. ددې مکتب پیروانو د ټولنې هغه محسوسې خوشحالۍ غندلې، چې په ثروت او اجتماعي امتیازاتو یې تکیه درلوده.

[1] تېر اثر، ۱۰ مخ.

هومانيستان د بشر ټولې مادي او معنوي اړتياوې په يووالي کې ويني.
د هومانيست دنده ده، چې د نورو انسانانو لپاره مادي او معنوي ارزښتونه رامنځته کړي او انسان په ټولنه کې خپل ځان وپيژني او په هغه ټولنه کې د خلکو لپاره مثبتې کړنلارې، چې داکثريت خلکو په کې ګټه وي، بدلونونه رامنځته کړي. د خلکو مثبت عنعنوي کلتور او فرهنګ ته د احترام په سترګه قايل شي.

د کلبيونو د فلسفي مکتب څخه وروسته د (رواقيونو) فلسفي مکتب دی، چې د استاتيک مکتب د پخواني آتن د لويو څلورګونو مکتبونو څخه څلورم مکتب دی، چې په (۳۰۰ ق م) کلونو کې د زينون لخوا تاسيس شوی دی او دا د لرغوني يونان وروستی فلسفي مکتب دی.

ددغې فلسفې نوم د (ستوا) له کلمې څخه راوتلی او (ستوا) بيا په آتن کې هغه دالان و، چې زينون (ددې مکتب موسس) په هغه کې خپلو شاګردانو ته د فلسفې لوست ورکولو.

راوقيون ديو لړ علومو په باب دا ډول عقايد اونظريات درلودل:

منطق (د جنګ او مبارزې وسيله) فزيک (حاصلخيزه خاوره) او اخلاق يې (ميوه) دي. خو فلسفه يې د اخلاقو سره زياته نږدې او تړلې بللې ده.

رواقيونو د طبيعت د تحليل او څېړنې له مخې مادي فکر کاوه او ټول جهان يې د ګڼو تغيير منونکو شيانو او حوادثو مجموعه ګڼلې ده. دوی په دې عقيده وو، چې بې له مادي جسمونو څخه بل شی موجوديت نه لري او دغه څلور مقولې يې کشف کړې لکه: لومړی: موجوديت، دوهم: کميت، دريم: حالت او څلورم: نسبي حالت.

نوموړي مکتب د هیراکلیت او کلبیونو د فلسفي افکارو څخه زیات اغیزمن شوی و او د لرغوني یونان تر ټولو وروستی ماتریالیستي فلسفي مکتب ګڼل کیږي، نو کله چې رنسانس راورسید، نو یې تر ۱۹ پیړۍ پورې نوموړی مکتب دوام وموند. رواقي فلسفي اخلاقو پر شکسپیر، شیللر، سپینوزا، کانت او د فرانسې د لوی انقلاب پر یو لړ رهبرانو هم اغیزې کړي دي.

دوی خود بخودي په غیري شعوري توګه د پیژندنې او معرفت پر تیوري باندې هم بحث کړی او دې پایلې ته رسیدلي، چې ویل یې: (مفکورې په دماغ کې د شیانو مهر او نښانه ده)[1]. د انسان د نیکمرغي په اړه وایي: (انسان د طبیعت سره سم ژوند کول اصلاً د نیکمرغۍ سره مطابق ژوند کول دي، نو ددغه کار سره هوښیار سړی د خپل ژوند لپاره یوه خوشحاله او آرامه لاره پرانیزي)[2].

ددې مکتب اصول دا دي:

۱- فردي ګټې د ټولنې د ګټو څخه قربان شي، خو جهاني ټولنه نه بل ملي دولت.

۲- ټول خلک په حقوقو کې یو د بل سره مساوي دي، بې له دې، چې د دوی مال، مقام او نژاد یا فرهنګ ته توجه وشي.

۳- جهاني ټولنه یوازې ایدیال دی او بس.

---

[1] محمد ظاهر افق، د لرغوني یونان فلسفې لنډ تاریخ، ۱۵۵ مخ.

[2] پورتنی اثر، ۱۵۶ مخ.

۴- دلومړۍ دورې رواقيـون د خـداى (ج) لـه وجـود څخـه منكـر وو او ماترياليستي عقايد يې درلودل.

۵- نژاد - نژاد انسان دى، نه كوم خاص نژاد، د انسان حقوق او شان د احترام وړ دي، بې له دې چې مال، مقام او فرهنګ ته يې توجه وشي.

دا وروستى مكتب دى، چې د لرغوني يونان فلسفه هم پرې پاى ته ورسيده او كومه بله داسې مشهوره فلسفه ترې نه ده پاتـه شوې، چې خپلواكې مدرسې ځنې جوړې شوې وي.

پـه پايلـه كـې ويـلاى شـو چـې د لرغـوني يونـان فلاسفه و دژونـد پـه مختلفو دورو كې د فلسفي نظرياتو د پيل څخه بيا تر ننۍ ورځې پورې د نړۍ د پيژندنې يا د كوسمولوژي پـه اړه ژورې مطالعې كړي او پـه دې هڅه كې وو، چې مادي جهان، ماده او د هغې اشياو چې مادي دي، هغـه وڅيړي، چې ماده څه شى ده؟

ډيـــر وروســـته فيلـــسوفانو د انـــسان پيژنـــدنې يـــا (ANTHROPOLOGY) د خاصـې پـامارنې وړ وګرځيـده او سـقراط لومړنى فيلسوف و، چې د خپلواكۍ مفكوره يې د انسان د فضايلو او د هغه مقام او ارزښت پـه اړه ټول پام انسان تـه شو او ټولـه توجه هغـه د خپـل ځان پيژندنې ته واړوله، نو لـه همدې كبلـه چې انسان پيژندنې دوره يوه منظمـه دوره د يونـان پـه فلـسفه كـې رامنځتـه شوه او د يونـان ډيـر متفكـرين لكـه د موكريتوس، افلاطون او ارسطو د فلسفې ميدان ته راووتل او فلسفي مباحثو ته يې يو ځانګړى نظام جوړ كړ. پـه نوي عصر كې د فلسفې پـه نويـو بحثونو كې يو هم د وجود يا هستي پيژندنې بحث وو، چې د فلسفې د مهمو بحثونو څخـه شـميرل كيـدلو. د ارسـطو د فلـسفې څخـه وروسـته پـه فلـسفه كـې

اخلاقي بحثونه او موضوعات د علمي حکمت په چوکاټ کې را پیدا شول او اخلاقي فلسفه یې رامنځته کړه.

په اروپا کې د منځنیو پیړیو په دوران کې فلسفه ددین په خدمت کې شوه او مسیحي فلسفې هڅه کوله، تر څو د یونان فلسفه (په ځانګړي ډول د افلاطون او ارسطو حکمت) د مسیح دین سره یو ځای کړي او له هغې د خپلې ګټې په محور استفاده وکړي.

وروسته له رنسانس څخه د اروپا په فلسفه کې علمي او هنري انقلاب چې په ۱۴ مې او ۱۶ مې میلادي پیړۍ کې یې دوام درلود، د اروپا متفکرانو د زړو مفکورو او عقایدو پر ضد قیامونه وکړه او ارسطویي فلسفه یې د کلکې نیوکې لاندې ونیوله او د کانت لخوا نوې فلسفه پیل شوه.

**ج: هومانیزم داسلامي فلسفې له نظره:**

له نن څخه څه دپاسه (۱۴۰۰) کاله وړاندې یوه داسې ستره پیښه رامنځ ته شوه، چې دنړۍ او انساني ژوندانه بر خلیک او تګلاره یې بدله کړه، دغه ستره پیښه دنړۍ په تاریخ کې دستراو بې ساري انقلاب پیل و. ددغه انقلاب نښې نښانې دحضرت محمد(ص) دزیږېدنې له لومړنیو شیبو څخه ولیدل شوې او د ټولو کفارو په زړونو لویه ویره خپره شوه. خدای پاک(ج) دغه ماشوم ددې لپاره پیدا کړی و، ترڅو نه یوازې په عربستان کې بلکې په ټوله نړۍ کې د ظلم، بې عدالتۍ، جهالت، تعصب او د انسانانو د محرومیت شپې او ورځې پای ته ورسوي. ده په ډېره لږه موده کې د اوږدې زمانې ظلم، تورتم او بې عدالتي دتل لپاره له منځه یوړه او د انسانانو لپاره یې انساني چاپیریال رامنځ ته کړ او انسان ته یې هغه مقام ورکړ، چې وړ یې و، یعني اشرف المخلوقات یې وګڼلو.

دغه داسلام دين دی، چې د بشر په ژوندانه کې يې لوی بدلونونه راوستل. همدغه بدلونونه دي، چې تر اوسه پورې دنړۍ په بيلابيلو هيوادونوکې او په تيره بيا په اسلامي نړۍ کې د انساني ژوندانه داسې يو بنسټ کيښودل شو، چې انسانانو ته يې د مينې او ورورۍ په سترګه وکتل او په نړۍ کې د دوستۍ او ورورۍ احکام يې رامنځ ته کړل، چې تر اوسه پورې د ټولو وضع شويو قوانينو، بشري حقونو او د انسانيت بنياد جوړوي.

رسول اکرم(ص) دداسې نظام بنسټ کيښود، چې د هغه پر بنياد يې ټول مسلمانان مکلف کړي دي، چې يو د بل پر مال او ځان تيری ونه کړي او د پرديو پر وړاندې به د خپل ځان، مال او سر ساتنه کوي. په داسې حال کې، چې د بشري حقونو داعلاميې څخه څه کم ۶۰ کاله تيرېږي، داوسنۍ زمانې انسانانو ددې وس نه دی موندلی، چې يو انسان د بل انسان له تيري او تجاوز څخه په امن کې وساتي، خو رسول اکرم(ص) په څو ورځو او څو مياشتو کې انسانان دې ته حاضر کړل، چې يو دبل مال او عزت وساتي او د يو او بل پر وړاندې تيری او تجاوز ونه کړي.

هغه څه چې د اسلام دين څه د پاسه (۱۴۰۰)کاله د مخه په حجاز کې پلي کړي دي، دشپاړسمې پيړۍ نه راپه دېخوا د اروپا په ځينو برخو کې د يوه لوی انقلاب او بدلون په بڼه راڅرګند شو، چې تر ننه پورې انسانان ورته آزادي ورکوونکی خوځښت او ستر انقلاب وايي، خو دا هغه الهام و، چې بشر د اسلام له سپيڅلي دين څخه اخيستی او په اروپا کې يې د غلامانو دآزادۍ غږ په داسې حال کې راپورته کړ، چې تر هغه(۱۲۰۰)کاله د مخه اسلام مريیتوب له منځه وړی و.

په اروپا کې د ښځو د حقونو غږ هغه مهال راپورته شو، چې اسلام تر هغې (۱۲۰۰) کاله وړاندې هغو ښځو ته چې ژوندۍ خښیدې، خو په ډیره لږه موده کې په سیاسي، اقتصادي چارو کې د ونډې اخیستلو جوګه شوې او د ټولو انساني حقونو نه برخمنې شوي دي، چې اسلام ور کړي دي.

۱ – د اسلام اخلاقي نظام:

لویدیځې نړۍ که څه هم نن سبا د تخنیکي پرمختیاوو له امله ډیره پرمختللې ده او د انساني ژوند مادي اړخ یې خپل اوج ته رسیدلی دی، خو په خواشینۍ سره د انساني ژوندانه دا بل اړخ یې چې خورا مهم دی او هغه د انساني ژوندانه معنوي اړخ دی، له لوی ذلت سره مخامخ کړی دی. نن سبا په لویدیځ کې (اخلاق) له یوه سره د انساني ژوندانه دیوې ډیرې مهمې او اړینې برخې په توګه نفی کړای شوی دی، همدا لامل دی چې د ختیځ مسلمان نابغه علامه اقبال، چې لویدیځ یې نږدې لیدلی او مطالعه کړی دی، د لویدیځ ژوندانه په اړه وایي:

مـی از میخانـهٔ مغرب چوشـیدم
بجـان مـن کـه درد سـر خریـدم
نشیـــستم بانکویــان فرهنگـــي
و آز آن بی سوز تـر روزی ندیـدم[1]

اخلاق په انساني ژوندانه کې داسې مثال لري لکه یو سړی ګرانبیه (قیمتي) خواړه پاخه کړي خو که چیرې مالګه په خوړو کې نه وي، نو ډیر پیکه او بې خونده وي، چې هغې ته بې مالګې خواړه وایي.

---

[1] فدا محمد، فایض، پیام، په انساني ژوندانه کې د اخلاقو اړین توب، اول حمل، ۱۳۹۰، ۶ مخ.

داسلام مقدس دين ديوه الهي دين په توګه دې مسئلې ته ډېره پاملرنه کړې ده ، ځکه خو دکائيناتو ستر خالق او مالک خپل وروستی پيغمبر (ص) ته داسې خطاب کوي : ((او يقيناً ته ډېرو لوړو اخلاقو خاوند يې . )) [1]

پيغمبر اکرم (ص) فرمايي : (( زه ددې لپاره را استولی شوی يم چې داخلاقو مکرم فضايل پر تاسو تمام کړم . )) [2]

حضرت حسن بصري (رح) چې يو ستر تابعي دی وايي چې ((دښېرې تازه والی ، سخاوت او چاته ضرر نه رسول حسنه اخلاق دي . )) [3]

دنيکو اخلاقو لپاره په عامه توګه لاندې صفات بيانيږي :

حيا ، ضرر نه رسول ، دنيکو کارونو ډېروالی ، رېښتينې ژبه ، کمه وينا ، ډېر عمل ، دتېروتنو لږ والی ، دبې باکو کارونو نه کول ، ښې اړيکې ساتل ، وقار او عزت ، صبر ، قدرداني ، رضايت او خوښي ، حلم او وفاداري ، له رزايلو نه ځان ساتنه ، لعنت نه ويل ، کنځل نه کول ، غيبت نه کول ، تامل ، کينه نه لرل ، له بخل نه ځان ساتنه ، خوښي او ناخوښي دالله لپاره او داسې نور ....

---

[1] دالقلم سورة څلورم ايت

[2] البخاري ، محمد بن اسماعيل، الادب المفرد ، ، دار البشائر الاسلاميه ، بيروت ، دريم چاپ ، ۱۹۸۹م ، ۱۰۴مخ .

[3] فدا محمد، فايض ، پيام ، په انساني ژوندانه کې داخلاقو اړين توب ، اول حمل ، ۱۳۹۰ ، ۷ مخ .

خو په اسلامي ټولنه کې دافرادو په کچه ډېر کمزورۍ موجودې دي او ډېر کسان له هغو صفاتو نه بې برخې دي ، چې دحسن خلق لرونکي مسلمان لپاره ضروري وي ، خو دا دافرادو کمزوتیا ده ، نه داسلامي فرهنګ .

په یوه هیواد کې یوه سالمه ټولنه تر هغې پورې نه شي جوړېدلای ، چې په هغه ټولنه کې اخلاق په رښتیني توګه نه وي راغلي . نو په دې توګه اخلاق د نفس څرنګوالي ته وایي، چې له انسان څخه د هغه په واسطه په آساني سره کارونه صادرېږي، چې تامل او فکر ته اړتیا نه لري. اسلام اخلاقو ته زیات ارزښت ورکوي. امام غزالي وایي : ((هر صفت چې په زړه کې پټ وي، آثاریې په غړو کې څرګندېږي، که ته وغواړې او که ونه غواړې، له هغه سره سم حرکت کوې.))[1]

• اخلاق د انسان د افعالو ښه والي او بد والي سره اړیکې لري، چې دا په خپل ذات کې د هومانیزم سره اړیکې دي، ځکه ټول صالحین د نفس په پاکوالي او د اخلاقو په ښه کولو کې کوښښ کوي. رسول اکرم(ص) د ښو اخلاقو استاد و، چا دده څخه پوښتنه وکړه، چې دین څه شی دی؟ محمد(ص) په ځواب کې ورته وویل : ښه اخلاق. همدارنګه په بل حدیث کې فرمایي((د میزان په تله کې له نیکو او غوره اخلاقو څخه دروند هیڅ شی نشته)).[2]

---

[1] ـ أریانا دایرة المعارف(دوهم دور)، لومړي ټوك ، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۸۶ کال ۳۸۹،مخ.

[2] ـ پورتنی اثر،۳۸۹ مخ.

په اسلام کې اخلاق پراخ او عام مفهوم لري، چې په وعده وفا، اصراف نه کول، له ظلم او تیري څخه ځان ساتل او داسې نور... ډیر ډولونه په ښو اخلاقو کې شامل دي.

دروغ ویل، تکبر، فخر او ریا کاري د زړه له مهلکو ناروغیو څخه ګڼل کیږي، چې د انسان د زړه نور له منځه وړي او د پروردګار له رحمت څخه یې بې برخې کوي.

۲– د اسلام ټولنیز نظام:

د اسلام ټولنیز نظام چې په اسلامي نړۍ لید ولاړ دی، د انسان ټولنیز موقعیت، د ټولنې له وګړو سره اړیکه، افکار، نظریات او خپل کارونه د دغه پر اساس تنظیموي، دغه اسلامي ټولنیز نظام لاندې ځانګړ تیاوې لري:

الف: د ټولنې ټول غړي د ایمان او اسلامي عقیدې پر اساس په خپل منځ کې اړیکه ساتي، حتی غیر مسلم هم ددوی په منځ کې د آرام ژوند حق لري، خو شرط دا دی، چې د اسلام او مسلمانانو د مصلحت خلاف کارونه به نه کوي، سر، مال او ددوی عزت د مسلمانانو تر حاکمیت لاندې په امن کې وي.

ب: په اسلام کې قومي، نژادي، قبیلوي او ژبني امتیازات او برتري ځای نه لري. په اسلام کې د امتیاز معیار یوازې تقوا ده او اسلام مسلمانان دې ته رابولي چې ((إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ))[1]

ج: په اسلامي ټولنه کې پرهیزګاري د ټولو فضیلتونو سرچینه بلل کیږي. ظلم، کبر، ځان غوره ګڼل او طبقاتي توپیرونه باطل ګڼل شوي دي. د ټولنې ټول وګړي برابر حقونه لري او یو ځای ژوند کوي.

---

[1] قرآن کریم ۲۶ پاره، الحجرات سوره، ۱۳ آیت.

د: د ټولنې وګړي مسؤلیت لري، چې هر مسلمان وګړی په اسلامي ټولنه کې شرعي مکلفیت لري، چې د ټولنې په اصلاح او سمون او خیر ښیګڼه او ښو اخلاقو په رواجولو او تبلیغ کولو کې ډېره مرسته وکړي او په مقابل کې خپل اسلامي دین (پور) ترسره کړي.

الله تعالی فرمایي: ((ژباړه: یو بل سره په نیکۍ مرسته وکړئ او مرسته مه کوئ په بدۍ سره)).[1]

الله تعالی وایي چې د حلالو شیانو څخه په ښه طریقه کار واخلئ، چې دا یو ښه کار دی او زموږ دین د انسان د ژوند په ټولو برخو کې پوره څېړنې کړي دي او اسلام په آسماني ادیانو کې وروستی او بشپړ دین دی، چې په ۶۱۱ میلادي کال کې د حضرت محمد (ص) په واسطه د خدای (ج) د امر سره سم په نړۍ کې راڅرګند او خپور شو.

۳- په اسلامي نظام کې د بشري حقونو او بشرپالو نظریاتو څرک:

د اسلام مقدس دین د انسان بشري کرامت ته په ډېر لوړ ارزښت قایل شوی دی ، یعنې انساني کرامت او مقام ته په دومره زیاته اندازه قایل شوی ، چې حتی هغې وړې نطفې ته هم د قدر او درنښت په سترګه ګوري او د هغې سقط (زیانول) هم د جنایت په نوم پېژني او په اسلامي شریعت کې په دې اړه ځانګړي احکام موجود دي، چې د ژوند د پیل څخه تر مرګه او د مرګه څخه وروسته هم د درنښت او قدر وړ ګڼل شوي دي ، انسان په مخلوقاتو کې اشرف ګڼل شوی او د عالي موجوداتو څخه شمېرل کیږي ، دی د نورو ژویو څخه ځانګړنه لري ، چې په ټولو موجوداتو کې

[1] سورة المائده ، ۲ ایت .

دده غوره والی په عقل ، خبرو او بیان او اراده کې پروت دی او تر ټولو مهمه یې داده چې خیر رسوونکی دی .

الله (ج) فرمایي :

قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً...[1]

ژباړه : الله (ج) خپلو فرښتو ته وویل چې زه په ځمکه کې خلیفه پیدا کوم .

الله تعالی فرمایي :

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ [2]

ژباړه : انسان مو ډېر ښکلي شکل او قیافه پیدا کړی دی .

دانسان دغه لوی کرامت او شرافت دیوې ټاکلي طبقې او ځانګړو جغرافیوي پولو پورې تړلی نه بولي ، بلکې دځمکې پر مخ ټول انسانان او افراد دانسان په نوم یادوي .

انسان داسلام له نظره دنړۍ له ډېرو درنو مخلوقاتو څخه ګڼل کیږي ، لکه :

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا . [3]

ژباړه : په رښتیا سره دادم اولاد مې داحترام وړ وګڼلو او هغه مې په وچه او لنده کې دپاکو څیزونو څخه ده ته روزي ورکړه او هغه مې دزیاتو موجوداتو څخه غوره ګڼلی دی .

---

[1] سورة البقرة ، ۳۰ اية .

[2] سورة التين ، ۴اية .

[3] سورة الأسراء، ۷۰ اية .

نو په رښتیا سره الله (ج) انسان ته ټوله هستي په اختیار کښې ورکړې ده، یعنې ټول اسماني او ځمکنۍ پدیدې لکه لمر، ستوري، سپوږمۍ، شپه او ورځ، اوبۀ، وچه، سیندونه، وابښه او حیوانات ټول دانسان دګټې لپاره پیدا کړي دي. الله تعالی فرمايي:

هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا.[1]

ژباړه: الله تعالی (ج) دځمکې ټول شیان ستاسې دګټې په موخه پیدا کړي دي.

د اسلامي نظام حقوقي قواعد او بشرپال نظریات د ټولنیز نظام او فردي تګ د تنظیم او اداره کولو لپاره وضع شوي دي. اسلامي حقوقي نظام هغه اصول چې د عدالت، مساواتو او په وعده باندې د وفا پر اصولو بنا دي، طرحه کړي دي. په اسلامي فقه کښې ځانګړي فصلونه د جګړې د ادابو په اړه احکام او قوانین شته والی لري او مختلف فقهي احکام په هر وخت کښې د وخت د غوښتنو او ځانګړتیاوو سره سم رامنځته شوي او دمسلمانانو غوښتنې یې په پام کښې نیولي او د جګړې د مختلفومسایلو په تیره بیا د جګړې ددښمن او اسیرانو په اړه یې بشرپال مقررات او احکام وضع کړي او مطرح کړي دي.

په اسلامي نظام کښې د جګړې په اړه مقررات او قوانین وضع شوي، لکه: دغلو او لار وهونکو پر ضد جګړه:

د اسلامي حقوقو په نظام کښې د دښمن پر وړاندې جګړه هغه عمومي او کلي قاعده وه، چې سلونو کلونو وروسته د بشر د حقوقو په مقرراتو او معاهدو کښې

[1] سورة البقرة، ۲۹ ایة.

اعلان شوې وه، چې یوازنۍ موخه یې د جګړې د ډلو کمزوري وه، قرآن کریم په دې اړه فرمایي:

ژباړه:

((دالله په لیاره کې د هغو کسانو سره و جنګیږئ، چې ستاسو سره جګړه کوي، خو تاسو (د ټاکلو حدودو او ټاکلو موازینو څخه) تجاوز مه کړئ)).[1]

ددې الهي فرمان پر بنسټ د جګړې معیار روښانه کیږي او دمتضادو ډلو د جګړې دآزادۍ کره وړه او د جګړې لارې چارې محدودوي، چې له چون و چرا پرته د جګړې د مقرراتو او قوانینو مراعاتول باید وشي.

په اسلامي حقوقو کې د وسله والو متضادو ډلو مقررات په څو ډولونو محدودیتونه موجود دي:

الف_ د وسلې د استعمال محدودیت:

اسلامي فقهې د وخت د غوښتنې سره سم د جګړې په وخت کې د وسلې د نه استعمال فتوا ورکړې وه. په اسلام کې جمعي قتلونه منع شوي دي، هر سړی د خپلو کارونو او کړو وړو مسؤلیت لري.

ب_ په جګړه کې د دښمن سره چال چلند محدودیت:

باید د نظامیانو او غیرنظامیانو تفکیک وشي او له هغو کسانو څخه ملا تړ وشي، چې له جګړې څخه لاس اخلي، نو نن ورځ د انسان په اړه د بشر حقوق د همدغو کسانو په خدمت کې دي. په داسې حال کې، چې ډیر پخوا د اسلام په حقوقي نظام کې دا ډول مقررات او قوانین موجود وو. قرآن کریم په دې اړه فرمایي: ژباړه: (( تر هغه وخته پورې چې دښمن ستاسو سره عادلانه چلند کوي،

---

[1] سورة البقره، ۱۹۰ اية.

تاسو هم له هغوی سره عادلانه چلند وکړئ))[1] او بیا وایي: که چیرې هغوی له جګړو څخه نفرت لرلو او جګړه یې نه غوښتله او دسولې وړاندیزیې کولو، په دې صورت کې خدای(ج)تاسو ته د جګړې اجازه نه درکوي.[2]

د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) فرمایي: ((د خلکو محبت او مینه د خپل ځان لپاره را جلب کړئ او له هغوی سره ښه چلند وکړئ، مخکې له هغې چې تاسو پر هغوی برید وکړئ، هغوی اسلام ته را دعوت کړئ، زه خپل هیوادوال ته دا خوښوم، یا ماته راشي یا اسلام قبول کړي او یا یې قبول نکړي.))[3]

حضرت محمد(ص) خپلو جنګیالیو ته دستور ورکړ ((په جګړه کې مکر او نیرنګ په کار مه وړئ او د مړي په جسد ملنډې مه وهئ، ونې مه پرې کوئ، مګر دضرورت په مورد، زړې ښځې او کوچنیان په قتل مه رسوئ)).[4]

په جګړه کې د دښمنانو سره د چال چلند د طریقې محدودیت د اسلامي حقوقي نظام لخوا پوره رعایت شوی دی، په همدې ډول په جګړه کې ځینې چال چلندونه منع شوي دي، چې هغه عبارت دي له:

- انتقام کوونکي اعمال ترسره نشي.
- په ټولیزه توګه دښمن باید ونه وژل شي او له دوی څخه د تسلیمۍ حق وانه خیستل شي.

---

[1] علی، رضایی، روحانی، بررسی تطبیقی بشردوستانه... ،وزارت خارجه، مطالعات سراتیژیك، شماره ۱۶-۱۵، کابل، ۱۳۸۷، ص ۹۷.

[2] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

[3] پورتنی اثر، ۱۰۰ مخ.

[4] پورتنی اثر، ۱۰۰ مخ.

_ له زخمیانو سره ناوړه چلند ونه شي.

_ له خوړو او څښباک له اوبو څخه محروم نه شي.

_ ونې او تعمیرونه له منځه ولاړ نشي.

داسلامي حقوقو له نظره هیوادوال او یا ملکي وګړي یعني غیر پوځیان په مطلق ډول د حمایت وړ دي، خو ځیني نور قشرونه او طبقې لکه: کوچنیان، ښځې، زاړه، سوداګران، بزګران، پیغام وړونکي. دیني لارښوونکي او روحانیون له تیري څخه خوندي دي. دا ټول هغه بشرپال اصول دي، چې د اسلام د سپیڅلي دین په سر کې وضع شوي او مسلمانانو ته یې لارښوونه کړې ده.

د هر مسلمان او انسان اصلي حق د ده د طبیعي ژوند حق دی. په اسلام کې دغه طبیعي حق ته ډیر درناوی شوی دی. قرآن کریم د انسانانو وژنه یعني د نورو وژنه او د خپل ځان وژنه منع کړې ده. قرآنکریم په دې اړه فرمایي: (( وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ))[1].

ژباړه: د ځانونو لپاره هغه انسانان چې خدای پاک (ج) ته د احترام وړ دي، مه وژنئ، مګر په هغه څه چې په حق وي.

په بل ځای کې بیا فرمایي((وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا))[2]

ژباړه: د خدای (ج) په لاره کې د هغو سره وجنګیږئ، چې له تاسو سره جنګیږي، خو د حد څخه تجاوز ونه کړئ.

---

[1] سورة الانعام ۱۵۱ اية.

[2] سورة بقره ۱۹۰ اية

له دې ټولو مبارکو آیتونو څخه په ډاګه معلومیږي، چې الله (ج) انسان د ځمکې پر مخ خلیفه ګرځولی او په قرآن کریم کې داسې ستایل شوی دی، چې فرمایي: (( وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ))[1].

ژباړه: او موږ عزت ورکړی دی اولادې دآدم لره، او سواره کړي دي موږ دوی په وچه او په دریاب کې، او رزق ورکړی دی موږ دوی ته د پاکو څیزونو نه، او فضیلت ورکړی دی، موږ دوی ته په ډیرو هغو کوم چې پیدا کړي دي موږ په فضیلت سره.

دبني آدم فضیلت په څه کې دی؟

په اکثرو مخلوقاتو باندې دآدم داولاد ځلور غوروالي ذکر شوي دي، په دې کې دوه خبرې دغور وړ دي: لومړی داچې داغوروالی په کومو صفتونو او کومو وجهو سره دي. دوهم داچې په دې کې یې فضیلت ورکول په اکثرو مخلوقاتو باندې بیان کړی دی، ددې څخه مراد څه دی؟

دلومړنۍ خبرې تفصیل دادی، چې الله تعالی (ج) بني آدم ته په مختلفو حیثیتونو سره داسې خصوصیات ورکړي دي، کوم چې په نورو مخلوقاتو کې نشته، مثلاً دصورت ښایست، دبدن اعتدال، دمزاج اعتدال، د قدو قامت اعتدال کوم چې انسان ته ورکړ شوی دی، چې بل ژوي ته نه دی ورکړ شوی. سربیره پر دې په عقل او شعور کې ده ته ځانګړی امتیاز ورکړ شوی دی، چې دی ددې په ذریعه کولای شي د ټولو کائناتو څخه دخپل ځان په ګټه کار اخیستی شي.

---

[1] سورة اسراء، ۷۰ أیت.

اسلامي فلسفه تل دانسان مقام او هغه ته دارزښت په حیث قایله ده، اسلامي فلسفې دانسان ظلم غندلی دی او تل یې د ظلم، تیري او تجاوز عمل بد ګڼلی دی. د اسلامي فلسفې او د پوهانو له نظره ((ظلم دې ته وایي، چې انسان له حق څخه باطل ته تیری او تجاوز وکړي او همدې عمل ته چې د عدل او انصاف څخه انحراف دی ،دې ته ظلم وایي))[1].

خوځیني وختونه کولای شو، چې پر خپل ځان باندې هم ظلم وکړو،لکه چې الله تعالی (ج) فرمایي ((فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِه))[2].ژباړه: (( په دوی کې ځیني داسې دي، چې په خپلو ځانونو ظلم کوي)). هر ډول ظلم چې وي، عواقب دانسان خپل ځان ته متوجه وي، له دې څخه په ډاګه ښکاري، چې ځان وژنه هم د خپل نفس وژنه ده، چې د خپل ځان په اړه زیات ظلم دی. چې دې ډول ظلم ته کبیره ګناه هم ویل کیږي.

الله تعالی (ج) پر انسان ډیر مهربان دی او زیات ترحم پر انسانو لوروي. له ابوهریره (رض) څخه روایت دی، چې ماله رسول اکرم (ص) څخه واوریدل، چې فرمایل یې: (((جعل الله عزو جل الرحمته مائته جز فامسک عنده تسعته و تسعین وانزل فی الارض جزآ واحدآ فمن ذلک اجز عن ولدها خبسته ان تصیبه))[3].

---

[1] تکبیرجریده، ظلم داسلام له نظره او دهغې ډولونه،۳۳ ګڼه جدي،۱۳۸۵ ، ۶مخ.

[2] سورة فاطر ۳۲اية

[3] محمد فواد ، عبدالباقي، خرجه البخاری فی الادب المعزد،(ژباړه داکتر شهر علي ظریفي ) دارالبشائر اسلامیه،بیروت، لبنان، چاپ ۱۹۸۹ ، ص ۴۹.

((الله تعالی (ج) رحمت سل برخې کړي، نه نوي برخې یې له ځانه سره پرې ایښي او یوه برخه یې ځمکې ته رالیږلې، نو له همدې یوې برخې څخه مخلوقات یو په بل رحم کوي، آن تر دې چې آسپه له خپل بچي څخه پښه اوچتوي، ددې لپاره چې لاندې یې نه کړي)).[1]

په بل ځای کې له عبدالله بن عمر (رض) څخه روایت دی، چې رسول اکرم (ص) فرمایي: ((الرحمون یرحیم الرحمن، الرحمولاهل الارض یرحمکم من فی الشمآ))[2]. ژباړه: ((په زړه سوانده خلکو رحمان (الله تعالی) رحم کوئ، تاسې د ځمکې په والاوو رحم وکړئ، په تاسو باندې به هغه څوک رحم کوي، چې په آسمان کې دی)).

د ظلم په اړه عمر (رض) څخه روایت دی چې فرمایي: ((یو انسان د بل انسان سره باید کینه او حسد ونه کړي او یو د بل په سیالۍ کې د مال بیه اوچته نه کړي او یو له بل سره دښمني ونه کړي، او یو د بل باید وروڼه جوړ شي، پرچا ظلم مه کوئ او نه به یې رسوا کوئ او نه به په سپکه سترګه ورته ګورئ. د هر انسان وینه، شتمني، عزت، تیری او تجاوز پر بل هر انسان باندې حرام دی))[3].

همدارنګه حضرت محمد (ص) د مظلوم، یتیم. ګاونډي او غریب په اړه ډیر نصوص او ویناوې لري. دی د مظلوم او یتیم په اړه فرمایي: ((د یتیم له اوښکو او د

---

[1] البخاري، محمد بن اسماعیل، الادب المفرد، ج اول، ص ۴۸.

[2] ابو داود، سلیمان بن اثعث السجستانی، (ژباړه: ډاکتر شهر علي ظریفي) بیروت لبنان، ۴ټوک، ص ۴۴

[3] ابو داود، سلیمان بن اثعث السجستانی، (ژباړه: ډاکتر شهر علي ظریفي) داراکتاب العربی، بیروت، لبنان، ۴ټوک، ص ۴۴۱

مظلوم لـه ښـیرا څخـه ځـان وسـاته، ځکـه د مظلـوم او یتـیم د ښـیرا او ژړا او الله تعالی (ج) تر منځ پرده نشته)).[1]

په بل ځای کې رسول اکرم (ص) فرمایي: ((من طعال عدوانه سلطانه))[2].

ژباړه: ((د چا چې تجاوز او تیری اوږد شولو، سلطنت به یې زوال مومي)).

لنډه دا چې د اسلام دین، چې د انسانیت، بشردوستي، مرستې او همدردۍ دین دی، چې په حضرت محمد (ص) باندې د خدای (ج) لخوا نازل شوی دی. دا هغه مکتب دی، چې پکې شامل ټول عناصر لکه: اخلاق، سیاست، اقتصاد، تشکیلات، فلسفي عقاید او افکار... یو له بله سره تړلي او همغږي دي، چې په ټولو کې یې وینه بهیږي او په یوه روح ژوندي دي.

اسلام د انسانیت، عدالت، کرامت او برابرۍ تعبیر دی. اسلام غواړي چې سپیڅلي هومانیستي قوانین او احکام د انسانانو د عزت او آبرو د ساتنې لپاره برابر او ترڅو چې د خلکو عزت، ابرو، برابري، مساوات، وروري، مرسته او همدردي وساتي.

اسلام خلکو ته وایي، چې یوازې د الله (ج) عبادت وکړئ او له خدای (ج) څخه مرسته او کومک وغواړئ. همدارنګه اسلام خلکو ته وایي چې د هغه هومانیست، انسانیت غوښتونکی او د اخلاقو ریښتینی پیغمبر ومنئ. ځکه چې دی ستاسو د نیکې لارې، انسانیت، انسان دوستۍ او همدردۍ د لارې لارښوونه کوي او په ژوند کې انسان ته د نیکمرغۍ درس ورکوي.

په اسلام کې انسان اشرف المخلوقات دی او له همدې کبله یې مریتوب ناجایز عمل بللی او هغه یې منع کړی دی. انسان آزاد پیدا شوی او تر آخره به آزادوي، نو تاسې

---

[1] رسول، جعفریان، تاریخ سیاسی اسلام، جلد دوم، چاپ وزارت فرهنگ، تهران، ۱۳۶۹، ص ۱۵.

[2] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

خلک غلامان او محکوم مه ګرځوئ، په داسې حال کې، چې الله تعالی (ج) دوی آزاد پیدا کړي دي. اسلام وایي، چې پر ښځو باندې ظلم او تیری مه کوئ او پر دوی باندې له رحم او شفقت څخه کار واخلي، پر هغوی باندی ظلم مه کوئ او دوی مه وهئ او له هغو سره مینه او محبت وکړئ. اسلام وایي، چې د یتیمانو او مسکینانو او بې وزلو په حق کې له عدالت څخه کار واخلئ، د هغوی مال په ناحقه مه خورئ او د هغوی سره هومانیستي چلند، مرسته او همدردي وکړئ. اسلام وایي، چې له عدل او انصاف څخه کار واخلئ او په هیچا باندې تجاوز، تیری او ظلم مه کوئ. هر هغه څوک چې ظلم او تیری کوي، غیر انساني او غیر اسلامي کار ګڼل کیږي، چې الله تعالی (ج) پر هغه کار باندې ناراضه کیږي، چې انسان د هغه کار له امله زیان من کیږي. اسلام وایي، چې هر سړی د ملکیت، کار کولو، ژوند کولو، په هر ځای د مملکت کې د کور جوړولو او اوسیدلو حق لري او نور څوک دده قانوني مالکیت په غصب او ناحقه په خپل تصرف کې نشي راوستی، چې دا د اسلامي نظام ټولې عامه ښیګڼې د هومانیزم، انساندوستی او بشردوستی څخه ګڼل کیږي، چې د عامه خلکو لپاره وضع او تدوین شوي دي.

# څلورم څپرکی
# دغرب او شرق د بيلابيلو فلسفي مکتبونو له نظره د هومانيزم فلسفي بنسټونه

## الف: په ځينو شرقي فلسفي مکتبونو کې د هومانيزم د نظريو فلسفي بنسټونه

کله چې پاچا جستين د يونان ټولې مدرسې حکماً وتړلې، نو داړتيا له مخې د يونان فيلسوفان، شام، مرکزي آسيا او عربو ته راوکوچيدل. دا ځکه چې په دغو ملکونو کې دوی د کليسا له ځورونې څخه خوندي وو. کله چې دا متفکرين مرکزي آسيا او عربو ته راورسيدل، نو هغوی وليدل، چې فضا آرامه ده، نو دوی د علم او پوهې سره په تيره بيا د فلسفې او ساينس سره دلچسپي پيدا کړه.

کله چې عربو په مصر کې د سکندريه علمي مرکز(۶۴۱م)جوړ کړ، نو دا دلچسپي نوره هم زياته شوه او په (۷۱۱ م)کې د اسلام دين د عربستان لخوا شام او عراق او د افريقا قطبي ساحلو ته تر جبل الطارق پورې خپور شو، نو ددوی له لارې فلسفې بيا اروپا ته لاره وموندله. د فلسفې د تجدد، ودې او تکامل ذمه وار ختيځ مسلمان متفکران دي او دا په اسلام کې د علم سره د مينې څرګندويه ده، چې د

فلسفي پښې په ځمکه ولګېدې. دا د اسلام د اصولو او مسلمانانو متفکرینو او پوهانو برکت دی، چې د فلسفې، ساینس، هنر، سیاست او عقلي علومو سره، چې په بد حالت کې وو، زیاته مرسته وکړه او د دغو نویو نظریاتو دارو درمل یې د زړو نظریاتو پر ضد وړاندې ورکړل، چې دغه لاسته راوړنې ټولې د مسلمانانو علماو لخوا ترسره شوي. دا چې دغه فلاسفه څرنګه فلاسفه و او څه ډول نظریات یې د علم او فلسفې په برخه کې تر سره کړي دي؟ لازمه ده چې نوموړی هر یو په خپل وار معرفي کړو.

په شرق کې ډېر مشهور فیلسوفان او دنظر خاوندان عبارت دي له: ابو یعقوب محمد بن اسحاق الکندي، ابونصر فارابي، ابو علي سینا، امام محمد غزالي، ابن رشد، ابن خلدون، ابن بطوطه، علامه اقبال لاهوري، د شعر او ادب له نظره رحمن بابا، خوشحال خان خټک او داسې نور...

چې موږ به یوازې د ځینو فلاسفه و نظریات دلته رانقل کړو:

١_ ابونصر فارابي:

د ابو نصر فارابي نوم محمد بن طرخان بن اوزلغ دی، چې د بلخ په شمال کې د ((فاراب)) د اوسني فاریاب په ښار کې په (٢٥٠) هـ ق کال کې زیږېدلی او په (٣٣٨) هـ ق کال کې د سوریې ددمشق په ښار کې وفات شوی دی.

د فارابي آثار ټول په عربي لیکل شوي دي.

ابو نصر فارابي په خپل ښار کې مروجه علوم زده کړل او وروسته بغداد ته ولاړ، په هغه ځای کې یې له لویو استادانو څخه نور علوم هم زده کړل. ده د خپل ژوند وروستي څلویښت کاله په بغداد، حران، د مشق او مصر کې تیر کړل. نوموړي د تحصیلاتو د پوره کولو څخه وروسته د استادۍ مقام ته ورسید او د ژوند لویه برخه یې د علومو په څېړنو او تالیفاتو کې تیره کړې ده. داسلامي نړۍ

لویو پوهانو او فیلسوفانو لکه ابوعلي سینا، ابن رشد او نورو له ډلې څخه ګڼل شوی او دیوناني فیلسوف ارسطو څخه وروسته ده ته د بشر دوهم استاد(معلم ثاني)لقب ورکړی دی.

د فارابي فلسفه د ارسطو او نویو افلاطوني فلسفي نظریاتو څخه متاثره شوې ده، چې د اسلامي نړۍ لید په چوکاټ کې رامنځته شوې ده. فارابي په منطق او طبیعیاتو کې د ارسطو پیروي کوله او په اخلاقو او سیاست کې د افلاطون پلوی دی او په ما بعد الطبیعت کې د فلوطین پلوی دی. ده غوښتل چې له یوې خوا د افلاطون او ارسطو فلسفي نظریاتو ته په سطحي نظر وګوري او هغه انتقاد کړي او له بلې خوا نوموړی عقل د وحې سره یو ځای او واحد نظر ګوري، فارابي د افلاطون او ارسطو فلسفي نظریاتو د توپیر په اړه وایي، چې: ((د نوموړو دوو فیلسوفانو فلسفي نظریات سطحي دي، د دواړو نظرونه او موضوګانې اساسي نه دي، نو ځکه یې باور درلودلو، چې دین او فلسفه سره په ټکر کې نه دي))[1].

فارابي په خپل اثر کې د((آراء اهل المدینه الفاضله))ځینې مهمې نقطې په لاندې توګه ښودل کیږي:

۱ – ژوند پرته له ټولنې څخه ناممکن دی، ځکه چې بشر په یوازیتوب کې هیڅ ژوند مخ پر وړاندې نشي بوولی.

۲ – ده ټولنه د انسان د بدن د اعضاوو سره ورته ګڼلې ده، لکه چې د بدن په اعضاوو کې زړه ریس دی او د بدن هر غړی او اعضا د بدن نورې دندې سرته رسوي، ((لکه معده، د انسان تنفسي جهاز او نور...))یوازې انساني ټولنه ده، چې د اداري

[1] عبدالمحمد ، أيتي، تاريخ فلسفه در جهان اسلامی، انتشارات فرهنگی تهران.۱۳۷۲ ص ،۲۹۵.

چارو په مرسته مخ پر وړاندې ځي، نود ټولنې ټولې چارې بايد د دولت جمهور ریس په لاس کې وي.

۳- ټولنه دفارابي له نظره چې ((مدينه)) ټولنه ورته وايي، هغه په دوو برخو ويشي، چې!

لومړی (فاضله مدينه) يعني هومانيستي ټولنه او دوهم يې (نازله فاضله) يعني غير هومانيستي ټولنه ده.

د فارابي له نظره ((فاضله مدينه)) يعني آرماني ټولنه ده، چې هغه د افلاطون د اشتراکي ټولنې څخه نمايندګي کوله. او دوهمه ((نازله فاضله)) ټولنه يعني غيرهومانيستي ټولنه ده، چې انسان ته په دې ټولنه کې په هيڅ ډول ارزښت قايل نه وي او د ټولو حقه حقوقو څخه محروم وي.

د فارابي له نظره ((فاضله مدينه)) هغه انساني ټولنه ده، چې په هغه کې انسان پالنه ډېر ارزښت لري، چې په دې اړه يې داسې تعريف کړی دی: ((فاضله مدينه هغه ټولنه ده چې هدف يې تعاون او خوشبختيو ته رسيدل دي))[1].

فارابي په خپل تاليف شوي اثر کې چې: ((آراء اهل المدينته الفاضله)) نوميږي، وايي: ((د انسان په بدن کې ځينې غړي لوړ او مهم او ځينې يې ښکته او اهميت نه لري، په فاضله ټولنه کې هم همداسې ده. لکه زړه چې په بدن کې رئيس ګڼل کيږي، د بدن نور غړي د خپل استعداد او توانايي پر بنسټ کار کوي، د ټولنې نور افراد هم د خپلې رتبې او وظيفې پر بنسټ د ټولنې چارې تنظيموي))[2]

---

[1] بصير ، کامجو، تاريخ نظريات فلسفي، انتشارات ميوند، کابل، ۱۳۸۲ ،ص ۱۶۹.

[2] پورتنی اثر، ۱۷۰ مخ.

نوموړی د فاضله ټولنې مشر هغه شخصیت غوره کوي، چې د تقوا او وظیفه پیژندنې له امله خدای(ج) ته نږدې شوی او د هغه لوري ته یې روحاني مقامات طی کړي وي، خو په دومره توپیر سره چې افلاطون د آرماني ټولنې او دولت د لارښوونې او اداره کولو لپاره یې فیلسوفان او علماء وړاندیز کړي وو، خو د فارابي لپاره د فاضله مدینې مشر د خدای(ج) د هدایت او لارښوونو سره سم د فاضله مدینې او ټولنې یا امت د چارو په تدبیر او تنظیم کې ماموریت لري.

دفارابي ارماني ټولنه:

فارابي د عالي اخلاقو، فضیلتونو او علمي اصولو پر بنسټ دیوې داسې ښې او مطلوبې ټولنې د تاسیس طرحه وړاندې کړه، چې نظام یې پر دې دریو اصولو بنا وي:

لومړی – علم

دوهم – عمل

دریم – فضیلت

د ټولنې د مشر څخه نیولې بیا تر نورو هیوادوالو پورې باید خلک د عالي شخصیتونو او عالي اخلاقو خاوندان وي. دا خلک د یوه جسم د غړو په توګه باید ګډې هڅې وکړي. په هغه توګه چې د یو سالم انسان د بدن ټول غړي یو د بل سره مرسته او ګډې هڅې لري.

د فاضله مدینې د ټولنې غړي هم خپلې دندې په ښه توګه تر سره کړي.

فارابي آرماني ټولنه هماغه د افلاطون دفاضله مدینې دوام دی. دی وایي چې: ((د فاضل او عادل نظام د برقرارۍ لپاره باید خلک یا ډلې تر هر څه دمخه د عدل سره پیژندګلوي ولري او عدل باید په ځان کې ورو‌زي او عمل او نظریې باید

يو وي، که چيرې عمل او رفتار د قوم او ملت لپاره يو نه و، نو نوموړې ټولنه بيماره او فاسده ده))[1].

دی د هغه ټولنې، مدنيت او دولت پلوی کوي، چې د قرآنکريم او د حضرت رسول اکرم(ص) په ارشاداتو کې ثرگند شوې دي. د بيلگې په توگه: د ټولنې په حيات کې بايد فضيلت، علم، تقوا، عدل او الهي اصول مراعات کړي. په بل ځای کې بيا وايي، چې د خدای(ج) لاره په څلورو شيانو کې ده. دا د خدای(ج) لاره د هر انسان لپاره هومانيزم دی، که چيرې په سمه توگه عملي شي:

۱- اخلاص، ۲- حلاله روزي، ۳- له شيطان سره دښمني ۴- د مرگ لپاره تياری.

په پايله کې ويلای شم، چې فارابي د انسان دژوندي پاتې کيدو او دژوند د پرمختگ لپاره د ټولنې پر موجوديت او اړتياو باندې باوري و او په دې اړه يې ډير کتابونه او رسالې ليکلې وې. د فارابي له نظره سياست په خپله هدف نه دی، بلکې موخه يې نيکمرغي او هوسايي ده، چې هغه پرته له ټولنې څخه ناممکن ده.

دده د مرگ څخه څو سوه کاله وروسته اروپايي پوهانو او فيلسوفانو لکه کانت،دکارت، سپينوزا، بيکن، اکوست کنت او نورو دده دژورو او علمي فلسفي نظريو په پيروي خپلې فلسفي نظريې تنظيم کړې.

۲_ ابن سينا بلخي:

د منځنيو پيړيو د فلسفي افکارو په تاريخ کې د ابن سينا فيلسوفي څيره داسې يوه څيره ده، چې منظم فلسفي او سيستماتيک نظريات يې رامنځ ته کړي دي. هغه فلسفي نظريات او نظام چې د امام غزالي، فخرالدين رازي او نورو

---

[1] محمد نادر،ايوبي، فلسفه،يونايتيد پرس، کوېټه،لومړی چاپ، ۱۴۲۶ هـ ق . ۲۸۰ مخ.

فیلسوفانو څخه په میراث را پاتې وو او پر اسلامي فلسفې یې تسلط درلود، دده په وسیله د هغوی فلسفه له اعتراضونو او حملو سره مخامخ شوه، ځکه چې دده فلسفي نظام د منطقي استدلالونو او د علمي میتودونو پر بنا دی.

د ابن سینا فلسفه دیونان د لرغونې فلسفې څخه سرچینه اخلي. ابن سینا هڅه کوله، چې اسلامي فلسفه دیونان د فلسفې سره تل په یووالي کې وساتي.

ابو علي حسین د عبدالله زوی، د حسین لمسی، د علي کړوسی او د سینا کودی دی. ابن سینا په (۹۸۰) میلادي کال دده په قول په افشانه نومي کلي کې، چې د خورمیشن (د لمروطن) یوه سیمه ده او له بخارا څخه دولس کیلو متره لیرې موقعیت لري، زیږیدلی دی.

دابن سینا پلار په بلخ کې یو مشهور او آزاد فکره سړی و، چې د نوح بن منصور ساماني د سلطنت په وخت کې یې (۳۶۶ هـ ق) کې له بلخه بخارا ته، چې په هغه وخت کې دسامانیانو پایتخت و، مهاجرت وکړ او هلته یې ژوند اختیار کړ او نوموړی د منصور لخوا د خورمیشن حاکم وټاکل شو او د هغه ځای مالیه یې ټولوله. څرنګه چې عبدالله د هغه ځای له خلکو سره پیژند ګلوي پیدا کړې وه، چې ابن سینا د افشانې په کلي کې د ستارې نومي پیغلې سره واده وکړ، چې ابن سینا هم له همدغې ښځې څخه پیدا شوی دی.

ابن سینا چې اصلاً د بلخ و، خویوازې زوکړه، ښوونه او روزنه یې په بخارا کې تر سره شوې ده، چې په ټولو فرهنګي او علمي کړیو کې د بلخي ابن سینا په نامه شهرت لري.

ابن سینا زموږ د هیواد ستر عالم، فیلسوف، متفکر او د بیلابیلو علومو لکه فلسفه، طب، تفسیر، تصوف، اخلاق، کیمیا، طبیعیات، کلام، هندسه، نجوم، ژبپوهنه، موسیقي او داسې نورو کې ډیر تالیفات لري. نوموړی ډیر نامتو طبیب دی،

چې په((ختیځ کې ورته شیخ الرئیس، لوی استاد یا داستادانو رئیس او په عربي ملکونو کې دامیرالطب په نوم مشهور دی))[1].

ابن سینا شاعر و له همدې کبله دده دیني فکرونه دښکلو شعرونو په ژبه بیان شوي دي. ده په علم کې ډیر لوړ مقام درلود، په طب کې درازي شخه وړاندې و. ابن سینا فیلسوف و او دارسطو، افلاطون او فارابي دفلسفو په رڼاکې یې خپله فلسفه د یوې اسلامي فلسفې په څیر، دیوه نوي فکر او نوې طریقې په حیث ورزیاته کړه، چې هغه انسان او انسانیت ته دخدمت کولو جوګه وه. ده په طب او طبابت کې دحکیم بقراط نه نیولې آن تر خپله وخته پورې ټول مسایل ولوستل چې دابوعلي سینا درجه یې دومره لوړه او اوچته کړه، چې نن ورځ هم دنړۍ زیاتره هیوادونه دطب په نصاب کې دهغه نظریاتو ته ځای ورکوي او ډیر زیات دغو نظریاتو ته ارزښت او اهمیت ورکوي. ابن سینا دفلسفي کتابونه لکه(شفا)، (اشارات) او(نجات) کې ډیرې مهمې مسلې دانسان دهر راز ناروغیو پر وړاندې بیان کړي، خو دانسان دجبر او اختیار په اړه یې هم ځینې پوښتنې مطرح کړې دي، دغه دشرق فیلسوف په خپلو نظریاتو کې ځینې فلسفي اصطلاح ګانې لکه(قضاء)، (تقدیر)، (قدر)، (عنایت)او نورې کارولي دي. نوموړی دانسان دنفس په اړه خپله نظریه داسې وړاندې کوي او وایي((نفس په ماده کې ډوب دی، ځکه نو ډیر عیبونه لري او همدغه عیبونه سعادت ته درسیدلو لاره کمزورې کوي، عاقل باید دخپل نفس په عیبونو کې څیړنې او تتبع وکړي او هغه دې وپیژني او له منځه دې یوسي))[2].

---

[1] عبدالرووف، بینوا،د افغانستان نومیالي، لومړی ټوك،دولتي مطبعه، کابل ۱۳۵۳ ، ۱۱۳ مخ.

[2] سروپالی راداکریشنان، تاریخ فلسفه شرق وغرب، مترجم، جواد یوسفیان،،جلد دوم،تهران،۱۳۸۲ ص ،۱۴۴.

ابن سینا عقیده لري، چې: ((هر انسان د خپل نفس لپاره ثواب او عقاب وټاکي، په دې ډول که ښه کارونه ورڅخه صادر شي، په ځینو ختونو کې باید هغه ته مکافات ورکړي او که بدي ورڅخه صادره شي، تنبیه دې کړي، هغه دې مجازات کړي.))[1] او بیا وایي چې: ((هر څوک چې غواړي خپل ځان اصلاح کړي، د خلکو په اخلاقو کې دې پلټنې وکړي، هغه چې اخلاق نیک، ښه، او افکار انساني دي، هغه دې انتخاب کړي او پر هغه لاره دې روان شي او هغه چې (بد)او غیرې انساني دي، له هغې څخه دې لیرې والی او کرکه اختیار کړي))[2].

ابن سینا د ټولنې پر موجودیت او جوړښت باندې زیات ټینګار کوي او په دې اړه وایي: ((د بشر ټولې اړتیاوې یوازې په ټولنه کې پوره کیدای شي.))[3] دی هم لکه د فارابي په څیر په دې عقیده دی، چې پرته له ټولنې څخه نیکمرغي نشي ترلاسه کیدای. ځکه چې انسان ذاتاً مدني طبع لري، دی وایي چې: ((که انسان وغواړي چې د نورو له مرستو پرته دژوند لاره ونیسي، سمه نه ده. انسان باید یو دبل د ځینو اړتیاو دلیرې کولو لپاره خپلې قواوې په کار واچوي، چې دا ډول کړنې د ټولنو او ښارونو د تشکیل سبب ګرځي))[4].

ابن سینا انساني افکار د ټولنې په سعادت کېویني، دی وایي، چې سعادت په عقلاني لذتونو کې دی او په دې فکر او نظر دی. چې لذتونه په څلور ډوله دي:

۱ – عقلاني لذتونه

---

[1] تیر اثر ، ۱۴۴مخ

[2] پورتنی اثر ، ۱۴۵مخ.

[3] پورتنی اثر، ۱۴۵ مخ.

[4] اسحاق، حسیني،تاریخ فلسفه، انتشارات امیر کبیر، تهران، ۱۳۸۳ ،ص ۱۰۲

۲ – حسي لذتونه

۳ – عالي لذتونه

۴ – ښکتني لذتونه

۱ – عقلاني لذتونه: دمعقولاتو په حصول سره دعقل کمال حاصلیږي، په دې مانا سره، چې ((ناطقه نفس)) بالفعله عالم وګرځي او هغه لذتونه چې ورځني حاصلیږي، عقلي وي.

۲ – حسي لذتوفه: دنرمو محسوساتو په وسیله دحس کمال په لړ کې حاصلیږي، یا هغه لذتونه چې ورځني حاصلیږي، حسي دي.

۳ – عالي لذتونه: هغه لذتونه چې دنفس د کمال((مدرک))وي، عبارت له عالي لذتونو څخه دي او دکمال څخه مراد دلته دا دی، چې بشپړ کافي او ثابت وي.

۴ – ښکته لذتونه: دغه لذتونه دبدن د ټیټو کړنو څخه عبارت دي. ابن سینا لذت ددوام لپاره پر دوو ډولوویشلی دی : الف – دایمي لذتونه، ب – موقتي لذتونه.

داپیکور دلذت غوښتنه هم دابن سینا په څیر ده، چې وایي: ((دخوښیو او لذت په حقیقي مفهوم او هدف پوهیدل، انسانان دحقیقي او صحیح ژوند په راز پوهوي، ځکه چې دعقل او سنجش دمعیار درلودلو پرته خوښي او لذت امکان نه لري))[1].

---

[1] رابرت ، سولومون، کاتلین هیکینز، تاریخ فلسفه درجهان، مترجم،منوچهر شادانو ،انتشارات بهجت، تهران،۱۳۸۸، ص ۱۳۷ .

او بیا وایي چې: ((د ښکلا لذتونه او مثالونه یې باید د خوښي او لذت د قیمت په تله کې وتلل شي، که ربښتینې خوښي راوړونکي او نشاطه بخښونکي وي، ومنل شي او که ربړ او تاوان یې ډیر وي، ونه منل شي))[1].

دلته د اپیکوریانو مطلب تش د عملي لذت غوښتنه نه ده، بلکې د درد او غم څخه ځان خلاصول هم لذت ګڼي.

په دې توګه ویلای شو، چې ابن سینا لوی هومانیست و او بشر ته یې زیات په طبابت کې دبیلابیلو ناروغانو درملنه کړې او دناروغیو په اړه یې لارښوونې او لیکنې کړې دي. ده په زیاتره علومو کې جوړونکي وړاندیزونه، نظرونه، نوي انکشافات او په ځانګړې توګه په انساني فلسفه او طب کې یې د نوي انسان د جوړولو او د انسانانو د رنګارنګ ناروغیو او دهغوی د درملو په اړه پراخې لارې چارې په ګوته کړې دي. ده د طب په ساحه کې ۱۰۰ کتابونه لیکلي، چې د بشر او بشریت لپاره ډیر اهمیت لري او د انسان د درملنې لپاره هم ارزښت لري، ترڅو چې بشر او انسان په ښه صحت او روغتیا کې ژوند وکړي.

۳- علامه اقبال:

اسلامي هیوادونه او اسلامي ټولنې د اقبال په فلسفي انساني افکارو او نظریاتو تل ویاړي. د اقبال شعرونه د خلکو د پراخو پرګنو د لارښوونې وسیله ده او خلکو ته دده د شعرونو موخې انسان جوړونې، د حکمت رواجولو، مرستې او همکارۍ او انسانیت پر بنا تکیه لري.

اقبال په دې عقیده لري، چې هره ټولنه باید قوانین ولري، ځکه چې یوه ټولنه پرته له قوانینو د ټولنیز ژوند پرته خپل سری ژوند غوره کوي، نو له همدې

[1] هنري توماس ، په فلسفه کې تلپاتې پیښې، پیښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴، ۱۶۴ مخ.

امله قانون د کشتۍ د لنګر حیثیت لري، دا یو څراغ دی، چې ټولنه د ساحل په لوري رهنمایي کوي.

داقبال فلسفي نظریات داسې پراخ نظریات دي، چې ټول د بشر او بشریت په اړه دي او ټول د قرآنکریم او سنتو په چوکاټ کې د خلکو د چارو لارښوونه کوي او دا چې اسلام سراسر هومانیزم دی او د انسانانو ترمنځ یووالی یې ډیر مهم ګڼلی دی او د انسانانو ټولې ښیګڼې، خوشحالۍ او نیکمرغۍ په یووالي کې نغښتې دي، نو دی ځکه په یووالي او اتحاد باندې ډیر ټینګار کوي او وایي، چې:

ملـــت از یکرنګــی دلهاستی
روشـن از یـک جلـوه ایـن سیناسـتی
قـوم را اندیـشه هـا بایـد یکـی
در ضـمیرش مـدعا بایـد یکـی
جذبـه بایـد در سرشـت او یکـی
هـم عیـار خـوب و زشـت او یکـی[1]

ډاکتر اقبال د شیخ نورمحمد لاهوري زوی، د فارسي او اردو ژبو نامتو شاعر او د شرق نابغه، چې په ۱۸۷۳م کال د سیالکوټ په ښار کې زیږیدلی او په ۱۹۳۸ میلادي کال کې یې له دې نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې دي.

اقبال خپلې زده کړې د سیالکوټ د کشمیریانو کوڅې د حسام الدین په جومات کې له قرآنکریم څخه پیل کړې دي، چې وروسته (سکاچ مشن) ښوونځي ته ولاړ، چې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې همغه ځای کې سرته ورسولې.

---

[1] اقبال، چهارده روایت، چاپ اول، چاپ خانه رامین، تهران، ۱۳۷۹ ، ص ۲۵۷

نوموړی په ۱۸۹۵ م کال کې د لاهور په دولتي پوهنځي کې د فلسفې پر زده کړې بوخت شو او د لېسانس تر کچې یې زده کړې بشپړې کړې او وروسته په ۱۸۹۹ م کال کې د پنجاب له پوهنتون څخه د لېسانس په لوړه درجه فارغ شو. نوموړی په عربي، دري، اردو او انګلیسي ژبو کې پوره مهارت درلود او په همدې پوهنتون کې د تاریخ او فلسفې د استاد په توګه ومنل شو.

په همدې وخت کې دده د پوهې شهرت د هند په نیمه وچه کې خپور شو، نوموړي په همدې وخت کې د اقتصاد په موضوع کې په اردو ژبه لومړنی تالیف د کتاب په بڼه په ۱۹۰۱ م کال کې چاپ کړ.

اقبال په ۱۹۰۵ م کال کې د لوړو زده کړو لپاره لندن ته ولاړ، د کېمبرج پوهنتون د فلسفې په څانګه کې شامل شو او د همدې موخې لپاره په عین حال کې د حقوقو د زده کړې لپاره د(لینکولیسن ان) په پوهنځي کې هم شامل شو. د کېمبرج پوهنتون د (اخلاقو د فلسفې) له څانګې تر فراغت وروسته جرمني ته ولاړ او په ۱۹۰۷ م کال کې د مونیخ په پوهنتون کې یې د خپلې دوکتورا له اثر څخه چې (په ایران کې د حکمت پراختیا) تر عنوان لاندې لیکلی و، دفاع وکړه. دا کتاب په ۱۹۰۸ م کال په لندن کې چاپ شو، چې دی ددغه اثر په برکت د اروپا په ټولنو کې د ختیځ د یوه نامتو فیلسوف په حیث وپېژندل شو. نوموړی په ۱۹۰۸ م کال کې خپل هیواد ته راستون شو او په شخصي توګه یې د وکالت کار کولو، چې د وکالت کار یې تر ۱۹۳۴ م کال پورې دوام وکړ.

د ډاکتر اقبال د علمي او ادبي خدمتونو له امله د برتانوي هند د حکومت لخوا ورته د(سر)لقب ورکړل شو. سر ډاکتر اقبال په ۱۹۲۶ م کال د پنجاب د قانون جوړولو د مجلس په غړیتوب وټاکل شو. په ۱۹۲۸ م کال کې د هند هیواد د رسمي بلنې له مخې یې مدراس، میسور، حیدرآباد او علیګړ ته سفرونه وکړل او د

اسلام په اړه یې په انګریزي ژبه ویناوې وکړلې، چې ددغو ویناوو مجموعه په ۱۹۳۰ م کال کې د (دیني فکر ژوندي کولو) په نامه په لاهور کې چاپ شوه.

اقبال د مولانا جلال الدین بلخي د نړۍ لید، د حکیم سنایي غزنوي، مولانا جامي هروي، ابن سینا او سید جمال الدین افغان د نظریاتو او افکارو تر اغیز لاندې راغلی او تل یې په خپلو شعرونو او آثارو کې ددوی نظریات او افکار ستایلي او د هغوی د مفکورو څخه یې تل یادونه کړې ده او د سنایي غزنوي، مولانا بلخي، جامي هروي او ابن سینا د عرفان څخه ډیر اغیزمن شوی دی.

مسلمانان د اقبال په نظر د خپلې خودي د جوهر څخه منحرف شوي وو او د انسانیت حقیقي عظمت او شرافت ارزښت او مقام ددوی د نظر نه لویدلی او ورک شوی و، نو مسلمانانو ته په کار دي، چې ددې ناوړې او زبونې ناروغۍ د علاج لپاره متې راونغاړي ، چې په دې لړ کې علامه اقبال د عیسوي نظریاتو په ردولو کې د اسرار خودي مثنوي ولیکله.

اقبال په نړۍ کې دوه ډوله مذهبونه پیژني : لومړی هندي مذهبونه او دوهم یې سامي مذهبونه ،خو هغه مذهبونه چې په شرق کې پیدا شوي دي، د ویدانتي فلسفې تر اغیزې لاندې دي، چې دا فلسفه د ژوندانه څخه د تیښتې تعلیم ورکوي. ددې فلسفې ځانګړ تیاوې دادي: ګوښه توب، فقیر توب او د انساني ژوند په چارو کې نه ګډون او بې علمي.

دوهم په سامي مذهبونو کې مسیحیت او یهودیت هم د ویدانته فلسفې په څیر د ژوند د فرار او تیښتې تعلیم ورکوي، نو په پایله کې ویلای شو، چې ویدانتي، مسیحي او یهودي فلسفې ټولې تیوري ګانې او نظریات یو شان دي، ځکه د انسان په هر اړخیز ژوند کې د غیرې خوځښت رول لوبوي او د انسان هر ډول فعالیت، کړنې او عمل ردوي.

خو په اوومه عیسـ ـ ـ پیړۍ کې په غربي آسیا د عربستان په جزیره کې یو نوی دین

راڅرګند شو، چې هغه داسلام مقدس دین و . داسلام دین دفطرت او عمل دین دی. په اسلام کې له ژوندانه تیښته او فرار نشته. اسلام دانسان په فعالیت، بیداری ، ویښتوب، عمل او کړنې ډیر زور اچولی دی، نو کله چې داسلام شان او شوکت لومړنی دور تیر شو، نو اسلام هم دغیرو اسلامي فلسفو په لومه کې ښکیل شو او مسلمانانو دعمل او کردار د فلسفې څخه لاسونه پریمنځل او پر اسلامي فلسفې باندې یوناني فلسفې اغیزې له ځانه پریښودلې او هغه یې اغیزمنه کړه.

داقبال په نظر چې: ((دژوند اصلي محرک د ثبات خودي جذبه ده، چې انسان ته وربخښل شوې ده. ژوند یو نه شلیدونکی حرکت دی، چې د نوې نوې غوښتنې زیږوي او دغه شان دخپلې پراختیا او بقا لپاره اسباب تیاروي او دهغه مسلسل او دوامدار عمل او کشمکش په برکت لا زواله کیږي))[1] .

داقبال په عقیده ، کوم شی چې خودي ته پیاوړتیا او پراخوالی وربخښي، هغه خیر دی او کوم شی چې خودي کمزورې کوي، هغه (شر) دی.

اقبال په اجتماعي فلسفې باندې هم غږیدلی دی، چې د هغه لنډ مقصد دا دی، چې سړي ته په کار دي، دملت د غوښتنې اورسم و رواج سره سم عمل وکړي، چې د خودي د منزلونو نه تیر شي او د دې په وسیله خپل ذات یا شخصیت پوره او تکمیل کړي ، لکه څنګه چې اقبال فرد په خپله هستي کې د ملت د هستي سره بولي، نو وایي چې:

فرد را رابطه جماعت رحمت است
جوهر اورا کمال از ملت است

---

[1] علامه اقبال،میا سید رسول، ویسا، اول چاپ، یونیورستي بك، پیښور،چاپ کال (۱۹۶۴) ۱۵۰ مخ.

تـا تـوانی بـا جماعـت یـار بـاش
رونـــق هنگامـــه احـــرار بـــاش
فـــرد میگیـــرد زملـــت احترام
ملـــت از افـــراد مـــی یابـــد نظـــام[1]

علامه بیا وایي چې:

نــه افغـانیم ونــی تــرک ونــی تاتـاریم
چمنـــزاریم و از یـــک شاخـــساریم
تمیـــز رنـگ و بـــو برمـــا حـــرام اســـت
کـــه مـــا پـــرورده ی یـــک نـــو بهـــاریم

۴_ د خوشحال خان:

خوشحال پېژندونکو تـه معلومـه ده، چې دده ښکلي غزلیات، قـصیدې، شعرونه او قطعات د انسان پالنې له افکارو ډک دي.

زه غواړم په دې ځای کې د خوشحال خان په رباعیاتو کې د انسان دوستي په افکارو باندې خبرې وکړم.

د شاعر د انسان پالنې افکارو کې حقیقي انسان او حقیقي انسانیت یعني پاک اخلاقیات او حقیقي ښکلی انسان د شاعر په ښکلا پېژندنې (استیتکي) افکارو کې مینـدلای شو، چې اخلاق (اتیکـه) (ETHICA) هم استیتکه (نفاست) هم دیـوه حقیقي مکمل انسان ایده آل لپاره خدمت کوي. مورږ دلتـه د خوشحال پـه رباعیاتو کې د انسان دوستي مفکورې پیدا کوو، چې د انسان سره مرسته، د انسان سره مینه لرل او د انسان مغرور او عالي جناب نوم پور ته کول دي، نو شاعر په خپله یوه رباعي کې وایي:

---

[1] علامه اقبال، شاعر اسلام، یونیورستی بك ایجنسي، پیښور، چاپ کال (۱۹۶۷)، ۲۳۳مخ.

وګـــړي واړه کارونـــــه خپـــل کـــا
مـــردان هغـــه دي چـــې کـــار د بـــل کـــا
څـوک چـې آرام ګټمي د نيکـو نـام ګټمي
د خـــوږو زړونـــو دارو بـــه تـــل کـــا[1]

دلته زموږ په نظر د شاعر انسان پالنه، بشردوستي او افکار پوره بيان شوی دی. په حقيقت کې هغه څوک چې خوږو زړونو ته دوا او درمل ورکوي، دوی هروخت د ځان لپاره آرام او هوساينه پيداکوي، د نورو خلکو لخوا هر وخت په ښه نوم باندې يادېږي، دغسې د انسان پروري فکر د شرق د پياوړو شخصيتونو او زبردستو شاعرانو په اشعارو کې ډېر زيات پيدا کيږي. خوشحال خان ډېر ښه پوهيده، چې خاني، حاکمي او مشرتوب په خپل نوبت تيريږي او په دنيا کې يوازې ښه او نيک نوم پاتې کيږي او په دې هم پوهيده، چې دانسانانو په زړونو کې يوازې ښيګڼه يعني نيکي، ښه عمل او انسانيت پاتې کيږي.

دلته د خوشحال خان خټک ددوستي او اتفاق افکارو ته چې په ډېرو ښو الفاظو کې بيان شوي دي کتنه کوو، په دې اړه ليکي

پنځـــه دې ګـــوتې دي کـــه يـــوه نـــه وي
د نـــورو ګوتـــو چـــار بـــه د څـــه وي
دلاس خـــوبي ده پـــه پنځـــه ګـــوتې
چې سره جوړ وي کـار بـه دې ښـه وي

---

[1] دوکتور، عارف، عثمان، خوشحال خان ختك او دده ادبي مکتب، د علومو اکاډمي. کابل ۴۸۰ مخ.

[2] پورتنۍ اثر ،۵۱ مخ.

دلته باید وویل شي، چې د شاعر دغسې رباعیات چې پکې ددوستۍ، اتفاق او همکارۍ افکار بیان شوي دي، تر اوسه پورې د خلکو لپاره ګټور دي. زموږ په زمانه کې په تیره بیا د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د ولسونو، ملیتونو او قومونو تر منځ اتفاق، یووالی او دوستي ډیره ضروري ګڼل شوې ده او یوازې د همدې مفکورې په پیاده کولو سره کېدای شي زموږ په ګران هیواد افغانستان کې ددیرپو لسیزو جګړې پای ته ورسیږي.

د خوشحال خټک د انسان پروري افکارو د ښو او بدو کسانو ترمنځ توپیر کول او ددوی سره علیحده رفتار کول دي. دا هم دایتیکه (اخلاقیاتو) له مهمو ستونزو څخه ګڼل کیږي. خوشحال د ښو او بدو کسانو توپیر په دا ډول په ګوته کوي:

دا پند دې هر څوک سره سند کا
هوښیار به نه وي چې څوک حسد کا
همراه چې ښه وي بد سړی ښه کا
همراه چې بد وي ښه سړی بد کا[1]

د انسانیت تاریخ دا ثابتوي چې حقیقي انسانپال هومانیست متفکرین (ښه کوه، بدمه کوه!) په پرنسیپ باندې باوري وو، یعني ددوی هومانیزم نیمګړی نه و، بلکې پوره حقیقي هومانیزم و. په بل عبارت ددوی هومانیزم ضعیف او پسیف نه و، بلکې فعال او اکتیف و.

موږ پوهیږو چې انسان هر څومره چې له بدي سره سخته جګړه کوي، نوموړی هغومره له نیکي سره مرسته کوي او د ښه والي او ښیګڼې پلوي کوي، دغسې اکتیف هومانیزم د ختیځ د زبردستو شاعرانو په آثارو کې په ډیر ښه شان

[1] دوکتور، عارف، عثمان، خوشحال خان ختك او دده ادبي مکتب، د علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۶۱، ۵۲ مخ.

څرګند دی، نو له همدې کبله موږ دوی ته حقیقي انسان پالونکی او پوره هومانیست شاعر ویلای شو.

نو دپایلې په توګه وایو ، چې خوشحال خان خټک هم یو حقیقي انسان پالونکی اکتیف هومانیست و، دی ډیر زړور، دژوندي زړه خاوند ، خیات دوست او اجتماعي انسان و ، همدارنګه د انساني کرامت اودانساني ارزښتونو دلارې نامتو شاعر عبدالرحمن بابا انسان د ټول جهان سینګار بولي او پر انساني مینې او محبت ټینګار کوي او په دې اړه وايي:

که څوک یار په جهان غواړي یار دی دا
یار دی دا که د جهان سینګار دی دا
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جملـه و مخلوقاتو پلار دی دا [1]

زور زیاتی، تشدد، تجاوز، قتل او پر انسان باندې د هر ډول زورزیاتي، تیري او تجاوز غندنه د پښتو د لرغونو شاعرانو د شعر یوه عمده برخه جوړوي. هره ټولنه له جګو او ټیټو، زورورو او کمزورو ډلو څخه تشکیل شوې ده. د زورورو لخوا پر کمزورو باندې تیری او تجاوز د هغوی پر حقوقو تیری او انساني کرامت او مقام ته سپکاوی دی، چې ددوی حقه حقونه تر پښو لاندې کیږي او انساني مفهوم ته زیان رسوي. پر انسان تیری ، تجاوز او د ظلم غندنه په الهي ارشاداتو کې، د بشر حقونو په نړیوالو تړونونو کې ، د محمد(ص) په احادیثو کې او د ډیرو هیوادونو په تیره بیا زموږ د هیواد په قوانینو کې په ښکاره ډول لیدلی شو. ټولو قوانینو په دې ټکي ټینګار کړی دی، چې انسان د هر ډول زور او زیاتي، ظلم او تجاوز څخه خوندي دی او د انسان کرامت او مقام ته دې په درنه سترګه وکتل شي او نوموړی دې د هر ډول تجاوز څخه خوندي وي.

---

[1] رحمن بابا .کلیات،دحنیف خلیل په زیار، ددانش خپرندویه ټولنه، پیښور،۱۳۸۴ ل،۵۶مخ.

خوشحال خان خټک په خپل شعري کلام سره په ټولنه کې تر هر څه لومړی دعدالت او انصاف غوښتنه کوي او خپله هیله داسې څرګندوي:

که څوک پیدا شي چې عدل و داد کا

غـــوږ د دردمـــنو په داد فریاد کا[1]

## ب _ په ځینو غربي فلسفي مکتبونو کې د هومانیزم د نظریو فلسفي بنسټونه:

هومانیستي طرز دید دانسان د طبیعي ژوندانه او د هغه د چاپیریال د خپلو نویو پاملرنو سره له شکه پرته دمسیحي دین پر دستګاه باندې فوق العاده اغیزې لرلي دي. هومانیستان د خپلو ښوراندو حرکتونو سره د مسیحي دین د اصلاح په تکل کې شول. ددغه غورځنګ نوم یې (دین سمول) کیښود، چې د (مارتین لوتر) دنوم سره نږدې تړاو لري. خو د هغه لومړني زمینې هغو هومانیستانو کیښودې، چې د هومانستي غورځنګ له مخکښانو څخه شمیرل کیږي، چې په سر کې داراسموس راځي. داراسموس چې په واقعیت کې دعقل زیری ورکوونکی دی، غوښتل یې کلیسا اصلاح کړي او هغه عقلاني، اخلاقي او طبیعي تکیه ګاه وګرځوي. داراسموس او مارتین لوتر د طرزدید د توپیرونو سره سره د داراسموس نظریاتو د مارتین لوتر په پاڅون کې ډیر مهم رول لرلو، چې نوموړی پاڅون د پروتستانو د مذهب په تشکیل باندې پای ته ورسید. که څه هم نوموړي کسان ددیني هومانیزم لومړني مخکښان وو، چې د هومانیستي نظریاتو سره یې د دیني نظریاتو د یووالي او نږدېوالي هڅه کوله، لیکن اصلاح غوښتونکو

---

[1] خوشحال خان خټك کلیات، د عبدالقیوم مشواني په زیار، دانش خپرندویه ټولنه،پېښور، ۱۳۸۷، ۳۷۵ مخ.

ددوی څخه وروسته ددغه بهیر لوری او مخه دوخت په تیریدو سره د هومانیستي نظریاتو په پراختیا او پر دیني او الهي نظریاتو باندې غلبې او سلطې تمایل پیدا کړلو، یعني پـه لومړي سر کـې هومانیـستان او اصـلاح غوښتونکو دې تـه هڅه کوله، چې هومانیستي نظریه د مسیحیت د اصولو په چوکاټ کې بیان کړي ، خو وروسته بر خلاف، همدغه مسیحي اصول وو، چې د هومانیستي نظر په محدوده کې تعبیر او وویل شول. په واقعیت کې د انسان پالنې نظریات پر دیني طرزدید باندې برلاسي شول او د انساني دین په نامه نظریات مطرح شول. ددغه حرکت شدت په دې اندازه و، چې حتی ځینې هومانستان له اساسه د هر ډول آیین اصلاح غوښتونکي شول.

د دا ډول متفکرینو لـه ډلې څخـه کـولای شـو د فرانـسوي اګوسـت کنت (۱۷۹۸ – ۱۸۵۸م) د( انسانیت مذهب )نوم واخلو، چې په بې خدایي باندې ولاړ بشري مذهب باندې یې باور لرلو او هغه یې د ټولنې د اصلاح لپاره و.

خو په فلسفي نظریاتو باندې ددغه تفکر د اغیزو په باب کې باید ووایو، چې د رنسانس څخه وروسته ډیر شمیر فلسفې پـه یـو ډول د هومانیـستي طرزدیـد تـر نفوذ لاندې راغلې دي.

په اساس کې دا ډول طرزدید د نوې دورې د فلسفې د ډیرو مهمو څانګو څخه ګڼل کیږي. همدارنګه لکه چې وویل شول، د رنسانس د دورې هومانیزم ، فلسفي هومانیزم نه و. خو په نوې دوره کې د ځینو فلاسفه و په راڅرګندیدو سره لکه دکـارت، اسـپینوزا لاک، بـارکلي، هیـوم او... او ددوو عمـده فلـسفي جریـانونو رواجیدلو یعني د عقل پالنې او تجربې پالنې جریان په تـدریجي ډول سره خپل فلسفي مفاهیم یې بیا موندل. په عقل پالنې فلسفو کې که چیرې خبره د عقل د اصالت څخه رامنځته کیږي، په واقعیت کې خپله مرجع پـه یـوه انساني عقلاني

من کې بیا لټوي. لکه چې په تجربه پالو فلسفو کې چې د حس او تجربې پر اصالت باندې ټینګار کیږي، خپل مرجع د انساني تجربې من کې پلټي. دا دکارت مشهور اصل یعني (چې فکر کوم نو یم)(COGITO ERGO SUM) د(فکر کوونکي من) په چوکاټ کې و انسان ته د محوریت ور کولو او د فلسفې د پیل ټکی و. البته په دې باندې باید و پوهیږو، چې د نوي دور په فلسفه کې په ځانګړې توګه په روشنګرۍ دوره کې انسان پالنیز ډول کړنې ډېر زیات د پوهې پیژندنې په بحثونو کې راڅرګندیدل. یو شمیر پوهانو او فلاسفه و د شناخت پر عقلي عنصر باندې ټینګار کولو او یو شمیر نورو بیا د حس په عنصر باندې تاکید کولو.

خپله انسان او د انساني فرد د شخصي هویت په نظر کې نیولو سره په معاصرو فلسفي مکتبونو کې په ځانګړې توګه پراګماتیسم، مارکسیزم او اګزستانسیالیزم و فلسفي تاملاتو ته د ور ګرځیدا د ټکي په نامه تعقیبیږي، چې په لنډ ډول هغوی ته اشاره کوو.

۱ – د پراګماتیسم په فلسفه کې هومانیزم :

پراګماتیسم یا عمل ګرا مکتب د نورو فلسفي مکتبونو په نسبت په روښنګري عصر کې د هومانیزم سره ډیر نږدې والی لري. ددغه فلسفي مکتب ستر نماینده ګان (چارلز ساندرز پیرس)، (ویلیام جیمز)، (جان دیوي) او (اسکات شیلر) دي.

البته خاص هومانیستي نظریات یوازې د جیمز او شیلر په افکارو کې لیدل کیږي. په کلي توګه پراګماتیستي هومانیزم ځیني موضوعات لکه انساني تفوق او برتري، د علمي روش اعتبار او کله کله ددیني اعتقاداتو سره د انساني ارزښتونو ناسازګاري لکه د روښنګرۍ دورې په څیر مني، خو د ځینو مسایلو پر سر لکه د (انساني عقل) تغییر نه منونکی ماهیت او د آدمي د واک ماهیت باندې توافق نه لرلو. عمل ګرایان یا (عمل پالونکي) و دې ته تمایل لري، چې د انساني کړنو، تصوراتو او باورونو د عملي اغیزو په کاریدل او ګټو څخه خبرې وکړي. د ویلیام جیمز په نظریاتو کې د هومانیزم راپیدا کیدل په دې ډول وو، چې دی حقیقت د انسان او د هغه د متحولي تجربې سره په ارتباط کې نسبي بولي، نو انسان د حقیقت معیار ګڼي. شیلر هم په صراحت سره لکه (پروتاګوراس) انسان د ټولو شیانو معیار بللو. د شیلر پراګماتیسم د هرشي څخه زیات هومانیستي بڼه لري. دده انسان پال نظر په دې ځای کې ختمیږي، چې جهان پوره شکل منونکی ویني، یعني د انسانانو په مقابل کې د بې نهایته تعدیل لیدونکي او انعطاف منونکي جهان باندې ختمیږي.

۲ – د مارکسیسم په فلسفه کې هومانیزم :

د مارکسیسم په فلسفه کې هومانیزم انعکاس موندلی دی. مارکس په صراحت سره د هومانیزم د مفهوم څخه ۱۸۴۴ – ۱۸۴۳م کلونو کې په خپلو آثارو

کې نوم اخلي. که څه هم د ۱۸۴۵م کال څخه را وروسته آثارو کې په نادره توګه هغه کاروي. ددغه کار دلیل هم په ظاهره د روښنکرۍ انسان پالنې او د هغه د فرد پالنې سره مخالفت دی.

د مارکسیستانو له نظره رښتینې علمي فلسفه هغه فلسفه ده چې په رښتیني توګه دانسان په اړه سم نظریات وړاندې کوي. دده په باور دغه یوازینی مکتب دی، چې دانسان ټول اړخونه مطالعه کوي او انسان د ټول مادي او معنوي فرهنګ خالق (پیداکوونکی) ګڼي. د مارکس په نظر دانسان برخلیک د ټولنیزو مناسباتو د مجموعې څخه عبارت دی، چې دغه سرشت د ټولنیزو مناسباتو د تحول سره بدلون مومي. په دې توګه انسان په دایمي ډول خپل ځان ته بدلون ورکوي.

۳- داګزستانسیالیسم په فلسفه کې هومانیزم :

کولای شو ووایو، چې هومانیستي طرزدید داګزستانسیالیزم په فلسفي افکارو کې موندلای شو. په بنسټیزه توګه داکزیستنس (EXISTENCE) (د وجود اصالت) مفهوم په دغه فلسفه کې د(انسان وجود) په نامه کارول شوي دي. ددغو فیلسوفانو ترمنځ د ډیرو مهمو ګډو مفاهیمو څخه، و انساني فرد ته ځانګړې توجه او په جهان کې دانسان د موقعیت ټاکل او په کلي توګه فرد پالنه ده. په دغه فلسفه کې دوجود اصالت څخه مقصد انساني وجود دی.

دژان سارتر په افکارو کې (په ماهیت باندې د وجود تقدم)، بل هیڅ داسې عیني او څرګند کار چې کولای شو هغه انساني ماهیت وبولو، وجود نه لري. انساني ماهیت غیر له دې څخه چې وګړي یې تر سره کوي او ټاکي یې، بل شی نه دی. اګزیستانسیالیستي هومانیزم د پراګماتیم له هومانیزم سره دانساني کلي او ثابت ماهیت په انکار کې یووالی لري. اګزستانسیالیستي فلسفه دانسان د رښتیني مانا د ترلاسه کولو لپاره هڅې کوي. هغه مفاهیم چې په دغه اړه مطرح

کیږي عبارت دی له: د انساني آزادي مانا او ماهیت، د انسان برخلیک تاکل خپله دده په لاس، د خاص انساني وجود تقدم د هغه په ماهیت باندې، دانسان برتري او د هغه فردي شخصیت، د انسان مسؤلیت، د انسان دژوند مانا، د انسان د مرګ او درد اونور مسایل.

باید ودې ته پام ولرو، چې د هومانیزم اغیزې یوازې په دغو څو مکتبونو کې نه خلاصه کیږي اودلته د هغوی یادول له دې امله دي، چې ددغو مکتبونو ډیر شمیر استادانو خپلې فلسفې په رسمي ډول هومانیستي بللي دي.

## ج _ د شرقي او غربي فلاسفه و په نظریاتو کې د هومانیزم د مفکورې مقایسوي څېړنه:

د شرق او غرب په فلسفي نظریاتو کې د هومانیزم د نظریاتو څېړنه زما په اند ډېره ستونزمنه مساله ده، خو زه به تر یوه حده پورې کوښښ وکړم، چې د شرق او غرب په فلسفي نظریاتو کې د هومانیزم ځینې نظریې او مفکورې په مقایسوي توګه وڅېړم.

که وغواړو د یوه ملت د عقلي ژوند وده د مختلفو عواملو او علتونو له مخې وڅېړو، دا ډېر ستونزمن کار دی، ولې د عقلي ژوند په وده او تکامل کې محیطي او اقلیمي عواملو اغیزې د فکري عواملو په توګه بې برخې نه دي. ډېر پوهان او څېړونکي په دې عقیده دي، چې: (د چین د خلکو د فکري ښایستوب د سیمې په جغرافیاوي موقعیت کې ګڼلو، دوی په دې عقیده دي، چې دشمالي خلکو ذهني افکار د تجربې په واقعیتونو بنا دي، په داسې حال کې چې د جنوبي خلکو زیاتره د فکر دودې مفکوره یې په ماوراالطبیعه کې لیدله.)[1].

د ویلیام جیمز په وینا: (د فلسفې په مفهوم مانا او اصطلاح کې یې د خلکو د ذهنیت فکري (مفکوره) څرګنده کړې ده، ده د شمال خلک د (قهرجن فکر او مفکورې) په نامه یاد کړي او د جنوبي خلکو د فکر (مفکورې) یې د (نرم فکر) په نامه یاد کړي دي، ځکه د یوه فیلسوف او شخصیت په جوړولو کې اساسي رول محیطي شرایط برابروي).[2]

---

[1] سروپالي ، راداکریشنان، جواد یوسفیان، تاریخ فلسفه شرق و غرب، جلد دوم، تهران، ۱۳۸۲ ،ص ۵۶۷.

[2] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

همدارنګه د هيوادونو او ملتونو تمدنونو هم د فيلسوف او شخصيت په جوړولو کې زيات رول لوبوي، چې متقابلې اړيکې او اغيزې لري، چې د فيلسوفانو، پوهانو او حکيمانو د نظرياتو او عقايدو د جوړولو سبب ګرځي.

نو په دې اساس د مسيح ميلاد څخه د مخه په پنځمه او شپږمه پيړۍ کې د فلسفې ځيني ابتدايي نظريات او افکار د ځمکې په شمالي سيمو د مديترانې په شرق او جنوب کې په تيره بيا په هند، چين او ځينو نورو سيمو کې پيدا شول، چې پر زړو افسانوي کيسو او مذهبي معتقداتو او خپلو ټولنو فولکلوريکي اسطورې يې تر نيوکې او پوښتنې لاندې ونيولې، ځکه چې دوی زيات د پخوانيو فيلسوفانو او حکيمانو په نسبت د مسايلو په پيژندګلوي کې د زياتو ژورو افکارو توان درلود.

ځيني نور فيلسوفان او حکيمان د مديترانې په سواحلو لکه په يونان او کوچنې آسيا (اوسنۍ ترکيه) کې اوسيدل. دغه فيلسوفان زيات کونجکاو وو او د خپلې زمانې عقايد يې ټول د طبيعت د پيژندنې په اړه وو. دوی ټولو پر عقل اعتماد درلودلو او خپلې پوښتنې يې د طبيعت څخه راپيل کړې او د طبيعت د شيانو په څېړلو يې پيل وکړ او په اسطوروي کيسو او افسانو باندې يې ډير سخت انتقادونه او نيوکې وکړې. دغو فيلسوفانو د شيانو په اړه مفاهيم رامنځته کړل او د حقيقي شيانو د ظاهري شکل او ماهيت تر منځ توپير ته قايل شول. دوی عمومي سوال مطرح کړ او هغه دا چې د انسان د ژوند سمه لاره کومه ده؟ چا چې دې سوال ته د ځواب لپاره هلې ځلې کولې او دغه سوال سره يې علاقه درلودله، د (نوښتګر حکيم) په نامه ونومول شو.

دوې دغه نظريې په ديني او مذهبي بنسټ په هومانستي شکل کې څرګندولې. په دې وخت کې شرق د تمدن، علم او فرهنګ ځانګوه، په ځانګړې توګه کلده او ... له همدې کبله په شرق کې د لومړي ځل لپاره د تاريخي شواهدو او مدارکو له مخې دهومانيزم نظريات په ديني چوکاټ کې را پيدا شوي، چې بوديزم او جينيزم په هندوستان کې، کنفوسيوېزم او تالوييزم په چين کې، زردشت په افغانستان او مزدک په ايران کې را پيدا شول، چې په ټولنه کې د وګړو ترمنځ د زور زياتي د نه چلولو پر ورانديې د هومانيزم او انساني لوړو اخلاقو په څير هر انسان د بل انسان سره دنيکو چارو په چال چلند کې مرسته کړې او هغه بې لارې انسانان، چې ناوړه کړه وړه تر سره کوي، د هومانيزم او اخلاقو له لارې اصلاحي لارې ته رادعوت شي، تر څو ددې لارې څخه په ښو چارو روږدي شي.

دوې غوښتل چې په ټولنه کې د انسانانو ترمنځ د اجتماعي اړيکو لپاره هومانيزم د صحيح ايمان، صحيح علم، صحيح عمل او د انسان د نفس په پاکوالي او تزکيه کې نغښتي، دی. نو کولای شو لکه څنګه چې دوی ويل، ددې لارې ناسم او ناوړه خلک، زورور خلک، ظالم خلک ښې او سمې لارې ته راوګرځوي، چې دوی دا کار د انسانانو لپاره د روزنې، نيکمرغي د لاسته راوړلو لپاره ښه وسيله او ښه لاره ګڼله.

ددې ټولو اديانو ديني لارښوونکي په دې عقيده وو، چې انسانيت يعني نيک عمل، يعني د انسانيت لپاره رڼا، عدالت، سوله او خوښي ده، خو تر څنګ يې بد عملونه او ناوړه کارونه هم شته والی لري، چې د تورې تيارې سره مشابه دي، چې د انسان د ظلم، جګړې او زورزياتي پر بنسټ ولاړ دي، چې تل په کرکه او نفرت بنا دي.

نو دا دین و، چې د وخت د خلکو اخلاقي او کړو وړو اصلاح کولو اساسي دنده یې تر سره کوله همدغه ادیان وو، چې د کورنۍ، قومونو، ټولنو او ملتونو د انسانانو ترمنځ یې د خشونت، قتل، بې انصافي، غلا، قمار او نورو ناوړه عملونو پر ضد مبارزه کړې او د انساني کرامت او مقام د ستایلو لپاره یې زیاته پاملرنه کړې ده او خلکو ته یې د جماتونو د منبرونو له لارې د خشونت، قتل، غلا او د انسان د هر راز ناوړه عمل او جنایتونو د مخنیوي په لاره کې نه ستړې کیدونکې مبارزه کړې ده او دوی تل دانساني لوړو اخلاقو، هومانیزم، همدردۍ، انساني همکارۍ، دښه ګاونډیتوب، ورورۍ او اخوت ته خلک رابلل، چې همدغه یاد شوي دینونه وو، چې په شرق کې یې هومانیستي مفکورې او نظریات ددیني علماوو او پوهانو لخوا په عامو محافلو کې د وعظ په شکل خپرې کړي دي. دوی خلکو ته په مذهبي محافلو کې، حجرې او نورو ګڼو ځایونو کې د انسانانو حقوقي مسایل، انسان پالنه، اخلاقو، انسانیت او انساني کړنلارې د ټولنې ټولو قشرونو او افرادو ته وړاندې کړې دي.

خو په غرب کې هومانیزم په بل شکل سره تعبیر کیدلو. د منځنیو پیړیو فلسفه د مسیحي فلسفې څخه تشکیل شوې وه. ددغې فلسفې اساسي ټکی دا و، چې فلسفه له دین سره پخلا او دهغه په چوکاټ کې کړي. دغه فلسفه په دې عقیده وه، چې فلسفه له دین سره مخالفه ده او تعقل او استدلال نشي کولای، چې د فلسفې اساسي سوالونو ته ځواب ووایي، نو ځکه یې عقل مردود ګاڼه. نوموړې فلسفې د طبیعت، ټولنې او انساني تفکر ټول قوانین د ماوراالطبیعه پر بنا تحقیق او څېړل کیدل.

فیلسوف پرونتل لیکي چې: (په منځنیو پیړیو کې د فلسفې په نوم څه شي وجود نه درلود، هغه څه چې موجود وو، یوازې الهیات او د ارسطو منطق او د

افلاطـون فلـسفه موجـوده وه، چې پـه مکتبونـو کـې تـدریس کیدلـه. ددغـو موضوعګانو څخه بهر هر څه چې تدریس کیدل، د سختې نیوکې او وحشیانه برید سره به مخامخ کیدل)[1].

په فلسفې او ټولو علومو کې انکشاف او وده په تېپه دریدلې وه، نو نوي عصر نوې غوښتنې، نوې پوهې، نویو کشفیاتو، نویو عملونو او نویو څېړنو ته اړتیا درلوده، نو له همدې کبله په اروپا کې رنسانس راپیل شو.

رنسانس (RENAISSANCE):

هغه تاریخي، فرهنګي، اقتصادي او اجتماعي مغلقه او پیچلې پیښه، چې د رنسانس په نوم مشهوره وه، په یوولسمه میلادي پیړۍ کې په اروپا کې پیل شوه.

رنسانس په دې مانا دی، چې اوس فلسفه او فیلسوفان کولای شي، چې د خپلو لاسته راوړنو، عقایدو او نظریاتو په اړه په خپله د انسان په باب او ټولنیزو پیښو په اړه فکر وکړي او ډېر کم به د مادي اشیاو پر وجود او شکل پر مسایلو خبرې وکړي. انسان پالنه چې د ډېرو پخوانیو فرهنګونو سره اړیکې لري، هغه اصطلاح ده، چې د لومړي ځل لپاره د سیسرون لخوا وکارول شوه او ده په خپله په یوه اثر کې چې (خبرو په نامه) کې تربحث او څېړنې لاندې ونیوله، ده ویل چې: (که چیرې ځوانان د ټولنې اودولت لارښوونه او اداره په لاس کې واخلي، نو دا یوازې په هغه وخت کې کولای شي، چې په ښه صورت یې اداره کاندي، چې دوی د ادبیات، فلسفه، تاریخ، معاني، بیان او حقوقو په اړه پوره تیاری ولري. هغه

[1] داکتر اصغر، داد به، کلیات فلسفه، انتشارات دانشګاه نور، تهران، ۱۳۵۸، ص ۲۷۴.

چا چې په دغو علومو کې زده کړې تر سره کړې وي، د هغه ښکلی نوم به (انسان) وي).[1]

سیسرون بیاوایي، چې: (زموږ د ټولو نوم بشر دی، خو یوازې زموږ څخه د هغو کسانو (انسان) دی، چې د فرهنګ په اړه یې مناسبه مطالعه کړي وي او متمدن شوی وي)[2].

دغه ډول فرهنګوالي ته (انسان پالنه) وایي. دې ډول جریان په لویدیځ کې دوام درلود او انسان پالنه یې د یوې نوې زمانې زیږنده بلله، چې د ځانګړې مانا درلودونکې وه، چې انسان پالنې د مسیحیت د مذهبي افکارو پر خلاف په فلسفه، ادبیاتو، هنر او نورو علومو کې خپل نظریات وړاندې کړي دي. د انسان پالنې د مخکښانو له ډلې څخه یو هم فرانچسکو پترارک و، دی عاطفه پالونکی و، ده د همدې عاطفې پالنې او خپلې شاعرۍ په وسیله ددې زمانې د فرهنګ پر نیمګړتیاوو نیوکې وکړې او پر زړو او له کاره لویدلو نظریاتو او عقایدو یې سخت انتقادونه وکړل.

د رنسانس په دوران کې هومانیستان هغه کسان وو، چې د لرغوني یونان او روم آثار یې بیا له سره راژوندي کړل او هغه یې تر څیړنې، مطالعې او بحث لاندې ونیول او دوی خپلې څیړنې په بشري علومو او انساني علومو کې پیل کړې.

د نامتو فرانسوي مؤرخ ژول میشلي په وسیله هم د رنسانس کلمه استعمال او دبیا راژوندي کېدو په معنا وضع شوې ده او دی په دې اړه لیکي: (د رنسانس

---

[1] هانري لوکس،(د تمدن تاریخ)ژباړن ، دوکتور عبدالحسین، جلد دوم، چاپ تهران،۱۳۸۴، ص ۶۹

[2] پورتنی اثر، ۶۷ مخ .

هومانيستانو انسانان د منځنيو پيړيو له درانده خوبه راويښ کړل، پر جهان واکمن شول، ژوند يې تاسيس کړ، انساني کرامت ته په درنه سترګه وکتل شول، ټولنه وخوځيده او په ټولو مؤسسو کې تحرک پيل شو)[1].

په غرب کې يې انسان د ټولو شيانو معيار يعني انسان د ټولو شيانو محور ګڼلو او په غرب کې د انسان په اړه عقايد او نظريات د مختلفو فيلسوفانو له لورې ورکړل شول، چې د غرب د يونان فلسفي څخه پيل او داوسني غرب په فلسفي مکتبونو کې يې ځانونه را ښکاره کړي دي. همدغه د غرب د يونان فلسفه وه، چې د هومانيزم افکارو اساسات يې کيښودل، چې وروستيو فيلسوفانو همدغو تيوريو ته وده ورکړه، چې بيلابيل فلسفي مکتبونه په غرب کې را پيدا شول.

خو په شرق کې د سيد هارتا په نوم (۵۶۰- ۴۸۳ق م) په ټول هندوستان کې خلکو په بيلابيل ډول درنځ او درد سره مقابله کوله او ده به ويل، چې: (بودايي مقام ته هغه څوک رسيږي، چې د طلايي خوب څخه بيدار شي او نړۍ ته د يوې نوې منظرې په توګه وګوري)[2].

دده د عقايدو او نظرياتو او دده د هنري فکر له امله د هند، شرقي آسيا او دنړۍ لويه برخه خلکو د فکري بدلون سبب وګرځيده. دده ځانګړي عقايد درلودل، خو د هغې له جملې څخه يو د انسان د رنځ په اړه عقيده ده او دى وايي چې بودا لکه جين په دې عقيده دی، چې انساني رنځ، جهان او ځان حقيقت ته د خيال آميزه ليدنې

---

[1] سيد احمد، تولقون، تاريخ قرون وسطی، کتابدرسی برای محصلان،نشر، وزارت تحصلات عالی ومسلکی، چاپ کال ۱۳۶۳ ،ص ۵۹.

[2] رابرت ، سولومون . تاريخ فلسفه درجهان ، ژباړن، منوچهر شادان، ، تهران،بهجت، ۱۳۸۷ ،ص ۲۰ .

پایله ده، انسان کولای شي، دخپل شخصیت د روزنې سره دآرام خاطر ژوند تر لاسه کړي، په دې ډول چې د تشو غوښتنو او تندو هیجاناتو څخه چې د رنځ سرچینه ده، ځان خلاصوي.

هندوایزم، جینیزم او بودیزم هغه درې فلسفي مکتبونه دي، چې په خپل منځ کې زیات ورته والی لري

**په لرغوني چین کې:** د چینایانو لرغوني عقاید د پیل څخه د دوو متفکرانو نظریات د(لائوتسه)او (کنفوسیوس) په نامه را پیل شوي، چې (لائوتسه) د میلاد څخه د مخه په شپږمه پیړۍ کې ژوند کاوه، په چین کې (کنفوسیوس) او معاصر لائوتسه، په هند کې (بودا مهاویرا) په یونان کې سقراط او افلاطون، دیهودو په قومونو کې (دوم اشعیای) زردشت په افغانستان او مزدک په ایران کې ظهور کړی و.

لائوتسه د چین لوی فیلسوف د کنفوسیوس څخه یو څه مخکې دنیاته راغلی دی او دده سره یې نږدې اړیکې درلودې. لائوتسه (۶۰۴ق م) کې پیدا شوی او په (۵۲۴ ق م) کې مړ شوی دی. د لائوتسه د دین پیروان اجازه لري، چې د نورو ادیانو لکه کنفوسیوس او بودا څخه هم پیروي وکړي ، دتائو فلسفي ښوونه او روزنه په درې اصلونو کې خلاصه کیږي :

۱- اقتصاد، ۲- په ژوند کې سادګي، ۳- اخلاق او نیکي، حتی هغه خلک چې زما سره یې دښمني کړې هم وي. د لائوتسه دغه درې عنوانه دستورونه شمیرل کیږي. د تائو مذهب د جګړې او د وینو تویولو سره مخالف دی. په دې مذهب کې قتل، فریبکاري، غلا، لوټماري، د مور او پلار خبره نه منل، د میړه له طرفه د ښځې سره بدرفتاري، کورنۍ ته نه پاملرنه، ناروغانو ته نه پاملرنه، اولادونو ته د ښوونې او روزنې نه پاملرنه کول، مړی خاورو ته نه سپارل، دژویو وژل لویه ګناه بلل کیږي او مجازات لري. د تائو په دین کې جنت او دوزخ، مکافات او

مجازات د جاپاني دين (ماهايانا) څخه اخيستل شوي او اقتباس شوي دي. د(لائوتسه) په عقيده، علم او پوهه، معرفت او فضيلت نشته، بلکې هرڅومره چې د ښوونې او علومو وده او تکامل رامنځته کيږي، په هماغه اندازه سره د بدکارو شمير هم زياتيږي او د حکومت مخالفت هم را پيدا کيږي او په دې اړه وايي چې: (خلک د حکومت د شته والي څخه پر ته هم کولای شي، چې ژوند وکړي، ځکه چې ستم هغه وخت پيدا کيږي، چې قوي دولت پر ملت حاکم وي).[1]

د لائوتسه په عقيده چې (خدايان پرته له دخالت د ارواح څخه خپل کارونه پای ته رسوي او نيکوکاران مکافات او بدکاران مجازات کوي. که چيرې پاچا په مذهبي مراسمو کې زيات کوښښ وکړي، هغه په نيکي پای ته رسيږي او د کرهنې محصولات زياتيږي. د طبيعت قوانين، د اخلاقي قوانينو او هم د اجتماعي قوانينو سره يو ځای په يووالي کې عمل کوي او د اجتماعي نظام ښه تدارک او تنظيم رامنځته کوي.

د چين بل هومانيست او فيلسوف کنفوسيوس دی، چې د چين په هيواد کې ځانګړی ځای لري. د چين فلسفي او هومانيستي مکتبونه څلور دي، چې هغه عبارت دي له جوپيا يا د کنفوسيوس مکتب، داتوچيا يا د دائوآئين موچيا يا موتزو فلسفه او قانوني مکتب، چې زه دلته يوازې د کنفوسيوس فلسفي مکتب او د هغه هومانيستي نظريات تر بحث لاندې نيسم.

---

[1] رابرت، سولومون، کاتلين هيگيننز، تاريخ فلسفه درجهان، مترجم: منوچهر شادان، تهران، ۱۳۸۷، ص ۱۸۱.

کنفوسیوس:

(کنفوسیوس) چې حقیقي نوم یې (کونګ چیو) دی او زده کوونکو ده تـه کونګ فوتزوه) وایه. نوموړي پـه (۵۵۱ق م) کـال د(چوفو) پـه ښار کې چې (لو)ولایت دی، دې دنیا ته سترګې وغړولې.

(کنفوسیوس) په کوچنیوالي کې پلار د لاسه ورکړ او مور یې دده ساتنه او روزنه په خپل لاس کې ونیوله. دی ډیرو لوړو مقامونو ته ورسید. د (لو) ولایـت د دربار سلاکار وزیر شو او د مختلفو ادیانو پـه مطالعه بوخـت شو. ډیرې رسالې یـې ولیکلې او داخلاقي اصولو پـه ترویج او تبلیغ کې یې زیات پیروان او دوستان راپیدا کړل. د، پـه پیل کـې داسې مجلس جوړاوه، لکـه سقراط چې خپلو زده کوونکو ته پرته ددرسي کتاب ځخه زده کړه ورکوله. خو کنفوسیوس هیڅکله د یوه سند ځخه پرته د درس زده کړه نه کوله، ځکه دده درسونه د زده کوونکو لخوا لیکل کیدل او دده رسالې او کتابونه هیڅ وخت د زده کوونکو په اختیار کې نه ورکول کیدې.

(کنفوسیوس)ډیر ساده او فقیر ژوند درلود. ده د یوه کلیوال ښوونکي ځخه زده کړه کوله او زیات وخت په تحصیل او زده کړه، په شعر او تاریخي روایاتونو په زده کړه او لاسته راوړلو کې تیر شو او د موسیقي سره یې زیاتـه علاقه درلوده. کنفوسیوس په دې نظر و، چې: (شعر د انسان عمل او سرشت جوړوي او(آیین) انسان ته زده کړه ورکوي او(موسیقي) انسان ته کمال وربخښي).

(کنفوسیوس) اخلاقي مکتب تعالیم او احکام د(لي) پر اساس قرار لري، (لي) د(تائو) پر ځای کاروي. (لي) هماغه د(تائو)رول لوبوي.

لـي کنفسیوس د ډیرو معانیو مثلاً معنوي او مادي سپیڅلتیا، انسانیت، رسوم او تشریفات، عبادات او دانسان داجتماعي او مذهبي چارو دلاړښود

داصطلاحاتو لپاره کارولی دی . ده چې کله دچین دخلکو ناوړه او غمجن حالات لیدل ، نو ویل به یې چې : خلکو دخپلو پلرو او نیکه گانو د(لي) سمه لاره چې دخیر او برکت لاره وه پرېښودې اوس لازمه ده چې خلک بیرته د(لي) سمې لارې ته راوگرځي .

کنفیسیوس د(لي) دکلمې تفسیر په خپل کتاب (لي چي) کې داسې کړی دی ، چې : د(لي) اصول دټولنیز تنظیم او دعدالت بنسټ جوړوي ، دهمدې اصولو له مخې دخلکو حقوقي اړیکې او مسؤلیتونه ، چې یو دبل سره یې لري ، څرگندوي ، چې دټولنیزو مؤسساتو داعتدال او تناسب سبب گرځي او بشري ټولنې به دکلیو په شمول یو دبل سره دخوښۍ ژوند بیامومي ، کنفسیوس د(لي) دفلسفې پنځه مهم موضوعات په دې ډول بیانوي : دپاچا او خلکو اړیکې ، دپلار او اولادونو اړیکې ، دمېړه او مېرمنې اړینې ، دمشرانو او کشرانو وروڼو اړیکې ، ددوستانو ترمنځ اړیکو ولاړ دي .

په همدې ډول دلوړو ارواحو سره دانسان اړیکې دپاچا او وزیرانو ترمنځ اړیکې او ددولت دمامورینو ترمنځ اړیکې دملاحظې وړ دي . کنفسیوس وایي که نوموړې ټولې اړیکې د(لي) داصولو برابر پلې شي ، په پایله کې به په هر کور کلي او ټول هیواد کې بهٔ اعتدال منځ ته راشي ، چې همدغه اعتدال به دانسان او هستیو ، ځمکې او اسمان د ښو روابطو سبب وگرځي . [1]

---

۱ محمد نادر ، ایوبي ، فلسفه ، ۱۰۷ - ۱۰۸ مخونه .

کنفوسیوس ویلي: (رښتیا ده چې ټولنه فاسده ده، چې د انسان اخلاق او تمدن له منځه وړي، خو دا کار او دلیل د ټولنې نه دی، بلکې د ناقصو قوانینو د شته والي علت دی، چې په ناسمه توګه پر ټولنه باندې حاکمیت لري)[1].

کنفوسیوس ته د چین سقراط وایي. دده ښوونه یوازې انسان او انساني چارو ته وقف شوې ده. کنفوسیوس به ویل چې: (زه ټول وحدت غوښتونکی یم)[2]. نوموړی په دې نظر دی چې: (انسان باید په انتخاب کې دقت وکړي او ښه او بد و پېژني)[3].

او بیا په بل ځای کې وایي چې: (بې شمیره زامن او بې وفا میرمنې هغه څوک دي، چې د حقیقت څخه خالي دي)[4].

ده وویل چې ډېر لوی اخلاقي هنر خپلو نیکونو ته احترام دی او باید د هغوی د خاطرو قدرداني وشي او مور او پلار د اجدادو استازی او نښانه وي، زامن او لوڼې تر څو چې ژوندي وي باید هغوی ته اطاعت او پوره اخلاص ولري. ده ویل چې پاچا باید د خلکو لپاره ښوونه او روزنه، سوله او روغتیا رامنځته کړي او عدالت باید تل دده په نظر کې وي.

همدارنګه ده ویل چې: (که چیرې رعیت د دولت د فرمان څخه سرکشي ونکړي او د دولت چارواکي د هغوی د چارو په اړه د عدالت څخه بهر نشي، که چیرې کارګران د سرمایه دارانو څخه دستور ترلاسه کړي، هغه وخت به سرمایه

[1] عبدالله ، مبلغی ، آبادانی، تاریخ ادیان و مذهب جهان، انتشارات حر، تهران، ۱۳۷۰ ، ص۱۷۷.

[2] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

[3] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

[4] پورتنی اثر، ۱۷۸ مخ.

داران د کارگرانو تر لاس لاندې قرار ولري. په دې صورت کې چې سرمایه داران چې سرمایه په لاس کې لري، کله چې اختلافونه، جګړې، تضادونه، ظلم، ستم او تجاوز د ټولنې څخه لیرې شي، نو په هغه صورت کې به ټول خلک یو د بل دوستان او ملګري وګرځي... چې نور اختلافات او دوه ګونې طبقې د خلکو په منځ کې ونه لیدل شي او ټول خلک به خوشحاله ژوند وکړي او د ټولنې مادي او معنوي حالت ښه والی مومي)[1].

د کنفوسیوس د ښوونې مرکزي ټکی انسان دی، چې محور او جوهر یې د هغه لوړ حکمت مقام دی چې انسان ته د ډېر لوړ ارزښت په سترګه قایل دی، نو ځکه دده یوه نوې حکیمانه ښوونه(رن) یا(انسانیت) دی. په دغه محور او بنسټیز کار کې د(انساني استعدادونو غوړېدنې او انساني فرد او شخصیت ته احترام او د انساني حقوقو ساتنه) ځای لري. د کنفوسیوس د زده کوونکو څخه یو زده کوونکي (رن) داسې تعریف کوي، چې: (روان هنر، اصل مهر و مرکز آسمان وزمین). د چین په ژبه کې د(رن) کلمه ددوو حرفونو څخه جوړه شوې ده، چې یوه یې(انسان) او بل ته یې (دو) او دغه نښان ورکوي، چې نه یوازې انسان بلکې دده اړیکې او ارتباطات د نورو انسانانو سره هم ښیي.

کنفوسیوس په دې عقیده دی، چې انساني اړیکې باید د اخلاقو پر اساس په(رن) بنا وي، چې د مثبتو هڅو لپاره د نورو د نیکۍ سبب وګرځي. هغه به ویل: (رن د نورو دوست لرل دي). په حقیقت کې کنفوسیوس(رن) نه یوازې په ځانګړي ډول اخلاقي هنر ګڼلو، بلکې د ټولو هنرونو زده کړه یې هم ګڼله. له همدې کبله کولای شو، چې هغه د(پوره هنر) په نوم تعریف کړو. همدارنګه

[1] تېر اثر، پورتنی مخ.

شاید وکولای شو چې د(رن) اندیشه د(شیانو) په مفهومونو یا د(زامنودندې) یاد(وروڼو مهرباني) بیان کړو. دغه دوه مفهومونه دیوه انساني احساس بیانوونکي دي، چې د خودپرستۍ پر ضد خوا کې قرار لري.

د زامنو دندې معنوي پیوند حالت دوخت سره تل او د وروري مهر، د معنوي پیوند حالت یوه نښانه(نامحدود مکان حالت دی...د کنفوسیوس دوه مفهومونه د یو بل پر وړاندې راغلي دي: (جونګ)یا (وفاداري)او(شو)یا(نوعي دوستي)د انسان ځان (جونګ) په حالت کې په پوره ډول د خپل ځان سره په رښتینتوب کې وي. په داسې حالت کې چې د(شو) په حالت کې د خپل ځانه بهر نړۍ ده. پوره پوه د هغې سره پوره همدردي لري. جونګ چیني لغت دی، چې ددوو اړخونو(میانه)او (دل)یعنې (منځینی)او (زړه)څخه ترکیب شوی دی. انسان چې په منځ کې زړه لري، د نورو سره همدردي ښیي، نو له همدې کبله د خپل ځان سره وفاداره پاتې کیږي.

...(جونګ)دمثبتې لارې تمرین(رن)دی. (شو) په چیني ژبه کې دا معنا لري چې (چون زړه خپل)دی، یعنې د نورو سره هغه څه وکړه، چې زړه دې غواړي. کنفوسیوس د(شو) په معنا کې وایي:(هغه څه چې د ځان لپاره یې خوښوي، د نورو لپاره یې هم خوښ کړه)[1].

(شو) د منفي لارې تمرین(رن) دی. د (جونګ) او( شو) مفهومونه هماغه دوه مفهومونه دي. په دې توپیر چې دغه دوه اصوله د کورنۍ ننیو اړیکو ته اشاره کوي. لکه څنګه چې وویل شول، په شرق کې د کنفوسیوس هومانیستي نظریاتو او افکارو یادول ډیر ضروري دي، ځکه چې د نړۍ د ډیرو پخوانیو سیمو څخه

---

[1] تېر اثر، ۱۸۰ مخ.

شمیرل کیږي، چې لرغوني مدنیت او فلسفي هومانیستي افکار د همدغو فیلسوفانو له لوري مطرح شوي دي او انکشاف او وده ورکړل شوې ده. د چین پوهان او فیلسوفان د ماوراالطبیعه، د نړۍ د پیدایښت، د انسانانو د ټولنیز ژوند، ټولنې، سیاست، اقتصاد، اخلاقو او نورو بشري مطالعاتو لپاره نوموړي پوهان شل پیړۍ مخکې غړیدلي دي.

د کنفوسیوس نوم او لفظ په چیني ژبه کې (کونګ فو تسه) دی، چې په چیني ژبه کې (کونګ) د پوه په مانا او (کونګ تستي) ترکیبي نوم د (پوه ښوونکي) مانا لري. دی د چین د خرابې اقتصادي او اجتماعي وضعې له امله مجبور شو، چې د ټولنې لپاره مؤظف او نګران شي، نه دا چې دی د فلسفې څخه تیښته وکړي، لیکن دی غواړي، چې خلک تشویق کړي، ترڅو چې خلک په ټولنیزو چارو کې مشارکت وکړي او د انسانانو اړیکې تنظیم او ټولنه ښه اداره کاندي او دده ټوله فلسفه د اخلاقي او اجتماعي سلوکونو او رفتارونو پر تیوري بناوه.

(هماهنګي) یعني همغږي هم ورته وایو، دغه اصطلاح په دې ځای کې د چین د فیلسوف لپاره ځانګړې ارزښت لري، لکه څنګه چې د افلاطون د آرماني ټولنې لپاره نظریه درلوده، کټه مټه نظریه په چین کې (مودزو) د کنفوسیوس زده کوونکي وو، چې د (آرماني) ټولنې (مهربه همه) یعني د ټولو لپاره شفقت (بې ازاري) د مودزو اشعار وو، چې د کنفوسیوس سره یې مشترک نظریات درلودل. دی د انساندوستۍ د آرماني ټولنې لپاره لوړ شعار و او د مدینه ټولنې لپاره یې مودزو دغه شعار و (یو او بل دوست ولرئ او سعادت او بریالیتوب د یو بل لپاره وغواړئ)[1]

---

[1] عبدالله ، مبلغی، آبادانٰ، تاریخ ادیان و مذاهب جهان، ناشر، انتشاراب حر ران تهران ۱۳۷۰ ، ص ۱۸۸.

او داسې نور هومانیستي نظریات د مودزو تعالیم مرکزي ټکی (د ټولو لپاره لطف) تشکیلوي، خو کنفوسیوس هم غربي په موسیقي کې د ټولنې د رفا او نیک بختۍ ته د رسیدو لپاره کاروي.

د ځینو په نظر کنفوسیوس خردمند دی، چې ټولنه اداره او رهبري کوي، خو (همغږي) په ټولنه کې د مشخص فضیلت پر بنا هم ده (دلته ده چې د کنفوسیوس نظریه د افلاطون او ارسطو د نظریې سره مطابقت لري) له دې ځایه په ډاګه ښکاري، چې د کنفوسیوس فلسفه په ډیره زیاته اندازه په پرهیزګاري او فضیلت متکي ده.

د کنفوسیوس فلسفه یوازې په اجتماعي تفکر متمرکزه نه ده، بلکې ډیر پخوا یې د غرب د فلسفې څخه خپله ژبه پیدا کړې وه. د چین فیلسوفانو د ژبې ډیر اساسي رول زموږ د نوعې په پیژنګلوي او د نړۍ په پیژندلو کې ترسره کړی دی او ټولنه، کورنۍ، دولت، حکومت او د ټولنې نورې برخې یې په ژوره توګه څیړلي دي.

د هومانیزم نظریات او افکار په افغانستان کې د ډیرو لرغونو وختونو څخه را پدیخوا په دیني نظریاتو کې راڅرګند شوي دي. نږدې څلور زره کاله وړاندې د ربشتیا او رښتیا یو داسې لیوال پلټونکی فیلسوف راڅرګند شو، چې د واحد خدای (ج) لمانځنې ته یې د انسان کړه لاره سیخه کړه.

هغه څه چې ده د ځان څیړنې او جهان څیړنې له لارې د ځان پیژندنې او خدای (ج) پیژندنې په اړه موندلي وو، د ځان روزنې او نړۍ پالنې لپاره یې په مینویې سرودونو کې خلکو ته ورسول. د بشر پالنې او خلکو ته د سمې لارې ښوونې هومانیست زردشت دی، چې د خپل آیین له لارې یې د وحدت

پرستۍ (مونيزم) مفکوره ترويج کړه او خلک يې و سمو لارو ته راوبلل، ځانګړي شعارونه يې دا وو، چې (ګفتار نيک، پندار نيک او کردار نيک.)

زردشت د يوه مصلح، هومانيست، فيلسوف او د ځينو روايتونو له مخې د يوه پيغمبر په حيث راڅرګند شوی دی. دده په وخت کې دوه ډوله دينونو رواج درلود (اهورا مزدا) او (دوا) دينونه، چې زردشت د اهورا مزدا دين قبول کړ او د دوا دين يې لغوه او رد کړ. دغه دين د آسيا په مرکزي سيمو او يونان کې هم پيروان درلودل، چې د انسان د اعمالو، افعالو، ښو او بدو، شر، نيکي او خير په اړه يې ځيني فلسفي پوښتنې لکه (شر) څه شی دی او له کومه ځايه (شر) راپيدا کيږي، په داسې حال کې چې خدای (ج) د نړۍ پيداکوونکی نيک او توانا دی. د زردشت بله پوښتنه دا وه، چې آيا د انسان عقل ددې توان او قدرت لري، چې د (خير) او (نيکي) او (شر) ترمنځ مساله حل او فصل کړي، نو دلته ده، چې ده دوې لارې په ګوته کړي: يوه لاره يې د (خير) او (نيکي) لاره او بله د (شر) او (بدي) لاره ده، روښانه کړه. ده د (خير) او (نيکي) لاره د بريالیتوب او کاميابۍ لاره وبلله. خو د (شر) او (بدي) لاره يې د ويرانۍ، ويجاړۍ او خرابيدو لاره وګڼله.

د زردشت په دين کې لوی مفهوم شته والی لري، چې نه په پخواني مصر کې ليدل شوي دي او نه د هندوستان په مذهبونو کې ليدل شوي دي. دبودا دين او د جين آيين د زردشت د آيين سره په ځينو شيانو کې سره ورته دي.. ددين د انتخابولو خپلواکي، د وينو تويولو او قربانيو څخه بيزاري او کرکه، ژوندیو ژويو ته احترام او د درې ګونو اديانو اصول او د زردشت ددين د اصلاحاتو نفوذ د دوی ترمنځ ګډ ټکی دی.

د زردشت په آیین کې شیان په دوه ډولونو ویشل شوي دي: (ښه) او (بد) (ښه) یو اساس لري، چې هغه (اهورا مزدا) دی یا (سپند مینو). او (بدي) هم اساس لري چې د (اهریمن) په نوم یا (انګره مینو) لري، چې ناپاک دي)[1].

زردشت به ویل چې: (خدای یو دی او انسان د ښتیا په لاره د ځمکې د ساتلو او آبادولو دنده لري)[2].

د زردشت له نظره انسان څه دنده لري: دی وایي چې (انسان د ورځني ژوند، تجربې او استدلال له مخې، انسان د آزادې ارادې قدرت د انتخاب او اخلاقو په اساس کولای شي، چې د دغو دواړو څخه یو د ځان لپاره (خیر او نیکي) او یا (شراو بدي) انتخاب کړي)[3]. زردشت د یوه دیني عالم په حیث خپل پیروان د (خیر روح) پر وړاندې متعهد کول او په سراسري ژوند کې یې نیک نصیحت، نیک ویلو او نیک کردار ته تشویق کول. زردشت وعده کړې وه، که چیرته یو څوک په دې شعار باندې عمل وکړي، نیکه پایله او مثبتې پایلې به ولري. د زردشت د کترین مور ته دا اطمینان راکوي، چې په دې جهان کې هغه وګړي چې د خیر پیمان یې تړلی دی، د خدای مبارک حضور او ابدي ژوندون به ترلاسه کړي، په بله وینا نیکي تل پر شر بریالی ده.

زردشت تل (رڼا) هومانیزم او (ظلمت) د انسان د زورزیاتي او د انسان ضد بد عملونه دي، چې نوموړی جهان هم د همدغو دوو برخو څخه تشکیل شوی دی. ده (یزدان) هومانیزم او (اهریمن) د انسان په حقوقو د تیري او تجاوز او بد عملونو سرچینه بللې ده.

---

[1] عبدالله ، مبلغی ، آبادانی، تاریخ ادیان و مذاهب جهان ،ص ۳۷۲.

[2] سلیمان ، لایق، د زردشت مینویي سرودونه، لومړی چاپ، ۱۳۸۸ ، لومړی مخ.

[3] خلیل ، سکندر خان، فلسفه زړه او نوې، پیښور چاپ، ۱۹۶۶ ، ۱۲۰مخ.

په غربي يوناني لرغونې فلسفه کې د رواقيونو د مکتب هومانيستي نظريې د چين د کنفوسيوس او په افغانستان کې د زردشتي نظرياتو او د يونان د اپيکوريانو د عقايدو سره مشابه نظريې لري، چې د زينون او کريسپوس غوندې فيلسوفانو لخوا يې خښته ايښودل شوې ده.

رواقي مکتب له ميلاد د مخه د څلورمې پيړۍ په وروستيو برخې او د درېمې پيړۍ په سر کې فعاليت درلود. په آتن کې د شکاکينو په مدرسه کې خپل تحصيلات بشپړ کړل، (زينون) په خپله سوداګر او وروسته يې د فلسفې په زده کړه پيل وکړ، وروسته د رواقيونو د تعليماتو پوهنځی تاسيس کړ او ديرش کاله هلته په تدريس او تعليم ورکولو بوخت و. د رواقينو په سياسي عقايدو او نظرياتو کې راغلي دي چې: (د ټولنې ګټې تر فردي ګټو ترجيح لري.)[1].

انتيس تنس د کلبيونو مشر ويلي دي: (تقوا او فضيلت د سعادت بنسټ دی او د فضيلت بنسټ پوهنه ده. پوهنه زده کولای شو). دده په نظر: فضيلت او سعادت د زده کړې په وسيله رامنځته کيږي، که سعادت په دې ډول حاصل شي، هيڅکله له منځه نه ځي.

رواقيونو عقل ته زيات ارزښت ورکاوه او د عقل په اړه وايي چې: (ښه ژوند ته د رسيدو لاره داده، چې يوازې په عقل باور ولرو او په خپلو احساساتو او عواطفو اعتماد ونکړو، ځکه د احساساتو پايله هر وخت غم او بدبختي وي)[2].

په غربي فلسفه کې يو بل نامتو فيلسوف او هومانيست سيسرون دی، چې دی د رواقيونو د فلسفې پلوی او د افلاطون او ارسطو د فلسفو څخه يې اخيستنې

---

[1] آريانا دايرة المعارف،دوهم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، نبراسکا مطبعه، ۱۳۸۶، ۱۹۴ مخ.

[2] پورتني اثر، ۱۹۵ مخ

کړي دي، دی د انسان په اړه عقیده لري او وایي چې: (انسان طبیعتاً ټولنیز موجود دی، چې ګوښې توب او یوازېتوب ته میل نه لري)[1].

سیسرون د هغې ټولنې په باره کې غږېږي، چې د انسانانو ګټې مشترکې، پر عدالت ولاړې او د خلکو په خیر وي.

اسلامي مکتب چې پر اسلامي اساساتو او قوانینو ولاړ دی، د غربي او عیسوي تفکراتو څخه ډېر وړاندې د هومانیزم اساسات او نظریات درلودل، چې (۱۴) سوه کاله مخکې بیان شوي او د انسان حقوقو او مقام ته یې په درنه سترګه کتلي دي.

د اسلام دین د انساني تفکر روښانه او ځلانده فلسفي او فرهنګي غورځنګ دی، چې د هغه مسیر بهیر او توانایي په تاریخ کې څرګنده ده. رسول اکرم (ص) د اسلامي جامعې اساس په مدینه کې کېښود او دا جامعه په اسلامي اخوت او مشترکه عقیده بنا وه او د (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ) په اساس رسول الله (ص) د مهاجرو او انصارو ترمنځ د ورورولۍ تړونونه قایم کړل او په دې ورور ولي کې عرب او عجم، غلام او بادار، تور او سپین، ظالم او مظلوم توپیر نه درلود او د منافعو تصادم پکې موجود نه و.[2]

د اسلام دین ولګړو ته برابر حقوق ورکړي دي او په دې اړه قرآنکریم فرمایي: (انَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّه أَتْقَاكُمْ)[3]. ژباړه: (بیشکه عزتمند ستاسې د الله (ج) په نزد پرهیزګار دی).

---

[1] پورتنی اثر، ۱۹۶ مخ.

[2] د معلولیت ترمینالوژي، تالیف او تدوین، د وړتیا او پرمختګ موسسه، مین پاکي، ۱۳۸۷، ۱۰ مخ.

[3] سورة الحجرات، ۱۳ آیت.

اسلام و هر مسلمان ته امر کوي، چې پر بې وزلو، غریبو، مظلومو او معلولو رحم کول ضرور او لازمي دی او څوک چې په نورو رحم نه کوي الله(ج) پر ده رحم نه کوي او اسلامي ټولنه د ټولو غړو په ګډ عمل او حرکت ابادیږي. بې عیبه یوازې یو الله(ج) دی. انسانان ډیر عیبونه لري، نو مسلمان ته په کار دي، چې چاته یې په لاس او په ژبه خیر ورسیږي او هیچاته یې په ژبه او لاس تاوان او ضرر ونه رسیږي.

په یوه حدیث شریف کې راغلي دي چې وایي: (مسلمان د مسلمان ورور دی، مه ظلم ورباندې کوئ، مه یې ذلیلوئ، نه یې خواري ته پریږدئ او نه یې سپکوي، د انسان لپاره همدومره کافي ده، چې د خپل مسلمان ورور سپکاوی ونه کړي، وینه یې تویه نکړي، مال او ابرو یې تر پښو لاندې نه کړي، چې دا کار پر مسلمان ورور حرام دی، ځکه چې الله(ج) ستاسو شکلونو او جسدونو ته نه ګوري، بلکې هغه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري.)[1]

کله چې عربو په فارس او بیزانس حمله وکړه، نو عرب پوهان د یوناني یهودي او مسیحي فلسفو د نظریاتو سره مخامخ شول او مرکزیې په بغداد کې تمرکز پیدا کړ، نو عربي ژبه د پوهې او علم اصلي ژبه وګرځیده. د ۷۵۰ میلادي څخه بیا تر ۹۰۰ میلادي کلونو پورې په بغداد کې د یونان ارسطو، افلاطون او فلوطین یو زیات شمیر آثار په عربي ژبه وژباړل شول او عربو پوهانو د فلسفې لپاره خپلې فلسفي اصطلاحګانې او لغاتونه پیدا کړل او د فلسفې کلمې د ارسطو یې فلسفي کلمې په څیر د یوې منظمې پوهې په څیر د هغې د عصر ټوله پوهه، چې یوناني فیلسوفانو لاسته راوړې وه، په خپلو ژباړلو کتابونو کې ځای پر ځای کړه.

د اسلامي فیلسوفانو څخه ابن سینا یو مشایي فیلسوف دی، چې په غربي فلاسفه و یې زیات تاثیرات له ځانه پرېښودلي وو او د عقل په اړه یې ویل چې

---

[1] د معلولیت ترمینالوژي، تالیف او تدوین، د وړتیا او پرمختګ موسسه، مین پاکي، ۱۰ مخ.

عقل الهي دی. دی د اسلامي نړۍ د هغو متفکرانو او پوهانو څخه شمیرل کیږي، چې د نړۍ د علومو په وده او تکامل کې یې زیاته ونډه اخیستې وه. د هغوی د علومو له جملې څخه دده د قانون او شفا آثار زیات اهمیت لري، چې دده په لیکنو کې د انسان کرامت، د انسان د ناروغۍ لپاره بنسټیزه تداوي او دژوند په نورو اړخونو کې د انسان لپاره نورې حیاتي مسالې پرتې دي.

# پنځم څپرکی

## په افغاني ټولنه باندې
## د شرقي او غربي هومانيستي نظرياتو اغيزې

هومانيزم چې د انسان پالنې په مفهوم دی ، د روښنگرۍ د نوي عصر په دوره کې د ډېرو مهمو لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي ، ددغه نوي تفکر رېښې بايد مونږ د رنسانس په دوره کې ولټوو. په ۱۵او ۱۶مو پېړيو کې په اروپا کې دهومانستانو دښوونې او روزنې دبرنامې په واسطه ډېر غټ بدلونونه رامنځ ته شول . دغه بدلونونه په شمالي او جنوبي اروپا کې دغير کليسايي نړۍ ليد په واسطه رامنځ ته او د اروپا په بيلابيلو هيوادونو ، همدارنگه د اسيا په بيلابيلو هيوادونو ، په تېره بيا افغانستان هم ترې بې اغېزې پاتې نه شو .

د هومانيزم اصطلاح چې د انسان پالنې په معنا ده ، د رنسانس د دورې يو فکري جريان و ، چې په منځنيو پېړيو کې يې د انسان د ارزښتونو څخه بحث او

ځیږنه کوله ، کوم چې د مسیحي رهباني نړۍ لید پر وړاندې ، چې انسان یې ګناهګار ګڼلو ، دخلاصون د فکري جریان څخه شمېرل کېدو .[1]

د رنسانس په دوره کې د هومانستانو له خوا کومه ښوونیزه برنامه چې طرح او تدوین شوې وه او په هغه کې د نحو او صرف علم ، یوناني او رومي ادبیات ، اخلاق ، شعر او بدیع شامل وو. دغه ښوونیزه برنامه دلرغونو یونانیانو او مسیحي پوهانو له آثارو څخه جوړه شوې برنامه وه ، چې د انساني علوموپا SAUDIA , HUMANITATIS په نوم یادېدله ، په دې برنامه کې پر هغو موضوعاتو زیات تاکید کېده ، چې د مدرسې نړۍ لید یې درلود ، یعنې نړۍ یې یوازې په مذهبي افکارو باندې توضیح کوله . هومانستانو سیسرون ، اویدوس ، ویرژیل او سنکا کوښښ کاوه ، چې یوناني او لاتیني ژبې زده کړي او د مدرسې افکارو څخه لرې توب وښیي او هومر ، توسیدوس ، سوفوکل او پندار دآثارو مطالعه وکړي ، ترڅو دانسان پالنې په اړه معلومات ترلاسه کړي .

په لرغوني روم کې سیسرون او د روم نور فیلسوفان په دې عقیده وو، چې انساني علومو مطالعې ته چې SAUDIA , HUMANITATIS او انساني ارزښتونو ادبیاتو ته چې ، LITTERAE HUMANIORES په نوم یې شهرت درلود ، د ازادې ښوونې او روزنې چې د یوناني او رومي متونو څخه ترکیب شوې ، چې د صرف او نحوې علم ، د بیان او خبرو اترو د فن علم ، تاریخ ، فلسفه او اخلاق په کې شامل وو ، ترڅېړنې او تحقیق لاندې ونیسي او د انسان او انساني علومو په اړه خپله پوهه لوړه کړي .

[1] www.arwansoinfo,۲۰۰۸،۱۱،۲۶۱۵,html.

رومي هومانستانو دښوونې او روزنې برنامه نه يوازې د مدرسي د افکارو پر ضد وه ، بلکې د عقل اصالت او د انسان پر ازادۍ او پر حقوقو باندې يې هم زيات ټينګار کولو . د شمالي اروپا په فرانسه کې د پاريس په پوهنتون کې د فلسفې له نظره د انسان پالنې روح او د انسان پر مخ پرتې ستونزې يې تر څېړنې او تحقيق لاندې ونيولې او دوی پر دې باور شول چې د ارسطو د فلسفې د عقل تيوري او د هغې مشايي فلسفې روح دوچ درس په معنا دي ، چې انسان ته څه شی نه شي ورکولای او بل طرف ته نوې افلاطوني فلسفه ده ، چې عرفاني رنګ لري ، چې ټول شيان د عشق د دروازې له مخې تر څېړنې او کتنې لاندې نيسي ، پر دې فرانسوي اکاډمۍ يې حاکميت او واک درلود .

خو په شمالي افريقا کې کم کم غير کليسايي نړۍ ليد راښکاره شو ، چې د منځنيو پېړيو د نړۍ ليد څخه يې توپير درلود ، په دې هيواد کې د مختلفو مؤسسو رئيسانو ، د حقوقو استادانو او وکيلانو د هومانيزم په رواجولو او تدريس کې ډېر ستر رول ترسره کړی دی او د هومانستانو د پيروانو له ډلې څخه شمېرل کيږي .

د لرغونې دنيا په اړه د رومي حقوقو زده کړه د شيانو د څېړلو لپاره ډېره لويه کنجکاوي وه ، چې اقتصادي ودې او پراختيا او نورې فرهنګي برنامې په کې موجودې وې ، د ايټاليا د نوي بدلون او تحول شرايط يې برابر کړل او د کليسايي افکارو درسونه يې د هېرولو ژورې کندې ته وسپارل ، د مثال په توګه د لرغوني روم د شعرونو په ځانګړو آثارو ، چې د حقوقو پوه البر تينو موساتو ALBERTINO MUSSTO د سنکا تراژيدي کتابونو او آثارو د ژورې مطالعې پر اساس ده پخپله د اګرينيس په نوم ډرامه (نمايشنامه) وليکله ، چې مسيحي پاپان او د کليسا طرز او دستور يې تر سختې نيوکې لاندې نيولې و او ځينو نورو په شمالي اروپا کې

دانسان دارزښتونو په اړه خبرې کولې ، چې هغه لوی پوهانو عبارت دي له ، دانته (١٢٦٥ - ١٣٢١م) ، پترارک (١٣٩٤ - ١٤٧٤م) بوګاچو (١٣١٣ - ١٤٧٥م) او همدارنګه په ١۴مه میلادي پېړۍ کې نوموړو ټولو ادبیاتو ته مخه کړه ، چې دوی ټولو دیونان او روم دلویو فیلسوفانو پوهې ترلاسه کړې او دهغوی مفکورې او نظریات یې دځان دلارښودنې لپاره دسرمشق په توګه وګرځول او کوښښ یې وګړو ترڅو غربیانو ته وروښیي انسان یوازې ناطق حیوان نه دی ، چې ارسطو به ویل ، بلکې انسان دشیانو لپاره دارزښت ټاکونکی هم دی .

فرانچسکو پترارکا FRANCESCO PETRARCKA دهیومانیزم پلار او لومړنی متفکر و ، چې داروپا په لویه وچه کې دیونان او لرغوني روم ادبیات او دانسان ارزښتونه یې رواج کړه ، نوموړی مسیحي و او دپروتاګوراس او سیسرون هغه لنډ عبارت چې (انسان دټولو شیانو معیار او ترازو دی) سره موافق او همنظره و او دانسان شرافت ته یې هم په درنه سترګه کتل او هغه یې دخلکو دپراخو تودو په منځ کې تبلیغولو .

پترارکا عرفان او انجیل ته پاملرنه نه کوله او دهغې څخه یې لرېتوب غوره کولو او دابن رشد په فلسفه یې عقیده درلوده ، خو دمنطق سره یې هم علاقه نه ښودله او دهغې څخه یې هم کرکه کوله ، همدارنګه نوموړی دمشایي ماوراء الطبیعه ، طبعي فلسفې او منطق ته په کم ارزښت قایل و ، خو داخلاقو فلسفې ته یې دډېر لوړ ارزښت په سترګه کتل ، ځکه چې دده په عقیده دغه داخلاقو فلسفه دانسانانو دلارښوونې او اړیکو ، دښو او بدو لپاره ښه معیار کېدای شي ، خو دفلسفې دنده دا نه ده ، چې دطبیعت پټ رازونه راڅرګند کړي یا مجرد مسایل په ظرافت سره بیان کړي ، بلکې فلسفه انسان ته باید دژوند کولو چل وزده کړي او انسان پر دې پوه شي ، چې ولې موږ دې نړۍ ته راغلي یو او دکوم ځای څخه

راغلي يو او کوم ځای ته چې نوتر ټولو يې اخلاقي فلسفه ډېره مهمه ده او اخلاق دانسان لپاره ډېر مهم او حتمي دي او دفلسفې موخه هم دهمدې کار لپاره ټاکل شوې ده .

اورنزو والا (۱۴۰۷-۱۴۵۷م) LORENTIUS VALLA دبديع او بيان دفن استاد و ، نوموړی دژبې او ادبياتو ، دنحوې او صرف او دلاتيني ژبې استاد او د ډيرو آثارو درلودونکی و ، نو پر دې اساس نوموړی دخلکو په منځ کې ډېر زيات مشهور او نامتو و ، دی دلرغوني يونان او لاتيني ژبو کارپوه ، دهومر ، توسيديدوس او هيرودوت لاتيني ژبې ژباړونکی او پر دې عقيده و ، چې دانسان عقل محدود او نشي کولای دخپل ځان لپاره دنجات او خلاصون لاره پيدا کړي ، خو لوتر دنجات لاره يوازې دخدای (ج) په قدرت او لطف کې ليدله ، نه دانسان په زيار او کوښښ کې نو له همدې کبله نوموړي دجبر پالنې په تبليغ پيل وکړ او په دې اړه يوه پېړۍ وړاندې دراسموس هومانيست څخه يې ژوند کولو ، ده دتومارموس فلسفه هم مطالعه کړه او دمدرسې فلسفې سره يې چندان علاقه ونه ښوده ، خو داخلاقو له فلسفې سره يې زياته علاقه او ذوق څرګند کړو او فلسفه ، د بديع او بيان علم ، حقوقو او خطابه يې دانسان دزده کړې لپاره ضروري وګڼل .

هومانيزم داروپا په شمال کې هم رواج وموند او ډېر غټ نماينده ګان يې اراسموس ، روتر دامي او انګليس توماس مور و . درنسانس هومانيستانو مؤرخينو داروپا دشمال هومانيزم يو خپلواک او ټولنيزه پديده وګڼله ، خو ځينو نورو بيا نوموړې پديده دايټاليا دهومانيزم تر اغېزې لاندې وشمېرله ، دځينو ارزونو په پايله کې ويلای شم ، چې دشمالي اروپا دهومانيزم په پيدا کيدو کې دوه ډوله فکتورونه موجود و ، چې يو يې ايټاليايي فکتور او بل يې اجتماعي او اقتصادي لاملونه بلل شوي دي . خو دا دواړه لاملونه صحيح دي ، دايټاليا هومانيزم او دهغه

دراتگ علتونه په ایټالیا کې څرګند او معلوم دي ، خو دشمالي اروپا هومانیزم کې په ځانګړي توګه دبلژیک او هالنډ هیوادونو کې دمنځنیو پېړیو په اواخرو کې اجتماعي ، اقتصادي او فرهنګي تحولات رامنځته شو ، چې په شمالي اروپا کې دهومانیزم دراتګ شرایط یې رامنځته کړي وو ، خو تر څنګ یې دایټالیا هومانیزم اغېزې هم موجودې وې ، چې دشمالي اروپا هومانیزم یې رادمخه کړو .

په المان کې هم دهومانیزم فکري غورځنګ موجود و ، په المان کې دایټالیا په نسبت هومانیزم دلرغونو ادبیاتو او مسیحي تفکر له مخې کم نه و ، په المان کې خلکو زیاته علاقه دمسیحي دین په نوي فکر او اصلاح کې لیدله ، ځکه چې هغوی دلاتیني او یوناني ادبیاتو سره زیاته علاقه درلوده . دالمان هومانستان خود بخود هغه قوه وه ، چې دپروتستانو دموجودیت پر اساس په نظري لحاظ کلیسا مردوده ګڼله .

دالمان نامتو هومانستان رودولف اګریکولا (۱۳۸۵ - ۱۴۴۳م) RUDOLF AGRICOLA و ، چې دالمان دهومانستانو پلار ګڼل کیږي . ده په ایټالیه کې دلوون په پوهنتون کې لوړې زده کړې دهومانیزم دښوونې او روزنې په اړه ترسره کړي دي او په مقدسو متونو باندې یې زیات تاکید کړی دی .

په انګلستان کې هم هومانستان تقریباً روحانیون وو، دوی اکثرو دکلاسیکو لاتیني او یوناني ژبو په اړه تحصیل کړی و ، هغوی دېرو دمنشي ، لارښوونکي ، دیپلومات او دکلیسا په لوړو څوکیو کې کار او دنده تر سره کړې وه . جان کولت (۱۴۶۷ - ۱۵۱۹م) JOHN COLOT څو کاله په ایټالیا کې تېر کړي وو ، چې کله بېرته المان ته راوګرځېده ، نو مقدسو متونو ته په ځانګړي ډول دپولوس خطونه (نامې) یې تدریس کولې .

ددغو مقدسو متونو په زده کړه او مطالعه کې دڅېږې دپېژندنې متودونو سره اشنا شو او هغه به یې زده کوونکو ته تدریس کول . همدا ډول ده ټول مسیحت او انجیل په یوناني ژبه وژباړه ، ځکه چې دوی نوي افلاطوني تمایلات درلودل . ده په مشایي فلسفې باندې حمله وکړه . توماس مور (۱۴۶۷ – ۱۵۱۹م) THOMAS MORE درنسانس دعصر ډېر نامتو هومانیست و ، دده کتاب دښاري آرمان په نوم ددغې دورې د ډېرو مهمو آثارو څخه ګڼل کیږي ، چې ده په دې لیکنه کې انساني ارمانونه په ایډیالي شکل سره په ټولنه کې وړاندې او تشریح کړل .

اراسموس (۱۴۶۶ – ۱۵۳۶م) ERASMUS د روتردام اوسیدونکی او ټولې نړۍ ته یې دیوه کور په سترګه کتل ، نوموړي درهباني استین ځې لوړې زده کړې وکړې او ده دنورو اکثرو هومانستانو او روحانیونو په شان دکاتولیک کلیسا پیروي کوله او څو کاله یې په پاریس کې هم تېر کړل ، ډېر سفرونه یې وکړل ، چې مهم یې بلژیک ، انګلیستان او سویس ته دیادونې وړ دي ، دده نږدې دوست توماس مور و ، چې هیڅ وخت یې سیاسي مسؤلیت ته غاړه نه ایښوده ، خو یوازې دپاچاهانو او امیرانو سلاکار پاتې شوی و او په کاتولیک کې یې کومه ځانګړې دنده او رتبه نه درلوده ، ده دانسان پالنې دتفکر له مخې په خرافاتو عقیده نه درلوده او په خپل کتاب کې یې په ځانګړي توګه لېونتوب دستاینې په کتاب کې هغه اصول نقد کړل ، چې دپاپانو او دکلیسا دپیروانو عملونه یې دتمسخر او ډرامې او دنمایش په توګه دخلکو په وړاندې وښودل ده دکاتولیک کلیسا داصلاح لپاره زیاتې هڅې وکړې ، دانسان پر ازادۍ یې عقیده درلوده او دانسان پر خبرتیا او اګاهۍ دګټورې ښوونې او روزنې له لارې حاصلیږي او حقیقت ته تیاریږي .

په اروپا کې ځينې پروتستان او کاتوليک روحانيونو هم روحاني طرز ديد ، چې دهومانستي پاپانو څخه شمېرل کېده ، خبرې وکړې ، چې هغه عبارت دي له په ۱۹ ميلادي پېړۍ کې درې اساسي پاپان لکه دوهم پيوس (PUS-۲) ، څلورم سکستوس (SIXTUS-۴) او لسم لؤی (LEO-X) چې دهومانيزم په رواجولو کې يې ځانګړی مقام درلوده . دوی هم ددين اصلاح غوښته ، همدا ډول پروتستانو هم دهومانيستي ښوونې او روزنې په اړه ډېر عملي کار کړی و ، چې دهغې له جملې څخه مور دلته دفلپ ملانکتون PHILIP MELANCHTHON ، لوهان استروم LOHANN STRUM ، چې دوی دواړو دلرغوني يونان او روم آثار وژباړل ، تحليل او وارسي يې کړل او دمشايي او اخلاقي فلسفې څخه يې زيات معلومات تر لاسه کړل ، چې وروسته دغو لاسته راوړنو په اروپا او داسيا په نورو هيوادونو کې په تېره بيا په افغانستان کې زياتې اغېزې له ځانه پرېښودې.

شرقي فلسفې هم په غربي فلسفې باندې تاثيرات درلودل د شرقي او غربي فلسفې مشترکې وجهې يو واقعيت دی، چې د اروپا په تاريخي دوران کې را پيدا شوی تغيير او تحول يې پيدا کړی دی. ځينې پوهان ليکي چې: (د روڼ آندی تاريخي ځای او بنسټ اسلامي تمدن دی، چې اسلامي فلسفې اغيزې د غرب په فلسفه باندې، په تيره بيا د ابن رشد د فلسفي افکارو او نظرياتو اغيزې وې، چې د غرب مدرنه فلسفه يې رامنځته کړه)[1].

که چيرې ځير شو، ابن رشد د مسلمانانو د لويو فيلسوفانو او غټو عقليونو د بنسټ له ډلې څخه شميرل کيده، چې کولای شو هغه د مدرنيته او روڼ آندي په

---

[1] سيد حسن، اخلاق، سنت روشن انديشی، موسسه انتشارات امير كبير، تهران، ۱۳۸۸ ، ص ، ۶۶

لومړي کتار کې وګڼو. د مدرنیته او عقلیونو اساسي بنسټ او قوت د ابن رشد اسلامي فلسفي تفکر و، چې په غربي فلسفې په مدرنیته تفکر په غرب کې راوزیږیده. په دې اړه د غربي د علم تاریخ لیکونکی لیکي چې د علم تاریخ د لیکونکي له نظره: (منځینۍ پیړۍ د نوې ودې د مزرعې پیړۍ ده. اسلامي مکتب د یوناني پوهې یادژوندی ساتلو او د طبیعت په باب یې زموږ پر شناخت باندې د پام وړ ډیره برخه ورزیاته کړه)[1].

بومر په دې باب لیکي: (ددې څخه به هیڅ یو موږ منکر نه وو، چې منځنۍ پیړۍ د فرهنګي او فکري پلوه د (لرغوني زمانې) او (مدرن عصر) تر منځ یو بې حاصله او شنډه دوره وه، بلکې خپله یو پیل دی. د منځنیو پیړیو تاریخ لیکونکو په وروستیو وختونو کې د مدرن او نوي تمدن ریښې په اسلامي تمدن او فرهنګ کې کشف کړي دي)[2].

(بومر) د هغه په دوام د دولسمې پیړۍ (رنسانس) څخه یادونه کوي، چې د ارسطو د نظریاتو د یوناني، عربي، رومي حقوقو او هم په مدرسي مباحثاتو کې د نویو باریکو نظریاتو فکري پیچلتیاوې د بیا راژوندي کیدلو په مانا دي.

زموږ په پیړۍ کې د منځنیو پیړیو متخصص آتین ژینسون په صراحت سره لیکي: (زه په دې اند نه یم چې ووایم که چیرې اګوستین قدیس نه وای، د منځنیو پیړیو عقلي ژوند به څه وضعیت لرلو، لکه چې نشم کولای دا انځور کړم، که چیرې ابن رشد او د هغه لاتین اتباع نه وای، څه به کیدل او له دغه پلوه هم دي،

---

[1] تېر اثر، پورتنی مخ.

[2] پورتنی اثر، هماغه مخ.

که چیرې هغوی نه وای، د قدیس اکویناس عمل او اغیزه به هم په هغه شکل چې وه، نه به وای)[1].

د (ژیسون) په نظر یوازې د هغه علم په پایله کې چې ابن رشد فلسفې رامنځته کړي وو، یو ډول خوځښت او فلسفي ژوند را څرګند شو، چې په ټول رنسانس کې د نولسمې پیړۍ تر نیمایي پورې دلرغوني دور په توګه پاتې شو، چې کولای یې شوای د ګڼورو عقلي اړیکو لپاره یوه زمینه واوسي، تر څو چې ډېر ځلانده علمي اکتشافات دداسې وګړو په وسیله لکه د کارت، پاسکال، لایبستنیس او نیوتن په هماغسې زمینې کې د راڅرګندېدو او رابرسیره کیدو امکان یې پیدا کولو. د مسلمانانو د رول اهمیت تر دې کچې پورې و، چې حتی د ظلمت او تیاره دوران په شتون کې هم ددغې روښنایي له لیدلو څخه نشو کولای، چې سترګې پټې کړي)[2].

کولای شو، چې له اسلامي فلسفې سره د غربیانو د آشنایي تاریخي دوران په دریو دورو وویشو:

لومړۍ مرحله د اتمې میلادي پیړۍ څخه تر دولسمې پیړۍ پورې کارولنیژنانو رویکار کیدل په غیږ کې نیسي. ددغې دورې د اصلي ځانګړتیاوو څخه یوه دا وه، چې غربیانو زیاته پاملرنه د اسلامي تمدن فرهنګ بهرنی نمایش یا ظاهري علومو او فنونو ته اړولې وه، لکه په اوسني وخت کې بر خلاف د مسلمانانو آشنایي د غرب فرهنګ او تمدن سره معکوس حالت لري.

دوهمه مرحله د دولسمې میلادي پیړۍ څخه پیل او د دیارلسمې میلادي پیړۍ تر نیمایي پورې په بر کې نیسي. په دې دوره کې په غرب کې د ژباړې

---

[1] تېر اثر، هماغه مخ.

[2] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

دوران بلل شوی دی او دا دوره د پوهنتونو د بنسټ ایښودلو او پراختیا او د اسلامي نړۍ سره د آشنایي دوره ده. همدارنګه د متونو ژباړه هم له علمي ژباړو څخه پیل شوې او له فلسفي ژباړو سره اوج ته رسیږي، لکه چې ددې پیړۍ په اخیرو کې ابن سینا، فارابي، غزالي، کندي، خوارزمي، ابن هشم او ابو معشر خراساني د مسیحیانو لپاره آشنا نومونه وو. د اسلامي تمدن، فلسفي علمي ژباړې په اړه غربي نړۍ د اسلامي نړۍ سره زیاته آشنایي پیدا کړه او په خپله غربیانو مودرنې (MODERNI) لغاتونو په وسیله یې د مسلمانانو متفکرانو توصیف او ستاینه کړې ده، چې په غرب کې د نوې مفکورې چې هغه هم علمي متونو او عقل پالنې پر بنسټ بنا وه، په غرب کې یې ورځ په ورځ زیات رواج پیدا کړ.

د عربي متونو ژباړې په لاتیني ژبه، چې ځانګړي مرکزونه یې په اسپانیا او جنوبي ایټالیا کې وو، یعني په هغو ځایونو کې چې مسیحیانو مستقیماً د مسلمانانو او یهودیانو سره په ارتباط کې وو.

د ټولنیزو اقتصادي بدلونونو او د اسلامي نړۍ او لرغونې نړۍ متونو د پېژندنې لپاره د غرب د دوهم فرهنګي غورځنګ څخه وروسته په دې پیړۍ کې یو نوی میتود او تفکر د ظاهري عالم په اړه وړاندې کړ، چې غربیانو د دولسمې پیړۍ رنسانس وبللو.

دریمه مرحله د دیارلسمې پیړۍ له نیمایي څخه د دیارلسمې پیړۍ د رنسانس دورې ته رسیږي، چې ډیر لوی لاملونه یې د ابن رشدیانو د لاتیني تفکراتو اغیزې وې، چې په غرب کې یې عقلاني سنت رواج کړ، چې داوو پیړیو څخه زیات وخت په پاریس، لون، پادوا او بولونیا کې د مغرب په ځمکه د عقل تاریخ تدریس کیدلو.

په هغه پیړۍ او هغه وخت کې د مسلمانانو پوهانو او دهغوی د ملرنو علومو لپاره عربي ژبه علمي او اکاډمیکي ژبه پیژندل شوې وه او هر څه چې په عربي لیکل شوي وو، هغوی لومړیتوب درلود. تاریخ د شلو څخه د زیاتو ژباړونکو نومونه پیژني، چې د دولسمې پیړۍ څخه تر شپاړسمې پیړۍ د کتابونو ژباړې یې د اسلامي علومو په اړه په لاتیني ژبه کړي دي.

په یوه کلي دید کې کولای شو، چې پر غربي فلسفې د نوې فضا په رامنځته کیدو باندې د ابن رشد دوه ډوله اغیزې ووینو:

لومړی: د عقلاني مباحثاتو او په عقل باندې د باور لرلو د فضا د رامنځته کیدو د پراختیا له لارې. ابن رشد د ارسطو پر آثارو باندې د خپل تفسیر له لارې د لویدیځوالو لپاره د یوناني فیلسوف د ښه پوهیدو لپاره لاره پرانستله او له همدې لارې یې د خپل استدلال روش په وسیله د غربیانو ذهن یې عالم د عقلاني بررسۍ سره آشنا کړ. له هغې څخه د مخه د لویدیځ د منځنیو پیړیو فیلسوفانو د منطق او عقلانیت سره آشنا او اخته وو. هغوی ارسطو زیات د منطق ذان په نامه پیژندلو. ابن رشد د مابعد الطبیعي عقلانیت و خپلې لوړې کچې ته ورسولو او غربیان یې و دغه ډول طرز دید ته سوق کړل، چې عقل خپله کولای شي د حقایقو په کشف کې د څېړنې معیار وګڼي. په پایله کې هر متفکر چې غوښتل یې د ابن رشد مشایي تفسیر سره مخالف او یا له هغه څخه انتقاد وکړي، ناچاره باید و فلسفې ته رجوع وکړي، نو په غربي فرهنګ کې فلسفي بحثونه په دغه ډول تفکر سره ځانګړې عقلاني مرتبه پیدا کړه. په واقعیت کې ابن رشد غربي عقلانیت ته ټکان ورکړلو او په نوموړې خاوره کې یې په عقل باندې باور لرل یې ژوندی کړ.

ژیلسون لیکي: (هغه مورخان چې د هغه مذهب په ریښو کې د (نوي عقل اصالت) په نامه څېړنې کوي، هیڅکله په منځنیو پیړیو کې نه باید د دا ډول

مذهب له شته والي څخه غافل واوسي، ځکه چې په واقعیت کې ابن رشدي دود پر له پسې تو ګه داسې لېږ وه چې د پاریس او پادوا دادبیاتو داستانونو څخه پیل او د اولسمې او اتلسمو پیړیو تر (آزاداندیشانو) پورې دوام پیدا کولو)[1].

دوهم: د هغه ځانګړي مکتب له لارې چې په غربي فلسفه کې د ابن رشد د نظریاتو په تابعیت کې رامنځته شول، یعني لاتیني ابن رشدیان. دغه مکتب د دیارلسمې م پیړۍ څخه تر رنسانس دورې پورې ابن رشد په غربي فلسفه کې د یوه بنسټ ایښودونکي فیلسوف په نامه ژوندی وساتل شو.

په داسې حال کې چې توماس اکویناس دابن رشد فلسفه (د ټولو فلسفو ویجاړوونکې فلسفه) ګڼلې ده، خو د ټولو فیلسوفانو له ډلې څخه دارسطو د نبوغ څخه یې یادونه کړې ده. ژیلستون په غرب کې دابن رشد دفلسفي نظریاتو اغیزمنتوب او توصیف داسې بیانوي: (دراجریکن هغه لنډ متن چې د ۱۲۳۰ م کال د تثبیت پیل دی او د هغه ټاکونکې مرحله دآلبرتوس ماکوس کارو بارو، چې دابن رشد په اړه یې په ۱۲۵۰ م کالونو په حدودو کې تر سره کړې او وروسته توماس اکویناس دی، چې پنځه سوه درې وارې (۵۰۳) دابن رشد د تفکراتو او افکارو په روښانه ډول سره یادونه کړې ده)[2].

دامپیر لیکي: (د ابن رشد ښوونې... د مخالفت سره سره په ځانګړې توګه د دومینیکي فکري لوی مکتب له اړخه په زړونو کې ځای لرلو. په اوومو او دیارلسمو پیړیو کې ابن رشد د ایټالیا په جنوبي پوهنتونونو، پاریس او اکسفورډ

---

[1] سنت روشن اندیشی در اسلام وغرب، ص ،۷۰.

[2] پورتنی اثر، ۷۱ مخ.

کې یوه معتبره مرجع ګڼل کیدله او د بیکن په عقیده انزاسکوتس ددې وړتیا درلوده، چې د منطق د علم د استاد په توګه دارسطو تر څنګ ځای ولري)[1].

د غرب نوې فلسفه د ابن رشد څخه اغیزمنه شوې وه. فرانسس بیکن د لاتیني ابن رشدیانو څخه او لایب نیتس دده دمیتافزیکي نظریاتو څخه او اسپینوزا د ابدیت ګرایي د مفکورې څخه او هیګل د مطلق نظریې څخه اغیزمن شوي دي.

ځینو د تاریخي مدارکو له مخې د شرق د معنوي روح او د غرب د مادي روح پر اساس په دې باور دي او د ابن رشد په دې بیان سره چې نوموړی لیکي: (ای خلکو! نه وایم هر هغه څه چې تاسې یې د الهي علومو په نامه پیژنئ غلط یاست، بلکې وایم هر هغه څه چې زه پرې پوهیږم انساني علم دی)[2].

دلته ده، چې ابن رشد او نوی بشریت چې د نوې زیږیدنې او بیا رغونې د غوړیدو په وخت کې رامنځته شوی دی ، هانري کوربن په دې اړه لیکي: ((شاید په دې صورت کې به سمه وي، چې ووایم ابن رشد ته به څرګنده شوې وي، چې ده نه شو کولای چې په اسلام کې خپل ژوند ته دوام ورکړي، بلکې غوښتل یې چې اروپا یې مفکورې ته ترجیح ورکړي)[3].

په لنډه توګه باید ووایم چې ابن رشد په غرب کې ژوندی دی، همدارنګه څو کاله مخکې د بن په ښار کې د منځنیو پیړیو د فلسفې په اړه یوه نړیواله کنګره جوړه شي، پریکړه وشوه چې دابن رشد ټول آثار چې په لاتیني ژبه ژباړل شوي وو، د دوهم ځل لپاره په انتقادي ډول بیا له سره تصحیح او خپاره شي.

---

[1] تېر اثر، ۷۱ مخ.

[2] پورتني اثر، ۷۳ مخ.

[3] پورتني اثر، پورتني مخ.

په ۱۷ م پیړۍ کې دوه تنه نامتو پوهان چې یو د بل سره یې په نظریاتو کې مخالفت درلود او د موازاتو په عنوان (لومړني نوي خلک) بلل شوي وو. یو یې پیترارک چې ایمان لرونکی سړی او د فلسفې ضد سړی و او بل یې دانته چې ابن رشد یې طرفدار او عقل پالونکی و، دیو او بل پر وړاندې نوې مبارزه راپیل کړه، خو د ابن رشد عقل پالنه د هیګل او اګوست کنت لخوا بریالۍ شوه.

په غرب کې د ابن رشدیانو پر فلسفي بهیر لومړنۍ مرحله د یهودي فیلسوفانو او ژباړونکو په واسطه تر سره شوې ده او د هغوی آثار موږ ته رارسیدلي دي. څرنګه چې د ابن رشد آثار په عربي ژبه محدود او ډیر کم و او د اندلس حاکمان د ټینګ مخالفت له مخې ددغو فلسفي آثارو د چاپ او خپرولو مانع ګرځیدل. ددې پر ځای چې د یهودو پوهانو په عبري ژبه ژباړل پیل کړي او د عربي اصلي نسخو څخه یې په عبري لیک باندې اړولي وو. د اصلي یهودي ابن رشدیانو پلویانو کې د ابن میمون د زده کوونکي څیره راڅرګنده شوه او د یهودو فلاسفه دانار بوني او السبلاغ په واسطه یې دوام پیدا کړ او د لاتین ابن رشدیانو په نامه تمامه شوه.

د ابن رشد پلویانو په غرب کې د ابن رشد افکارو او نظریاتو ته پراخوالي ورکړلو او د نومونړې فلسفي نظریاتو مخالفو مفکورو سره یې ډیره سخته مبارزه وکړه او د ابن رشد د فلسفې ځای او مقام په غربي فرهنګ کې ځای ونیولو.

په دیارلسمه پیړۍ کې په انګلستان کې د اکسفورډ په نامه پوهنتون جوړ شو، چې په دې پوهنتون کې تجربي علوم لوستل کیدل او په غرب کې یې ډیر لوی رول ولوباوه.

د تجربه پالنې مؤسس بیکن ددې پوهنتون استاد وګڼل شو. په دې پوهنتون کې پوهانو او استادانو د ابن رشد مفکورې او نظریې قبولې کړې او په عمل کې یې

دهغوی تدریس کولو، په همدې وخت کې کولای شو، چې د مایکل اسکات شخه یادونه وکړو، چې نوموړي دیوه ټولنیز او سیاسي شخصیت په نوم هم شهرت درلود او په غرب کې د دیارلسمې پیړۍ د مشايي فلسفې ډیر مهم فیلسوف ګڼلی شو، چې د تجربه پالنې روحیه یې په انګلستان کې راژوندۍ کړه، په ځانګړې توګه راجر بیکن یادولای شو، چې د (تجربي علم) نوموړي متفکر ته انتقال کړ. د اکسفورډ پوهان او څېړونکي چې د هغه وخت په پوهنتون کې موجود وو. په دیارلسمې پیړۍ کې انګلیسي نامتو مؤلف او ژباړونکي مایکل اسکات چې نه یوازې دخپل علم په وسیله د لوړ سیاسي او ټولنیز شخصیت په نامه شهرت درلود، بلکې په لومړي سر کې دغه ژباړونکی او مؤلف خپل نوم د ابن رشد د نامه سره یو ځای ګڼي.

مایکل اسکات په اسکاتلند کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي او د پاریس او اکسفورډ په پوهنتونونو کې زده کړې تر سره کړي دي او نوموړی په ۱۲۲۰ م کال کې ایټالیا ته تللی دی، چې هلته په ایټالیا کې یې هم د ابن رشدیانو د ښوونې او روزنې مرکزونه جوړ کړل. په څوارلسمه پیړۍ کې د ابن رشد مکتب په ایټالیا کې د فکري – فلسفې د ډیر مهم مکتب په نامه وګڼل شو، ځکه چې په ایټالیا کې په هغه وخت کې د بولونیا او پادوا طبي پوهنتون فعال، د فلسفې او منطق د مطالعې مرکزونه چې د ابن رشد مفکورې او نظریات یې خپرول رامنځته شول. (انجلو اهل ارزو) د بولونیا د پوهنتون استاد د ابن رشد پر نظریاتو زیات مین و او ډیر مینه وال یې درلودل. ده د ابن رشد نظریات تر شرحې لاندې نیولي او هغه یې د مسیحي ایمان په شکل مطرح کول. پادوا د ایټالیا د ښارونو څخه د وینز ښار ته نږدې پروت دی. په دیارلسمه پیړۍ کې په همدې ښار کې پوهنتون پرانیستل شو، چې د هغه ښار نوم یې اوچت کړ. د پادوا پوهنتون په اروپا کې لومړنی

پوهنتون و، چې تشريحي تالارېي درلود. ګاليله د همدې پوهنتون محصل و او دانته او پټرارک هم ددې پوهنتون محصلان وو. همدغه پوهنتون د پاريس پوهنتون سره يو ځای په ديارلسمه پيړۍ کې د رونړ آندی او آزادي غوښتنې د ترويج لپاره خورا مهم مرکزونه وو. بالاخره دغو پوهنتونونو په داسې ځای کې قرار لرلو، چې د غرب لپاره نوې زيږيدنه (رنسانس) د همدغه ځايه څخه پيل شو او د ابن رشد فلسفي نظريات او فرهنګ په غرب کې ورځ په ورځ د استادانو لخوا خپريدلو، چې ددغو آثارو نمونې د اوسني غرب د نوې پيړۍ د لايب نيبس پر آثارو او هم يې د تائو پارمايي په پادوا په پوهنتونونو کې د ابن رشد مفکورې نظريات د خپريدو ښه مرکزونه وو.

د همدې پيړۍ په وروستيو کې يوه ډله ايټاليايي يهوديان او اسپانويان د ابن رشد تفسيرونه، چې د ارسطو فلسفه يې په لاتينې ژبه ژباړلې وه او د متکلمينو د نظرياتو څخه يې هم ګټوره استفاده کړې وه، په پنځلسمه پيړۍ کې چاپ او نشر رواج کړلو او د ارسطو او ابن رشد زياتره آثار يې چاپ او نشر کړل او د پادوا، بولونيا پوهنتونونو او ځينو شخصيتونو، لکه (اګوستينوفو)، (نيکولتو)، (ورنيا) او د ډيرو مهمو څخه يې (پامپونازي) د ابن رشد د ډيرو اهمو او کلکو پلويانو څخه ګڼل کيږي.

دا روښانه شوه، چې دا د اسلام ځلانده تمدن و، چې په غربي نړۍ کې يې يو پياوړی تمدن د رنسانس څخه را وروسته رامنځته کړ، چې په را وروسته پيړيو کې يې په ټوله نړۍ په ځانګړې توګه د افغانستان پر تمدن هم خپلې اغيزې وشندلې.

## الف-د مذهبي مرکزونو له لارې:

ديني عالمان او روحانيون دپېړيو په اوږدو کې دخپلو تېرو نسلونو دکارنامو ډېرې ژوندۍ بېلګې لري او دوی زموږ په ټولنه کې همېشه دحکومتي سياست دمنلو او نه منلو حدود ټاکي ، دوی په نورو ټولنيزو مسايلو کې همداسې ښه رول لري ، دوی انسانان دښو چارو تر سره کولو ته داسلام ددين دارشاداتو په رڼا کې هڅوي او دنوموړو کړنو دنيوي او اخروي پاداشونه ورته په ګوته کوي . ديني او روحاني وګړي او قومي مشران زموږ دټولنې ټولنيزه پانګه ده ، چې په ټولنه کې ډېر ښه اعتبار لري ، نو زموږ په ټولنه کې دثبات دټينګښت ، ديووالي ، دنيکو انساني کړنو تر سره کولو لپاره تر ټولو ستره سرچينه ګڼل کيږي .

همدارنګه په هيواد کې ديوې سراسري مثبتې ملي اجماع راوستل ددغو دواړو طبقو دفعال ګډون او زحمت په پايله کې شونې دی ، په پخوانيو وختونو کې دپاچاهي کولو بنسټ او يا ښه توره او ميراث وو ، خو عدالت او مشروعيت چې دنظام ستر اساسات ګڼل کېدل دديني علماوو او روحانينو له خوا وپاچا ته نصيحت کېدل او دا دپاچا لپاره لوی شان و او هغه به دخدای (ج) پر وړاندې داسې مسؤل ګڼل کېده چې دحساب ورکولو لپاره به يوازې داخرت ورځ ټاکل شوې وه ، خو په دې دنيا کې به دديني عالمانو او روحانينو له خوا پاچا دشريعت لارې ته هدايت کېدلو ، ديو کلي قاعدې په توګه ويلای شو ، چې په ټولو مذهبي ټولنو په ځانګړي ډول په اسلامي هيوادونو کې او يا زموږ په هيواد کې روحانيون دپام وړ احترام او ارزښت څخه برخمن دي ، تر هغه ځايه چې تاريخ شاهدي ورکوي روحانيون يو ډير متحد قشر په ټولو اسلامي هيوادونو کې تشکيلوي ، نو له همدې امله ده ، چې همدغه قشر په ټولو اسلامي هيوادونو کې دمذهبي ، ملي او

استعماري ضد غورځنګونو کې دخلکو دبسیج او یو ځای کېدو کې ښه او اغېزمن رول لرلای دی او نوموړي دولتونه هم دخپلو ټولنیزو نظامونو ټینګښت او پایښت دروحانیونو او دنفوذ څخه برخمنو مذهبي څېرو کې لیدلو ، په افغانستان کې ددو عناصرو یعنې قبایل او روحانیون ودولتي حاکمیت ته مشروعیت وربخښلو .

دغه دود زموږ په هیواد کې له ډېرې لرغونې زمانې څخه تر اوسه پورې روان دی او له همدې امله دولتونو هر وخت ودغه روحاني قشر ته په ستره او عزتمنده سترګه کتلي دي او تقریباً دهیواد ډېر شمېر مشران او رهبران دحاکمیت پر ځوکۍ دراځر ګندېدو پر وخت دخپل واک دمشروعیت لپاره یې دسترو روحانیونو تائید خپل کړی دی ، نو همدغه روحاني مشران او مذهبي عالمان دهومانیستي افکارو دخپرېدو لپاره ډېر اغېزمن او ګټور کار کولای شي ، خلک یې دجګړې له پایلو څخه خبر کړي او دهغې دناروا او ظالمانه اړخونو څخه له شرعي پلوه خلکو او مقتدیانو ته خبرې کړي دي ، همدارنګه کله چې دجمعې دلمانځه دخطبې پر وخت دسیاسي مشر نوم واخلي ، نو دا ددې مانا لري ، چې نوموړی پاچا مشروع مشر دی او که یې نوم په خطبه کې وانه خیستل شي نو دا ددې مانا لري ، چې دنوموړي نظام مشروعیت تر پوښتنې لاندې دی .

په لنډه توګه ویلای شو ، چې دافغانستان ټول رژیمونه او ټولنیز نظامونه دټولنې دتحول په خاطر دخپلو مهمو اصلاحي او فرهنګي او حتی اقتصادي طرحو دتحقق لپاره دروحانیونو او قومي مشرانو و تائید ته اړتیا لري او دا یو ضروري ګام ګڼل کیږي ، ځکه زموږ په ټولنه کې چې ډېر شمېر وګړي دسواد زده کړې څخه بې برخې دي ، روحانیونو ته دلارښود او مذهبي مشر په سترګه ګوري او دهغې لارښوونو سره سم عمل کوي او دا چې په پنځه ګونو لمونځونو کې په هغه پسې اقتداء کوي ، بناً په شرعي لحاظ دهغه اطاعت په مقتدي باندې واجب

دی ، په فتوی یې امنا کوي او خلک پر هغه پوره باور لري ، هرڅه چې ورته وایي ، هغه دخپل ځان په باب یې په دین او دنیا کې په خپل خیر تعبیروي .

روحانیون یو مرموز قدرت دی ، چې دخلکو پر روان باندې حکومت کوي ، خلک دده په خبره باور کوي ، هر وخت چې وغواړي ، همدغه دده پیروان دده قوت دی ، چې په ښه تو ګه عملي کیږي .

دا هم باید ووایم چې ددغه روحاني او مذهبي قوت څخه په ښه او بد ډول ګټه پورته کېدای شي ، نو دا په دولتونو او ټولنیزو نظامونو اړه لري ، چې دهغه څخه څنګه ګټه پورته کوي .

د ټولنې دو ګړو په تنظیم کې روحانیون زیات رول لري او د ټولنې هغه برخې ښاري چې پر دین او مذهب پورې اړه لري او دنومړو دښه تنظیم لپاره په جوماتونو کې تبلیغ کوي او د چارو په سمون کې ښه رول لوبوي. په لومړي ګام کې دولتونه دنده لري ، چې د خپلو ویاړلو تمدنونو ساتنه او پالنه وکړي، موږ چې د اسلامي عقایدو او تمدن په ساتنه کې د خپلو دیني علماوو رول ته په درنه سترګه ګورو، نو په کار ده ، چې د هغوی دژوندانه د بهبود لپاره هم په دولتي او هم په ملي کچه پام وکړو. جومات دالله (ج) کور دی، مسلمانان په جوماتونو کې راټولیږي او خپل دیني فرایض اداء کوي. لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، چې زموږ د کلیو او ښارونو جامع جوماتونه زموږ د ټولنیزو پریکړو مراکز دي. هر کله چې پر هیواد باندې بد حالت راغلی، په کورنۍ، کلي او قوم کې کوم ناوړه عمل تر سره شوی وي ، دهغه په باب تصمیم نیسي . په همدې ترتیب زموږ په ټولنه کې جومات د مسافرو او بې وزلو، دشپې دتیرولو ځای دی. همدا راز جومات د علم هغه مرکز دی، چې د علم د حصول لا رویان پکې شپې او ورځې تیروي او زموږ ډیر نامتو علماء او پوهانو لکه استاد عبدالحی حبیبي، استاد ګل پاچا الفت، استاد

عبدالشکور رشاد، استاد بیتاب، استاد قاري عبدالله او نور ټول هغه شخصیتونه وو، چې خپلې لومړنۍ زده کړې یې په جوماتونو کې تر سره کړې وې.

زموږ په کلیو، بانډو او ښارونو کې ددیني عالمانو او روحانیونو مذهبي تبلیغي دندې د قدر وړ دي دیني عالمان د خپلو مواعظو او خطبو په ترځ کې د سیمې او نړۍ ډیر مهم مطالب ولس ته وړاندې کوي او جوماتونه یې د انساني، اخلاقي او هومانیستي زده کړې د مرکز په توګه معرفي کړي دي او د ولس داجتماعي شعور په وده کې یې ستر رول لوبولی دی. خو له بده مرغه تر اوسه پورې دولت د جوماتونو د انسجام لپاره کوم ځانګړی پروګرام نه دی وړاندې کړی.

زموږ د ملي یووالي او د اسلامي هویت د ساتنې لپاره دا ډیر مهم او ضروري اقدام دی، چې د جوماتونو د تقویت او د امامانو دژوندانه د بهبود لپاره ځانګړی او موثر پروګرام وړاندې شي او له دوی سره د هر اړخیزې مرستې لپاره یو جلا ترتیب ونیول شي. پر حیاتي اړتیاوو برسیره باید له ملا صاحبانو سره ددیني کتابونو او راډیویي او تلویزیوني اسلامي خپرونو او نورو لوازمو په تیارولو کې مرسته وشي، ځکه چې دوی د دین ستنې بلل کیږي، چې په مذهبي چوکاټ کې انساني، اخلاقي، ښو او بدو عملونو نظریات د همدغو جوماتونو له مرکزونو څخه د خلکو غوږونو ته رسوي.

روحانیون کولای شي، چې د ظلمونو د تیریو پر وړاندې ودریږي، داوسنۍ نړۍ او د بشري شخړو اولانجو د حل لپاره د اسلام دارشاداتو په چوکاټ کې اقدام وکړي او له عصر او زمان سره سم پر دیني ارزښتونو باندې د خلکو پوهول، د خرافاتو، موهوماتو دله منځه وړلو په اړه هڅې ددیني عالمانو له مهمو دندو څخه شمیرل کیږي، دا ځکه چې په سلګونو زره انسانان د غیر انساني عملونو څخه زوریږي، دا په عالمانو ده، چې افغاني ټولنې ته د جنګ او شخړو، زور زیاتي، ظلم

او ناروا کارونو پر ځای د هومانیزم او انسانیت وروري، یووالي، وطني ودې او انکشاف لا رښوونه وکړي، نو موږ کولای شو ددوی له لارې د هومانیزم او انسانیت موخې په عمل کې پلي کړو ، دیني عالمان کولای شي خلک انسان دوستۍ او انسانیت ته راوبولي او خلک د جلا جلا او ډول ډول غیر انساني مفکورو د مختلفو ډلو، فرقو او راز راز غیري بشري کارونو څخه وژغوري.

دا د دیني علماو، روحانیونو، سپینږیرو او مشرانو دنده ده، چې د ملي او نړیوالو مسایلو د شخړو او لانجو د حل لپاره ښې او مناسبې لارې چارې ولټوي او دوی د حاضر عصر او زمان د غوښتنو سره سم په دیني ارزښتونو باندې د خلکو ذهن روښانه کړي او د خرافاتو، موهوماتو د له منځه وړلو په اړه هڅې د همدغو شخصیتونو وظیفه بلل کیږي، چې په زرګونو انسانان؛ موږ په ګران هیواد افغانستان کې د همدغه ناوړو شرایطو څخه زوریږي.

د روڼ آندو له لارې:

روشنفکر د ټولنې نخبه وګړي دي ، چې د انتقادي فکر لرونکي دي او د ټولنې ټول قراردادي ارزښتونه د عقل او پرمختګ په نامه تر پوښتنې لاندې راولي ، په پارسي ژبه کې روشنفکر په او په پښتو ژبه کې روڼ آندي د(INTELLECTUL) سره معادل دي ، چې د فرانسوي انتلکت INTELLECT څخه وضع شوی دی ، چې وهغه کسانو ته اطلاقیږي ، چې په چارو کې د عقل او سنجش قضاوت لرونکي او اهل وي ، روشنفکران هغه ممتاز قشر دی چې په ځانګړې طبقې پورې اړه نه لري او په هره طبقه کې کېدای شي راڅرګند شي او د ټولنې او ملت په عامه کچه اغېزې ښندي .

د روشنفکرۍ مذهب د هغه تمدن لاسته راوړنه ده ، چې د عقل ، انسان پالنې (هومانیزم) او پرمختګ پر ارزښتونو باندې تکیه لري ، له همدې امله

کولای شو ووایو چې دټولنې دارزښتي مسایلو په باره کې دزېږندو او انتقادي نظریاتو دود ساتونکي دي ، دروشنفکرانو رول په ټولنه کې ډېر اغېزمن او مهم دی ، دروشنفکر دنده دا نه ده چې خپل ځان یا هم وړاندې او په څنډه کې ونیسي ، ترڅو دهغې لارې ناویلی حقیقت ووایي ، بلکې روشنفکر باید دهغو بېلابېلو قدرتونو پر خلاف مبارزه وکړي ، چې خپله دی یې هم موضوع او هم اسباب دی ، البته روشنفکر دغه کار باید په دا ډول حدودو کې ترسره کړي ، چې خپله دی دهغه وسیله ده ، یعنې د( پوهې) ، (حقیقت) ،(خبرتیا) ،او (گفتمان) په حدودو کې.

روشنفکر دوه ځانگړ تیاوې لري:

(آزاد فکر کول) او (نوی فکر کول) روشنفکري پر دغو دوو ستنو او تکیو باندې ولاړه ده ، که څه هم ازاد اندیښې یوه نوې او معاصره پدیده نه ده ، روشنفکران په ټولنه کې د(اخلاقي اصولو) او (اخلاقي قضاوتونو) باندې مسلح دي ، نو روشنفکران کولای شي دهمدغو اخلاقي اصولو په چوکاټ کې بشرپاله اصول وخلکو ته بیان کړي او په ټولنه کې دبشرپالو نظریاتو او کړنو په باب داخلاقي قضاوتونو څخه په گټه اخیستنه حکمونه صادر کړي او دخلکو په اذهانو کې خپلې اغېزې پرېږدي ، روشنفکران دا دنده لري چې خپل ولس په خپلو نا رسیو باندې پوه کړي ، دا دروشنفکرانو رسالت او رول دی ، چې د پرگنو داذهانو روښانه کول خپله همېشنۍ دنده وگرځوي ، سره له دې چې زموږ په ټولنه کې داسې نظام او ځواک شتون لري ، چې ددغه ډول چارو لپاره خنډونه رامنځته کوي او نه پرېږدي ، چې ولسونه په خپلو حقوقو او مسؤلیتونو باندې پوه شي ، نو د روشنفکرانو دا ډول چارې ناروا گڼي او له ټینگو خنډونو او ستونزو سره یې مخامخ کوي .

روشنفکران باید دقوي ژبني ایډیالوژیکو چوکاټونو څخه پراخ نظر ولري او له دغو وسیلو څخه دحربې په توګه ګټه پورته نه کړي ، دیوه ارمان د ترسره کولو لپاره نه باید د قوم پالنې ، برترۍ ، د قدرت ترلاسه کولو او یا ساتلو او یا اعادې لپاره دیوه مکتب ، یوې ایډیالوژۍ په نامه ګټه پورته کړي او په ولسونو کې بې باوري خپره کړي . روشنفکران برخلاف دا رول او رسالت لري ، چې دلویو وطني او انساني موخو ته درسیدو لپاره دا ډول اصول تبلیغ کړي ، چې دهیواد ټولو اوسېدونکي په یوه انساني فضا کې یو تر بله د ورورۍ احساس وکړي او یو او بل پردی او دښمن ونه ګڼي ، دهغو کسانو په مقابل کې چې غواړي ددغسې باالقوه شرایطو او حالاتو څخه په خپله ګټه کار واخلي ، په اصطلاح (اوبه خړې کړي او ماهیان ونیسي ) او یا (تفرقه واچوه او حکومت وکړه ) پر خلاف ټینګه مبارزه وکړي او ددوی غیر انساني او غیر اسلامي او غیر افغاني څېرې وخلکو ته بربنډې کړي او هغوی پر دې پوه کړي ، چې دا ددوی دوستان نه بلکې په کمین کې ناست پټ دښمنان دي ، چې ددوست په جامه کې ځانونه راښکاره کوي.

دروشنفکر قشر دنده داده چې وخلکو ته دا تبلیغ کړي ، چې تاسو باید ونورو ته خیر ورسوئ او دا ړو سره مرسته وکړئ او وچاته باید تاوان ونه رسوئ ، وچاته ضرر مه رسوه ، تر هغه ځایه چې ممکن ده دنورو سره مرسته وکړه ، دداډول اخلاقي اصولو بیان دعامه پوهاوي په توګه وخلکو ته د روڼ آندو دنده او رسالت دی ، چې داخلاقو دپوهې په چوکاټ کې یې هغه تر سره کړي .

په دغه ډول رسالت کې روشنفکر تېرې پېښې له اخلاقي او تاریخي پلوه نقد کړي ، ترڅو پر دې پوه شي ، چې څه شی ممکن دی او کوم شی په اخلاقي لحاظ سم دي ، روشنفکر دا رسالت لري ، چې باید دا هڅه ونه کړي ، چې دتېرو پر بنسټ دراتلونکي وړاندوینه وکړي ، دا ځکه چې راتلونکی په بشپړه توګه

پرانیستی دی او په دغه ډول پرانیستي او پراخ حالت کې هر شی او هر حالت ممکن دی ، چې پېښ شي ، روشنفکر ځان باید دتاریخ دقهرمانو روشنفکرانو پر ځای واقع کړي او دتاریخ لوبه ددوهم ځل لپاره ولوبوي ، یعنې په واقعیت کې دتاریخ په تحلیل کې فکر وکړي .

روڼ آندي دیوه پوهه لرونکي ، دردلرونکي کس په توګه هر وخت هڅه کوي ، تر څو په غیر مستقیم ډول دټولنې په کنترول او اداره کې ونډه ولري او دا دنده دټولنیزو او فرهنګي رېښو دښورولو او پر ګنو ته دپوهې رسولو او متوجه کولو له لارې تر سره کوي ، یعنې همدا روشنفکر دی ، چې دپر ګنو داذهانو په روښانولو او رڼا کولو کې محوري رول تر سره کوي .

په یوه دموکراتیکه او اسلامي ټولنه کې روڼ آندي د دموکراسي او هومانیزم د مخکښانو په توګه د وګړیود پوهاوي مخکښان دي. دوی په خپله باید د برابري پر اصالت باندې باور ولري . دا ځکه چې د ټولنې روڼ آندي ته لازم دي، چې په مدني حقوقو باندې عقیده ولري، په دې مانا چې ټول انسانان دقانون پر وړاندې یو شانته حقوق لري او له ټولو سره باید په برابره توګه چلند وشي، چې دا په خپله د دموکراسي او هومانیزم له اصولو څخه ګڼل کیږي. د طبیعي حقوقو او قوانینو د اصولو له مخې ټول انسانان د انسانیت، انسان پالنې د حکم له مخې برابر او پر یو او بل بر تري او لوړوالی نه لري. له سیاسي پلوه د برابري اصالت په همدې مانا دی، چې وګړي د قانون پر وړاندې د حقوقو او آزادیو له مخې یو شانته دي، په دموکراسي نظام کې باید وګړي د حقوقو له پلوه برابر وي، دغه برابري په دې مانا ده، چې وګړي د قوم ، مذهب او ژبې پر ته یو برابر دي او د انسان پالنې په سر کې هم مهم ګام ګڼل کیږي.

دافغاني ټولنې روڼ آندي ته لازم دي، چې لومړی په خپله په دغه ارزښت ډاډ او باور ولري او بیا په ټولنه کې دغه باور دود کړي او په دې توګه د دموکراتیکو ارزښتونو دودې او پرمختګ لپاره لارې چارې ولټوي.

## ب: هومانیزم د ښوونې او روزنې له لارې:

په قرآن کریم کې انسان ته لومړی خطاب په زده کړه پیل شوی (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ) یعني ولوله د خپل رب او خالق په نوم باندې... له دې مبارک آیت څخه څرګندیږي، چې د خدای (ج) پاک پروراندې دانساني ژوند دبقالپاره تر ټولو لومړی او اساسي بنسټ (زده کړه او معرفت) دی.

پوهیالی رښاګل دزده کړې او هومانیزم په اړه داسې عقیده لري چې: (انسانان باید په آزادانه توګه دانساني کرامت په چوکاټ کې د خپل عقل، استعداد، معرفت او پوهې له مخې خپل سرنوشت په خپله وټاکي. انسانیت او د انساني استعداد هر اړخیزه وده نه یوازې دیو او بل لپاره شرط دي، بلکې دواړه سره یو شي)[1].

زده کړه دیوه پوهاند له خولې داسې تعریف شوې ده، چې: (زده کړه یوه داسې عملیه ده چې دانسان په ټول ژوند کې دوام لري او پایله یې په سلوک BEHAVIEUR کې بدلون منځ ته راتلل دي)[2].

زده کړه دافرادو د کړو وړو بنسټ جوړوي. د زده کړې په وسیله انسان له خپل چاپیریال سره پیژندګلوي پیدا کوي او دانسان د کړو وړو عمده برخه دزده

[1] رښاګل، هومانیستي ښوونه او روزنه، عرفان مجله، اتمه ګڼه، دپوهنې وزارت، کابل، ۱۳۵۵ ل کال، ۸۳مخ

[2] پورتني اثر، پورتنی مخ

کړې وړ ده. انسان خبرې زده کوي او له دې لارې نه خپل مقصد نورو ته رسوي او د نورو په افکارو او عقایدو باندې ځان پوهوي.

اخلاقي او وجداني روزنه، د ښه او بدو د تشخیص لپاره د عقلاني سنجشونو پراخوالی د شخصي اعمالو کنترول د زده کړې په وسیله لاسته راځي او فرد د خپل پلار او مور، همزولو یا نورو لویانو د تماس په اثر دژوندانه لارې چارې زده کوي. په دې اړه یو عالم وایي چې: (زده کړه د هغه جریان څخه عبارت ده چې په هغه کې د فرد کړه وړه د تجربې له لارې بدلون مومي)[1].

کله چې د انسان د کړو وړو د بدلون په اړه خبرې کوو، زموږ مطلب دا دی، چې د تجربې په وسیله دافرادو افکار، تمایلات او عادتونه بدلون مومي. دا بدلون له عقلاني پلوه باید د فرد د ذوقونو، هدفونو، اعمالو او عادتونو په برخه کې ښکاره شي. تجربه د فرد او چاپیریال د متقابل تاثیر څخه عبارت دی.

همدارنګه په ښوونه او روزنه کې د نننی زمانې معلوماتي تکنالوژي او ساینس په تیره بیا انترنیت، کمپیوټر او تلویزیون کولای شي، یو زیات شمیر اسانتیاوې د ښوونې او روزنې په برخه کې په بیلوبیلو کچو د مختلفو لیدونکو (د سن او تعلیمي سویې په نظر کې نیولو سره) لپاره تر سره کړي. نن ورځ چې له یوې خوا د ښوونې او روزنې اړتیا ورځ په ورځ زیاتیږي، له بلې خوا د نړۍ په ټولو هیوادونو کې نفوس لا هم په بیړه مخ په ډیریدو دی، نو په زیات شمیر هیوادونو کې د ګڼ شمیر زده کوونکو د تدریس لپاره په هغو ځایونو کې چې د ښوونکو او

[1] لوتان کوی، اموزش و پرورش ، ترجمه،داکتر محمد یمینی دوزی، ، تهران، ، لومړی چاپ، ۱۳۷۸، ص ۶۴

درسي موادو کمښت احساسيږي، نو د تدريس لپاره دانترنيت، کمپيوتر او تلويزيون څخه زياته ګټه پورته کوي.

## ج- هومانيزم د عامه رسنيو له لارې:

څرنګه چې پوهيږو خپرنيز او رسنيز وسايل د يوې ټولنې هنداره ګڼل کيږي او د يوې ټولنې او هيواد د پرمختګ نيمګړتياوې او د هغوى د شاته پاتې کيدو عوامل په ډيره آسانۍ سره باوري کوي او په ټولنه کې د همدغو رسنيو او خپرندويه وسايل لکه راډيو، تلويزيون، سينما، انترنيت، کمپيوتر، مجلې، اخبار او ورځپاڼې... بنسټيز وسايل شميرل کيږي اود ټولنې اکثريت وګړي په ډيرې آسانۍ سره ترې ګټه پورته کولای شي او همدغه خپرندويه او رسندويه ډله ايز وسايل دي، چې نړۍ ديوه سر څخه تربل سره پورې ټول وګړي سره نږدې کوي. ډير ځله دغې خبرتياوې او پيښې هغومره ژورې او اغيزمنې وي، چې د خوا خوږۍ او بشردوستۍ عواطف د راډيو، تلويزيون او انترنيت د ځپو څخه د هغوى لپاره د همدردۍ او مرستې غږونه اوچتوي.

همدغه ډله ايزې رسنۍ دي، چې د نړۍ هيوادونه او وګړي سره نږدې کوي او دلرې ځايونو خلک سره تړي او د سترګو په رپ کې يو پيغام يا د ښو او يا بدو خبرو له لويديځ څخه ختيځ او له شمال څخه جنوب ته رسوي.

همدغه خپرندويه وسايل دي، چې په ډيره آسانۍ سره د يوې ټولنې حقيقي او ريښتينې خبرتياوې، خبرونه، پيغامونه، علمي او فرهنګي تاريخي مطلبونه د وګړو غوږونو ته رسوي، خلک د روا او ناروا، عدل او بې انصافۍ، ظلم او تجاوز... باندې پوهوي او د وګړو د بيدارولو او د هومانيزم او انساندوستي د عقايدو او نظرياتو په خپراوي کې ستره ونډه اخلي. همدارنګه زموږ د ټولنې

جګپوړي چارواکو ځیني عملونه په ملي شورا کې ځیني کارونه، د ملي شورا لپاره د انتخاباتو پر پروسې، د ریاست جمهوري د انتخاباتو لپاره انتخابات د دولت د پټو کارونو څخه د افشا او برنډیدو لپاره دا وسایل ډیر ضروري دي.

عامه رسنۍ تل د انساني کرامت ساتنې او هغې ته د احترام په توګه د خپل ګران هیواد د خپلو تیرو شویو د پلار، نیکونو، پوهانو او علماو نصیحت، حکایتي او متلیزې لارښوونې، اخلاقي ، هومانسیتي او ټولیزې ځانګړ تیاوې په خپراوي کې د خلکو غوږونو ته د سترګو په رپ کې رسوي او زیات ارزښت هم لري.

نن ورځ د انسان کلمه هغه چاته کارول کیږي، کوم چې مدني او هومانستي وي او په علم او ادب سمبال وي. د هومانیزم د معلومولو لپاره یوازینۍ وسیله آزاد مطبوعات دي، چې سپین له تور، ښه د بد، ظالم د مظلوم څخه بیلوي، چې نوموړي جمعي اطلاعات د دموکراسي پر اصولو بنا وي. دا د دموکراسي پر بنا آزاد مطبوعات دي، چې د ولس نیوکې، ښیګڼې او نیمګړ تیاوې د هیواد هر فرد، لیکوال، شاعر، لوړپوړي چارواکي، فیلسوف باندې کولای شي، خپلې نیوکې د جمعي اطلاعاتو له لارې خلکو ته وښیي. په اوسني دولت کې د اداري فساد پر ضد زیات څه باید خلکو ته روښانه کړای شي.

## د- دقوانینو او حقوقو له لارې:

قانون او حاکمیت له هومانیزم سره تړلې موضوع ګڼل کېږي او له تاریخي پلوه په ټولنه کې ډېرې ژورې ریښې لري. واکمني په پخوانیو حقوقي او سیاسي نظریاتو کې د دولت د لوړ او څرګند واک څخه عبارت ده ، چې امکان لري په یو تن (پاچا) او یا د ګروه په ټولنه کې (ملي شورا) کې څرګند شي. په پخوانۍ او کلاسیکه نظریه کې د واکمني او حاکمیت لرونکی شخص له قانون څخه لوړ او په خپله د قانون سرچینه او له هر ډول قانوني محدودیت څخه خلاص وو .

هغه څه چې په یو دموکراتیک نظام کې د مطلق حاکمیت مخنیوی کوي، هماغه د قواوو تفکیک دی، چې د قواوو د تفکیک د اصل له مخې له حقوقي پلوه حاکمیت د درې ګونو قواو څخه هیڅ یوې ته په بشپړه او مطلقه توګه نه ورکول کېږي او د هرې قوې دندې او واکونه په اساسي قانون کې ټاکل کېږي.

هر نظام ځانته قانون لري چې دهغه په چوکاټ کې خپلې دندې ترسره کوي ، دملت او دولت اړیکې دنوموړي قانون په چوکاټ کې تنظیمېږي ، قانون د لارې حیثیت لري ، چې دیوه هیواد وګړي پر هغه لاره تګ کوي ، څرنګه چې نظامونه یو له بل څخه توپیر لري ، نو قوانین یې هم یو له بله سره توپیر پیدا کوي ، دهر نظام او دهغه دقانون شکل او ماهیت فرق کوي ، دیوه قانون ظاهري بڼه به ډېره ښه وي ، خو دولت دهغه په پلي کولو کې پاتې وي ، نو په هغه صورت کې بیا هم قانون مانا نه لري بلکې دواکمنو اراده اساسي او بنسټیز ارزښت پیدا کوي ، نو ویلای شو چې ښه او دموکراتیک قوانین هغه قوانین دي ، چې دیوه هیواد د اکثرو پر ګنو حقوق په کې خوندي وي او دولت یې پر عملي کولو ژمن وي او دجهاني قوانینو او معاهدو سره په ټکر کې نه وي .

دانسان تاريخي تجربې ښودلې ده، چې انسان تل په ژوند کې د مساواتو او عدالت د نشتوالي سره مخامخ وو او د خپلې طبيعي آزادۍ څخه محروم و او آزادي يوازې د زور ورو او حاکمو په لاس کې وه. په دې اړه د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه (۱۷۸۹م) کال د اګست په ۲۶ نيټه خپره شوه، چې دنړۍ هر مظلوم انسان لپاره د عدالت او مساواتو نمونه وګرځيدله او په غربي نړۍ کې د دموکراسي نظامونه رامنځته شول.

په افغانستان کې د وګړيو آزاديو او حقوقو تضمين په نافذه نظام نامو، مقرراتو، او د هيواد په اساسي قوانينو کې په صراحت سره د هغوی يادونه شوې ده. د شاه امان الله خان د ۱۳۰۱، ۱۳۰۳ کالونو په لويو جرګو کې د نظام نامو تصويبول، په ۱۳۱۰ کال کې د دوهم ځل اساسي قانون کې د وګړو د حقه حقوقو ساتنه او د هغوی آزاديو ته احترام په کې تسجيل شوي وو د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون په سريزه کې راغلي دي: (د ټولنيزې مرستې او دانساني کرامت د ساتنې پر اساس د يوې پر مختللې او هوسا ټولنې د جوړولو په منظور مونږ د افغانستان وګړي د هغو تاريخي بدلونو له مخې چې زمونږ په ژوند کې د يوه ملت او د بشري ټولنې د يوې برخې په توګه رامنځته شوي، په داسې حال کې چې پورتني ارزښتونه د ټولو بشري ټولنو حق ګڼو. د افغانستان د ملي ژوند د مشر او پاچا اعليحضرت محمد ظاهر شاه تر مشرۍ لاندې دغه اساسي قانون د ځان او راتلونکي نسلونو لپاره وضع کړ)[1].

[1] د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۴۳ ، ميزان ۹ ، لومړی مخ.

دوګړو داساسي حقوقو په هکله د ۱۳۴۳ هـق کال داساسي قانون په ۲۵ او ۲۶ مادو کې راغلي دي: (۲۵ ماده: دافغانستان وګړي د توپیر او امتیاز پرته د قانون په وړاندې برابر حقونه او دندې لري)[۱].

۲۶ ماده: (آزادي دانسان طبیعي حق دی، دغه حق دنورو دآزادۍ او عامه ګټو جز دی، چې د قانون په واسطه تنظیمېږي او برید حدود نه لري. دانسان آزادي او کرامت له تیري څخه خوندي دی)[۲].

په ۱۳۵۲ هـش کال د سردار محمد داؤد خان لخوا کودتا وشوه او د افغانستان شاهي دولت په جمهوري دولت واوښت. د داؤد خان رژیم په ۱۳۵۵هـش کال کې دنوي اساسي قانون په نافذیدو او تصویب لاس پورې کړ. په دې اساسي قانون کې دوګړو هومانستي خیر ښیګڼې، دوګړو یو شمیر حقونه او دموکراتیکې آزادۍ ته اشارې لري، چې دوګړو دوجایبو او حقونو په فصل کې انعکاس ورکړل شوی دی.

ددغه اساسي قانون په ۲۷ ماده کې د قانون په وړاندې دوګړو برابرۍ په داسې ډول تضمین شوې ده: (دافغانستان ټول وګړي نارینه او ښځې له تبعیض، توپیر او امتیاز پرته د قانون پر وړاندې مساوي وجایب او حقه نه لري)[۳].

ددغه اساسي قانون په ۲۸ ماده کې آزادي دانسان طبیعي حق ګڼل شوی دی او دا ماده داسې څرګندوي: (آزادي دانسان طبیعي حق دی، مګر دا چې دافغانستان د

---

[۱]تېر اثر، ۱۵۰ مخ.

[۲] پورتنی اثر، ۱۵۱ مخ.

[۳] پورتنی اثر، ۱۵۱ مخ.

نورو آزادیو او شرافت یا عامه امنیت او ملي ګټو ته زیان ونه رسوي، دغه حق د قانون په واسطه تنظیمیږي)[1]

همدا ډول د ۱۳۸۲ لمریز کال د اساسي قانون په سریزه کې لیکي: (له ظلم، استبداد، تبعیض او تاوتریخوالي پاکې، پر قانونیت، اجتماعي عدالت، د انساني حقوقو او کرامت پر خوندي تابه ولاړې مدني ټولنې د جوړولو او د خلکو د اساسي حقونو او آزادیو د تامین په منظور)[2].

داساسي قانون د لومړي فصل په شپږمه ماده کې داسې راغلي دي: (دولت د ټولنیز عدالت، د انساني کرامت په ساتلو، د بشري حقوقو په ملاتړ، د ولسواکۍ په تحقق، د ملي وحدت په تامین، د ټولو قومونو او قبایلو ترمنځ په برابرۍ او د هیواد په ټولو برخو کې د متوازنې پراختیا پر بنسټ د یوې هوسا او پر مختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی)[3].

همدارنګه داساسي قانون په دوهم فصل، د اتباعو اساسي حقونو او وجایبو تر سرلیک لاندې راغلي دي: (د افغانستان اتباع د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري)[4].

د همدې فصل په څلویښتمه ماده کې لولو: (آزادي د انسان طبیعي حق دی او د انسان آزادي او کرامت له تیري او تجاوز څخه خوندي دی او دولت دانسان د آزادي او کرامت په درناوي او ساتنه مکلف دی).[5]

---

[1] د افغانستان اساسي قانون، لومړی فصل، دولت، پنځمه ګڼه، میزان، ۱۳۸۲، ۱۲ مخ.

[2] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

[3] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

[4] پورتنی اثر، پورتنی مخ.

[5] پورتنی اثر ، پورتنی مخ

نو له همدې کبله ضروري ده، چې انسانان باید د خپلو حقه او مدني حقوقو څخه باخبره اوسي ، مدني حقونه، هغه حقونه دي، چې وګړي د اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې له هغو څخه برخمن وي. د مدني حقونو مفهوم د بشر د حقونو تر څنګ کارول کیږي، په داسې حال کې چې د بشر حقونه هغه حقونه دي، چې هر څوک له دې امله چې انسان وي، له هغو څخه برخمن دي. لکه: ځان خوندیتوب، د ژوند حق، د ملکیت حق او داسې نور.

د بشر حقونو نړیواله اعلامیه چې په ۱۹۴۸م کال د دسمبر د میاشتې په لومړۍ نیټه د ملګرو ملتونو سازمان لخوا تصویب شوه، په نوموړي سند کې دبشر اساسي حقوق تسجیل شوي دي او ټول غړي هیوادونه دهغه په عملي کولو او احترام مکلف دي . خو مدني حقونه بیا دهر هیواد په کورنیو قوانینو کې په ځانګړي ډول تصریح او روښانه شوي دي چې د وګړو او دولت ترمنځ داړیکو څرګندونه کوي . د بیلګې په توګه د ټولنو او غونډو د جوړولو آزادي، پر حکومت باندې د فشار او زور اچولو په منظور د اعتصابونو او مظاهرو جوړول، تر څو د هغوی شکایتونه او نیوکې واوریدل شي، یا د حکومت له سیاستونو سره د مخالفت په عنوان رامنځته کیږي او سیاسي قوانین د هغوی داهمیت په اړه ټینګار کوي، لکه چې د اساسي قانون په ۳۵ ماده کې لولو: (د افغانستان وګړي حق لري، چې د خپلو مادي او یا معنوي موخو د تامین به منظور د قانون له حکمونو سره سم ټولنې جوړې او په سوله ییزه توګه د خپلو روا حقونو او موخو د تامین په منظور غونډې اومظاهرې جوړې کړي)[1] .

---

[1] نصرالله، ستانکزی، افغانستان د دموکراسي په لور، ژباړن: نعمت الله اندړ ، ۱۳۷۸ ، کابل، ۵۹ مخ.

داقتصادي او ټولنیزو حقونو په اړه باید ووایم، چې په یوه دموکراتیک نظام کې د مدني حقونو ترڅنګ داقتصادي او ټولنیزو حقوقو رعایت، چې د کار حق، د واده او د کورنۍ جوړولو حق، دروغتیایي خدمتونو د ترلاسه کولو حق، د کار په بدل کې د مناسب او عادلانه مزد د ترلاسه کولو حق، د ملکیت دلرلو او د هغه خوندیتوب، د ښوونې او روزنې حق، په علمي څېړنو کې د بوختیا او د هغوی د پایلو څخه د ګټې اخیستنې حق، د هر ډول کار اودندې د غوره کولو حق، له مور او ماشوم څخه دملاتړ حق، دفرهنګي او تاریخي آثارو د ساتنې او فرهنګي لاس ته راوړنو، دودونو د ساتنې او هغوی ته د درناوی دلرلو حق څخه جوړ شوي دي.

سیاسي حقوق له هغو حقونو څخه عبارت دي، چې وګړي یې په سیاسي ژوند کې د یو غړي په توګه ترلاسه کوي. په بله وینا سیاسي حقوق له هغو حقوقو څخه عبارت دي چې یوازې یوه هیواد وخپلو وګړو ته ځانګړي کړي وي.

د دموکراسي نظام تمیز د همدغو حقونو د څرنګوالي په تطبیق پورې اړه لري. د دغو حقونو او آزادیو مهمې برخې عبارت دي له: د تابعیت دلرلو حق، په ټاکنو کې د ګډون حق، د بیان او قلم آزادي، په دولتي دندو او د هیواد د چارو د اداري په برخه کې د ګډون حق، د سیاسي ګوندونو د جوړولو او آزادۍ حق، د هر ملت د وګړو د ډېر مسلم حق په توګه د برخلیک د ټاکلو حق، د وګړي د اساسي تکلیف په توګه د ملي او نړیوالو قوانینو په پام کې نیولو، درناوي او د پنا اخیستلو حق.

په پایله کې ویلای شو، چې ټولنه پرته له قوانینو څخه نه شي تنظیمیدلای او دهغې ټولنیز نظام ناممکن دی، انساني حقونه یوازې مور د ټولنې په قوانینو کې په ښه توګه لیدلای شو، چې د انسان د حقونو څخه دفاع وکړي، د

انسانانو ترمنځ د ټولنیز نظم د برقرارولو لپاره، د عدالت لپاره، د مظلوم د حق څخه د دفاع لپاره یوازې قوانین دي، چې دهغو څخه دفاع کوي او هومانیزم هم د همدغو قوانینو په موجودیت کې وده او انکشاف کوي.

## هـ - د طبي خدمتونو له لارې:

درملنه او درمل هومره لرغونتوب لري، څومره چې انسانۍ بشریت یې لري. لومړی انسان دآفتونو لکه باد، اوربښت، طوفان، تودوخې، یخني او وحشي ژوو څخه یې ځان ګوښه کولو او کله چې درد اوناروغي ورته پیښیده، نو د ځان چاره یې په درملنه کې لیده.

که د هومانیزم (انساندوستي) کلمې ته په ژوره توګه ځیر شو، نو په ټولو ادیانو او علومو کې د هومانستي افکارو نښې نښانې لیدل کیږي، خو د طبابت په علم او فن کې هم زیات تر سترګو کیږي، دا ځکه چې نومونړی علم نیغ په نیغه د انسان په خدمت کې قرار لري. طب او طبابت او ډاکتر ټل د انسان د ناروغیو ددرملنې په خدمت کې وي او د انسان لپاره یې ډیر خدمتونه تر سره کړي دي.

د مان (MANN) دقانون پر اساس کله چې د طبیب لخوا د ناروغ درملنه په درسته توګه صورت ونه مومي، باید نومونړی ډاکتر جریمه شي.

هیپوکرات د بقرات د طبابت پلار (۴۶۰-۳۷۷ ق م) نامتو پوه او حکیم ډیر باارزښته آثار د طبیبانو د انساني، ټولنیزې او مسلکي روزنې په برخه کې پریښې دي. هیپوکرات به ویل: (د هر ناروغ سره یې بې له هغه د جیب د حجم او د اقتصادي سطحې څخه پرته مرسته وشي او کله چې ضرورت وي، یوه پردي. بهرني او فقیر ته باید مرسته ورسوي او هغه ته خامخا نجات ورکړي، ځکه چیرته

چې د انسان او انسانیت سره عشق موجود وي، هلته دمسلک سره هم عشق موجود دی)[1].

پوهاند عبدالحی مؤمني لیکي: (د طبابت زده کوونکی باید یو آزاد سړی او د ښه طبیعت څښتن وي. په عمر کم او په ونه برابر او د مناسبو اندامونو خاوند وي، ښه ذکاوت او پوهه ولري او د مشورې اومصلحت په وخت کې دې د ښې رایې او د ښه فکر خاوند وي او باید زړه ور او پاک نفسه وي، خوږه ژبه ولري او نوموړی باید په پیسو باندې مین نه وي او په ناروغ باندې مهربان وي او د هغه راز دې پټ وساتي، ځکه چې ډول ډول ناروغان شته، چې خپل راز طبیب ته وایي، خو نه غواړي چې دده راز نورو ته څرګند شي. که چیرې ناروغ ورته ښکنځل وکړي، باید هغه وزغمي، ځکه چې ځیني د برسام ناروغان شته، چې دوی په سودا او وسواس باندې اخته وي او خلکو ته خوشې ښکنځل کوي...[2]

هیپوکرات له طبیبانو څخه غوښتل چې هغوی باید عالي کرکتر ولري او پریږده، چې دی (طبیب) د خلق او عادت له نظره عالي انسان، مهربان ستر انساندوست (هومانست) وي. نوموړی څرګندوي، عجله او وارخطایي سره ددې، چې ګټور هم وي، تحقیر کوونکي دي، هغه طبیب چې خپله خوا خوږي په مسخره ګي او خندا سره اظهاروي او خوله یې بې مورده په شوخي باندې خلاصه وي، فکر کیږي چې متاثر کوونکی دی او باید د هغه څخه په جدي توګه ډډه وکړي.

---

[1] پوهندوی محمد انور، ترابی، طب درگسترده تاریخ، ۱۳۸۵، ص ۵۷.

[2] عبدالحی مؤمنی، تاریخچه طپابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان، مطبعه آزادی، ۱۳۶۹، ص ۳۲.

پاراسلز (۱۵۴۱-۱۴۹۳م) په دې باب کې داسې لیکي: (دطبیب قوت په زړه کې دی، دهغه کار دالله پاک په لاربښوونه سر ته رسیږي، د تجربې او زده کړې په روښنایي سره روښانه وي، ډیر ښه درمل د مسلک سره له علاقه مندۍ او عشق څخه عبارت دی. همدارنګه زیاتوي چې طبیب نه باید ریاکار، مضر، دروغجن، بې مغزه او لاوبالي وي، بلکې مؤدب او راستکار سړی وي)[1].

نامتو لیکوال چخوف لیکي: (د طبابت څانګه د قهرمانۍ یو کار دی، چې د ثبات، متانت او اندیشو د پاکوالي غوښتونکی دی، دعقل له نظره صریح، د اجتماعي برخورد له پلوه عادل او له فزیکي پلوه لطیف وي)[2].

ابن سینا لیکي: (طبیب باید پر منطق باندې پوه وي، ترڅو د ناروغیو جنس او ډول درک کړي او (فصل) (خاصه) او (عرض) په منځ کې فرق وکړي او په آخر کې علت وپیژني، ځکه ترڅو چې علت پیدا نشي درملنه صورت نه مومي...)[3].

کله چې دلیندۍ د میاشتې ۲۹مه په ۱۳۱۶کال کې د طب د پوهنځي او درمل جوړولو عالي ښوونځي فارغ التحصیلانو ته دیپلومونه او برۍ لیکونه ورکول کیدل، پروفیسور بای حسن شیاد چې د پوهنځي رئیس و، اوږده وینا وکړه، چې په پای کې د دیپلوم پر اهمیت باندې خبرې وکړې او د فارغانو څخه یې داسې غوښتنې لرلې:

---

[1] پورتنی اثر، همدغه مخ.

[2] دوکتور، شیر احمد، زاهدی، نقش موثر تربیه خودی در حیات مسلکی یك طبیب، مطبعه اردو، ۱۳۶۹، ص ۴۷.

[3] مجله خراسان، دوره سوم، سال ۲۷ (میزان – عقرب) ۱۳۸۶، ص ۱۵.

۱- داولوالامر اطاعت هیڅکله مه هیروئ.

۲- خپل علم او اقتدار پر مخ بوځئ، دمثال په توګه دایه که هرڅومره په شیدي رودونکي ماشوم باندې مهربانه وي او خوشحاله وي، خو د اصلي مور شفقت نه لري. هر هیواد مکلف دی، متقابلاً دیو او بل سره مرستې وکړي، ځکه همدا د هیواد زامن دي، چې خپل وطن د ترقۍ لوړو مدارجو ته رسوي.

۳- کله چې ناروغ ته غوښتل کیږئ، هیڅکله وفق او ملایمت څخه دباندې حرکت ونکړئ. د حق الزحمې اخیستل ستاسو حق دی، ځکه علم مو مصرف کړی دی، خو کله چې ستاسو مریض د حق الزحمې ورکولو توان ونه لري، په دې وخت کې مادي منفعت ته سترګې مه نیسئ او دده مبارک حدیث (خیر الناس من ینفع الناس) یعني بهترین خلک هغه دي، چې ګټه یې خلکو ته رسیږي، ارشادات په پام کې ونیسئ او دالله پاک (ج) درضا لاس ته راوړلو لپاره قدم کیږدئ.[1]

پخوانیو ویلي دي: (یو په پیسو او بل په دعا). دنن ورځې طبیب یوازې دا دنده نه لري، چې دمسلکي سطحې دانش دې لوړ بوځي، بلکې هم په خپله دښوونې او روزنې، کلتور او فرهنګ څښتن او هم نورو ته دروغتیا او سعادت ناقل وي. همدارنګه خپل شاوخوا او دسیمې لپاره دنیک کردار او دحمیده اخلاقو سر مشق وي. په دې توګه د طبابت علم نهایت انساني خو ډیر زیات او فوق العاده مشکل دی، چې دهغه انساني موخه او ارمان دبشر او بشریت دروغتیا تامینول دي. زه داثر لیکوال دخپلې ډیرې سختې ناروغۍ کیسه کوم، چې دخپلې ملا دسختې ناروغۍ له امله دوزیر محمد اکبر خان په روغتون کې یوه میاشت بستر ووم، دردونه مې دومره زیات وو، چې شپه او روځ مې خوب نه و او ډاکټرانو مشوره راکوله چې باید عملیات شم، په پایله کې ما پرېکړه وکړه

---

[1] تېر اثر همدغه مخ.

چې دعملیاتو لپاره باید پېښور ته ولاړ شم، زه پېښور ته ولاړم په ښګري کې مې د ډاکټر رضوان خټک په کلینیک کې ځان عملیات کړ، چې شکر ترنن پورې نوموړي دردونه او خوږ بیانه دي لیدلي شوي او زه او وسمهال روغ جوړ یم، نو طبابت ډېر زیات د انسان لپاره ضروري دی، چې دغه کاریوازې ماته معلوم دی، چې ډاکټر دانسان دناروغۍ لپاره او دهغه دعلاج لپاره ډېر مهم دی او ددغه علم لاسته راوړنه هم آسان کار نه دی، دغه علم ته لاس رسی ډېر زحمت غواړي، خو یوازې دمختلفو ستونزو د تحمل، فداکارۍ، سالم فکر او کوښښ سره امکان لري. په دغه اړه زیات مثالونه موجود دي، خو دلته یوائې په لنډه توګه یوازې یوې بېلګې ته اشاره وشوه.

دطبابت سمبول یومار دی چې دیوې پیالې څنځه دښبلو په حال کې دی او د روغتیا او حکمت ناقل مانا ورکوي. ددغه سمبول په څنګ کې چې دهالندي طبیب TUIPIUS,NECOLASS,VAN TULP په (۱۶۷۴–۱۵۹۹م) کال لخوا معرفي شوی دی، چې دغه یوه روښانه ډیوه ده، یعني خپله سوزم او نورو ته رڼایي ورکوم او یا خپل ځان له منځه وړم او نورو ته خدمت کوم.

دطبابت تاریخ شاهدي ورکوي، زیات سرښندونکي موجود دي، چې د خلکو د سعادت او روغتیا لپاره یې ځانونه قربان کړي دي.

په (۱۸۰۶م) کال کې انګریزي طبیب (رویت) ددې لپاره چې د طاعون د ناروغۍ سرایت ثابت کړي، د یوه ناروغ د غدواتو قیح یې پر ځان تطبیق کړ، چې ورپسې مړ شو. همدارنګه د تیرې پیړۍ په ۷۰ مو کلونو کې روسي طبیب (موچوت کوفسکي) په نامه د ادیسې په ښار کې څو ځلي حمای لکه دار ناروغانو وینې یې پر ځان تطبیق کړې، چې په شپږمه تجربه کې سخت ناروغ او بالاخره مړ شو.

همدارنګه انګریزي طبیب (اورتوبیکوت) حمای لکه دار څو ځلې تجربې پر ځان تطبیق کړې، چې په پایله کې ډیر سخت ناروغ شو.

کولرادباسیل څو تنو لکه دمونشن نامتو متخصص پتنکرفر او نورو پر ځان تطبیق کړی دی.

په ۱۹۲۶م کال کې بګدانوفد وینې ترانسفوزین پر ځان تطبیق کړ او په پایله کې مړ شو.

ددې لپاره چې د طبابت هومانستي خصوصیات لا ښه روښانه شي، دا دی د طبابت سوګند نامه په لنډ ډول وړاندې کیږي.

**د هیپوکرات لوړه:**

زه په لوی ذات په روغتیا او ټولو کائناتو او مقدساتو سوګند یادوم او هغوی د شاهد په توګه قبلوم، چې لاندې مسؤلیتونه په ټول توان، قدرت، هوښیارۍ او پاک وجدان سره مراعاتوم او هم یې عملي کوم.

۱ – ټول هغه کسان چې د طبابت دغه فن یې ماته زده کړی دی، لکه مور او پلار ورته احترام کوم، د هغوی سره په ژوند کې شریک کیږم او د لزوم په صورت کې د هغو سره مرسته کوم. د هغوی اولاد لکه خپل ورور ګڼم او که وغواړي، چې طبابت زده کړي، زه هغوی ته بې له کومې اجورې او مکافاتو او بې له کوم قرارداده ورزده کوم.

ټول قواعد، اصولنامې او علمي تدریسي پرنسیپونه خپل اولاد، داستادانو او لادونو او هغو زده کوونکو ته چې دغه سوګندنامه او د طبابت مسؤلیتونه رعایت کړي، انتقالوم.

۲– د خپل توان او قضاوت سره سم درملنه د ناروغ انسان په خدمت کې بږدم او هیڅکله د هغه د ضرر او بدۍ لپاره اقدام نه کوم.

۳– زه به هیچا ته زهري مواد چې زما څخه وغواړي، ورنه کړم او ددغو موادو کوم پلان او د استعمال طرز به یې چاته نه ښیم.

۴– زه به هیڅکله امیدوارې مېرمنې ته د سقط درمل نه ورکوم او برعکس به خپل مسلکي قدسیت او انساني کرامت په نظر کې نیسم.

۵– هر کور ته چې وغوښتل شم، هلته به ولاړ شم او هلته به یوازې د ناروغ سره مرسته زما په نظر کې وي، د ټولو منفي ارادو په ځانګړې توګه د معشوقه بازي څخه که نر وي او که ښځه او یا آزاد سړی وي، پاک اوسم.

۶– د درملنې په وخت کې او یا د درملنې د ساحې څخه د باندې هغه څه چې اورم او یا یې وینم، په دې مانا چې هیڅ شی مې نه دي لیدلي او نه مې اوریدلي، یعني هر شی زما سره پټ ساتل کیږي.

۷– زه به له شکه پرته په دغه تعهد باندې عمل کوم، ځکه دغه ماته حیاتي او مسلکي سعادت بخښي او عمل نه کول پر هغه باندې واضح ده چې معکوسه پایله ورکوي.

**د افغانستان طبي لوړې:**

په ۱۳۱۶ لمریز کال د لیندۍ د میاشتې په ۲۹ مه نیټه د طب پوهنځي او درمل جوړولو لوړۍ دورې فارغانو ته د دیپلومونو او بری لیکونو د ویشلو په وخت کې لاندې سوګندنامې د محصلینو لخوا ولوستل شوې.

طبي لوړه :

دا چې د خدای (ج) په فضل مې د افغانستان د طب په پوهنځي کې تحصیل کړی دی او نن د دیپلوم پر اخیستلو باندې ویاړل کیږم، که څوک د

درملنې لپاره ماغواړي که فقیر وي او که بډای ، دهر ملت څخه چې وي، دمسلک دادابو سره سم او په پاک نفسۍ سره د ناروغ سر ته حاضریږم او د هغه په تشخیص او درملنه کې دقت کوم. پرته د ضرورت څخه چې د مسلک له رویه د هلاکت موجب ګرځي. د سقط لپاره درمل نه ورکوم او هم مداخله نه کوم. د تشخیص په وخت کې که اشتباه او تردد ماسره موجود وي، د طبي مشاورې څخه سر نه غړوم. که څوک روغ او یا ناروغ وي ، داسې درمل نه ورکوم، چې د هغه ژوند په خطر کې اچوي. د عملیاتو په وخت کې له احتیاط څخه کار اخلم. د ساري ناروغیو ناروغانو د خدمت څخه ډډه نه کوم.

د سمو درملو لیکلو کې له امانت داري او احتیاط څخه سرغړونه نه کوم. د صنعت اسرار د مسلک په اړه نه افشا کوم. هغه شیان چې د سرکار لخوا ماته سپارل شوي دي، د حق او عدل څخه یې نه وځم. په پای کې خپل حکومت ته بې له قید و شرطه مطیع یم او په لنډه توګه وایم چې پاسنیو موادو ته د ایماندارۍ پر اساس صادق یم.

والله، بالله، تالله(ج)

**د درمل جوړونکو لوړه:**

دا چې د خدای(ج) په فضل د درمل جوړولو فني ښوونځی کې، چې د طب پوهنځي پورې اړه لري، شامل شوی یم او نن د تحصیل د فراغت سند ترلاسه کوم . په ایماندارۍ او خپل دیانت باندې توکل کوم او ورسته تر دې د طبیب له هدایت څخه پرته چاته درمل نه ورکوم او د جنین د سقط لپاره په خپل سر درمل نه ورکوم. سرکاري مالونه په صداقت او امانت دارۍ سره ساتم او د هیچا څخه د درمل داصلي نرخ څخه زیاتې پیسې نه اخلم.

خپل دولت او حکومت ته تل مطیع اوسم. د خپل دین او ایمان د امر په اساس پاسني مواد چې زما د څانګې (مسلک) سره تطابق لري صادق یم) والله، بالله، تالله (ج)[1]

همدارنګه په نړۍ کې نورې لوړې هم موجود دي، چې هغه دا دي:

۱ - هندي سوګند نامه چې ۲۸۰۰ کاله مخکې منځ ته راغلې او درې مادې لري.

۲ - د یو مسلمان طبیب لوړه.

۳ - د نړۍ د طبیبانو نوې لوړه.

۴ - د شوروي اتحاد د یو طبیب لوړه چې پنځه مادې لري.

۵ - دژنیوا مصوبه: دغه مصوبه د طب انجمن په عمومي اسامبله په کال (۱۹۴۸م) دسپتامبر په میاشت کې دژنیوا د مصوبې په نامه منځته راغلې وه.

په وروستیو لسیزو کې د جنګ او جګړو اغیزې پر هومانیزم بنسټونو ډیر لوی تاثیرات او اغیزې شیندلې دی. د دغو شخړو او جنګونو له امله زموږ د ټولنې مادي او معنوي اړخونه اغیزمن شوي دي. جګړه او د جګړې مفهوم یوه شومه پدیده ده، چې بدبختي، بدمرغي، کرکه، نفرت، فقیري او عاجزي رامنځته کوي. جګړه دوستي، وروري، خواخوږي، انساندوستي له منځه وړي، پر ځای یې کینه، حسد، وژنه، بدبختي او نورې بیلابیلې ستونزې دانسان پر وړاندې رامنځته کوي.

همدغو جګړو زموږ د ټولنې د نور مالې او طبیعي ودې او پرمختګ مخه نیولې او د شخصیتونو د سالمې ودې خنډ ګرځیدلې ده. د ټولنې داقتصادي

---

[1] پوهاند. عبدالحی، مؤمنی او لیکوالانو ډله، نړۍ او افغانستان کې د پرون او نن طبابت. ناچاپ اثر.

بنسټونو د رنګيدو په پايله کې په زرګونو کسانو وزګار تيا، بې کاري، لوږې، ناروغتيا د هومانيزم او انسان پالنې د جوړښت او تشکل لپاره يو ستر ګوزار و، چې د جګړې له مخې رامنځته شوي او په هيواد کې د انسان وژنې مسله يوه عادي مسله وه او د انسان ټول حقوق تر پښو لاندې شول. په جګړو او روانو وطن ورانوونکو پيښو کې د هيواد کلتوري او علمي ميراثونو ته خورا زيات زيان ورسيده او په دې لړ کې د شخصيت د سالمې ودې د متانت د احساس ژوندي ساتلو، په ټولنه کې د خورا ټينګو او ښخو علمي او کلتوري بناوو اساس زيات ارزښت درلود، چې ويجاړ او له منځه ولاړل. دې جګړې په خپل وار سره د روانو ستونزو او حوادثو پر ورانډې يې د افغانانو د وروستي او راتلونکي نسل مقاومت ډير کم کړی دی او زموږ د ټولنې يو زيات شمير هيوادوال يې په رواني تشويشونو اخته کړي دي.

## و- سوله او هومانيزم:

د سولې او جګړې مسئله بلکې د انسان او انساني برخليک خبره تل د سياسي، ټولنيزو او تاريخي څيړنو لويه برخه جوړوي او په فلسفي شننو کې يوه ډيره لويه پوښتنه همدغه د سولې او جګړې دخرنګوالي اړيکې دي. اوس مهال د دولتونو ترمنځ جګړه د پخوا په پرتله ډيره کمه شوې ده، خو پر ځای يې کورنۍ جګړې په ځانګړې توګه توکميزې او قومي جګړې او د کورني تاوتريخوالي جګړه د هيوادونو او نړيوالې ټولنې لپاره يوه لويه او کړکيچنه ربړه جوړه شوې ده.

ځيني پوهان له دې ډلې څخه هانيسنګټون HANESUNGTONE د تمدنونو تر منځ د جګړې انځورونه وړاندې کوي، يعني دده له نظره د تاريخ او اوسني پړاو د تمدنونو د جګړې پړاو دی او کومې قومي ټولنې او قبيلې چې د

دولتونو لخوا ځپل کيږي، اوس نړيوال حقوقي، سياسي لرليد کې ورګډې شوي او سياسي چاپيريال تـه ننوتي دي. دغه تـوکميزو او قـومي تربګنيـو لړۍ خپله تاريخي کرکه په ډاګه کوي، چې دپخواني يوګوسلاويا، سومالي، اندونيزيا او پـه نورو هيوادونو کې راپورته شوې ربړې، ستونزې اولانجې ښيي، دهغو تـوکميزو قومي لړه کيو پر وړاندې په روانډه کې توتسيانو، په سريلانکا کې د تاميليانو، په عـراق او ترکيـه کـې د کردانـو، پـه کـشمير کـې د هنـدوانو او پـه فـلسطين کـې د د فلسطين د خلکو پر وړاندې د اسرائيلو لخوا، د بوسنيا مسلمانانو او په کوسوو کې د البانيـايي تـوکم پـر وړانـدې تـر سره شوي دي، چې اوس دغه قـومي او تـوکميزو شخړو او تـاو تريخوالي د ډيرو هيوادونو لمن نيـولې ده. دا ټـول غيـر بـشري او غيـر انـساني کړنـې د جګړې پـه شـتون کـې او د سـولې د نـه موجوديـت پـه حالـت کـې رامنځته شوي دي.

د اسلام په مقدس دين کې سولې او سوله ايـيز ژوند ته ډير ارزښت او اهميت ورکړل شوی او په انساني ټولنه کې د سولې پر دوام باندې ټينګار شوی دی. سوله (صلح) يوه عربي کلمه ده او په عربي ژبه کې په يوولسو معناوو راغلې ده، لکه چې امام راغب اصفهاني او نورو عربي پوهانو ويلي دي او دغه معناوې په لاندې ډول دي:

۱- منفعت او ګټه، ۲- وړتيا او مناسب والی، ۳- ښـه والی، ۴- اسـتعداد، ۵- جوړښت او بشپړ تيا چې له يوه شي او يا يو چا څخه نيمګړ تيـاوې لـرې کـړای شي، ۶- نيکي او ښيګڼه، ۷- نعمت، ۸ پخلاينه، ۹ اتحاد، ۱۰ اتفاق، ۱۱ اوربند او د جګړې بندول.

دا خـو د سـولې لفظي مانا ده، چـې د سـولې پـه اړه پـوهـانو بيلابيـل تعريفونـه کړي دي، دا ځکه چې د سولې عملي زمينې يو له بله توپير لري، لکه په اقتصادي

معاملاتو کې سوله، په ازدواجي معاملاتو کې سوله، دمیره او ښځې ترمنځ سوله، د جګړه مارو ډلو ترمنځ سوله او داسې نورو مواردو کې د سولې ځانګړې تعریفونه لري. خو دلته له نورو اړخونو څخه تیریږو. یوازې د جګړې د پای ته رسولو او پرځای یې د سولې دټینګښت په اړه د پوهانو اصلاحي تعریف راوړو:

(سوله د جنګ بندول، د شخړو لرې کول او د اختلافاتو ختمول دي، د هغو شرایطو پر بنسټ چې د سولې د شرایطو په نامه یادیږي، یا په بل عبارت سوله هغه تړون دی، چې جنګ، شخړه او نزاع پرې ختمیږي، دا که لفظي وي، وسله واله او یا بل ډول وي)[1].

د سولې اساسي موخه هماغه په ټولنه کې د تاو تریخوالي، زورزیاتي د ټولو اړخونو او ابعادو له منځه وړل او د سولې برقرارول دي.

په نړۍ کې داسې مشکل نشته چې دحل لاره دې ونه لري، خو کله کله انسانان په ځینو مواردو کې د ستونزو او لانجو حل ناشونی بولي. په واقعیت کې داسې نه ده، بلکې تاریخ ثابته کړې ده، چې دنړۍ پر مخ ډیرې سترې لانجې، شخړې، ستونزې او مشکلات دسوله ییزو هلو ځلو په پایله کې اوارې شوي او انسانیت یې له تباهي او بربادي څخه ژغورلی دی، دا که د خبرو اترو له لارې وي، که د جرګو او مرکو له لارې وي او که د غیرمستقیمو خبرو له لارې وي، خو مهمه داده، چې اصلي موخه د سولې ټینګښت او د خلکو ترمنځ د وروري او صمیمیت ژوند کول او د تاو تریخوالي له منځه وړل دي.

[1] شاه ولي، عطایي، ه مقالو ټولګه، د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، د بهرنیو چارو وزارت، کابل، ۱۳۸۸، ۹۰مخ.

دلته ده چې انساني ټولنې دورځني ژوند بهیر خپله لاره پیدا کوي او انسانان دیو او بل پر وړاندې د مسؤلیت احساس کوي. شخړې او لانجې خپل ځای د سولې ټینګښت، په خپلو کې تفاهم او دوستي ته پرېږدي او نهایت کې انسان د انسان په توګه په ټولنه کې ژوند کوي.

جنګ د تباهۍ، ویجاړۍ او ګډوډۍ نوم دی، خو سوله د سوکالۍ، خوشبختۍ، سعادت، آرامۍ، د ښه ژوند کولو نوم دی، چې وګړي د نیکمرغه ژوند په لوري رهبري کوي، ځکه نو د انسانانو په ټولنیز ژوند کې سوله لوړ مقام لري.

افغانانو د خپل اوږده تاریخ په بیلا بیلو دورو کې د جنګ او سولې ډیر پړاوونه شاته پرې ایښي دي او کله چې جنګ پرې تحمیل شوی او یا جنګ ته مجبور شوي دي، نو تر څنګ یې سوله ییزې هلې ځلې هم نه دي هیرې کړې او کوښښ یې کړی، چې دخپلو خلکو لپاره د سوله ییز ژوند امکانات برابر کړي، چې د سولې دغه کار موږ دسولې په بېلابېلو کنفرانسونو کې په ښه توګه وینو. سوله او جګړه دیوه واقعیت دوه اړخونه دي او یو او بل سره قانون منده دیالکتیکي اړیکې لري.

د اسلام مقدس دین تل سوله ستایلې ده او په دې اړه وایي چې:

۱ – وَالصُّلۡحُ خَيۡرٌ. [۱]

۲ – وَأَصۡلِحُوا ذَاتَ بَيۡنِكُمۡ. [۲]

۳ – فَأَصۡلِحُوا بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡ. [۳]

---

[۱] قرآن کریم، د النسا سوره، ۱۲۷ أیت.

[۲] قرآن کریم، د الانفال سوره، ۱ أیت، ۱۰ پاره.

[۳] قرآن کریم، د الحجرات سوره، ۱۰ أیت، ۱۰ پاره.

نو ویلای شو، چې د اسلام دین د بشر حقوقو ته تل پاملرنه کړې او رعایت کړي یې دي او په دې اړه یې زیات شمیر پیغمبران د الله (ج) لخوا د استازیو په توګه د بشر د هدایت لپاره د مختلفو قومونو او قبیلو لپاره استول شوي دي، تر څو چې د بشر لپاره سمه لاره وښیي او بشر د بدبختۍ او تباهۍ څخه وژغوري.

حضرت محمد (ص) د اسلام ستر لارښود په عربو کې د هغه وخت ظلمونو او وحشتونو پر وړاندې مبارزه کوله، چې د بشر په تاریخ کې ستر خدمت ګڼل کیږي. دده مبارزه د بشر د هدایت لپاره چې په هغه وخت کې تر سره کړې وه، د بشریت د ښیګڼې لپاره وه.

## پایله(نتیجه):

دعام اصل په توګه هره مسئله چې وڅېړل شي، موخه یې دا وي چې یوې پایلې ته ورسیږي، او دخپلې مطروحې فرضیې اثبات پکې روښانه شوی وي. د هومانیزم د اصطلاح او فلسفي مکتب څېړل او د هغه تاریخي بهیر راسپړل د دغه اثر د فرضیې په توګه کولای شو، چې په لنډ ډول دا پایله ور څخه تر لاسه کړو:

هومانیزم چې انساندوستۍ او انسان ته د اصالت ورکولو په مانا دی او انسان ته د خپلو تاملاتو په مرکز کې قرار ورکوي، په مشکل سره کولای شو هغه یو ځانګړی مستقل او خپلواک مکتب وبولو، بلکې یو داسې جریان او د نفوذ څخه ډک طرزدید دی، چې په لویدیزه نړۍ کې په ډېر شمیر فلسفي، دیني، اخلاقي، ادبي او هنري نظریاتو اوافکارو او هم په سیاسي، اقتصادي او ټولنیز طرزدیدونو کې له رنسانس څخه وروسته یې ریښې ځغلولي دي او پیاوړي شوي دي .

د هومانیزم اصطلاح د نولسمې پیړۍ د ابداعي مفاهیمو څخه ده او د لومړي ځل لپاره په ۱۸۰۸م کال کې د آلمان د هومانیزموس (HUMANISMUS) کلمې څخه، چې په یو شکل د یونان او لاتیني لرغوني ادبیاتو په زده کړه باندې ټینګار دی، رامنځته شوې ده.

په دې توګه ویلای شو، چې د هومانیزم کلمه د رنسانس په زمانه کې نه ده کارول شوې، خو د هومانیزم اصطلاح د رنسانس پر وخت د دا ډول مفهوم په مانا بشپړ حضور درلود، چې نن یې د هومانیزم په نامه یادوو . د هومانیزم مفهوم د

رنسانس پر وخت یو فرهنګي مفهوم بلل کیده، چې د هغه اصلي دنده د لرغونو آثارو څېړنه په ځانګړې توګه لغت پېژندنه وه.

د دغه فرهنګي غورځنګ موخه دا وه، چې د یونان او روم د لرغوني فرهنګ کلاسیکو متونو ته په پام لرلو سره انساني داخلي قواوې راوغوړوي او د انسانانو اخلاقي او دیني پوهه او ژوند د کلیساله بند څخه آزاد کړي.

هومانیزم نورې رواجي او عامې مانا وې هم لري، چې دا ټول له هماغه ځانګړي مفهوم او مانا څخه سرچینه اخلي. هومانیزم په عامه معنا سره یوازې یو غورځنګ نه دی، بلکې یوه فکري لاره او روحي حالت څخه عبارت دی، چې موخه یې د انسان د شخصیت وده او د هغه بشپړ غوړیدل تر ټولو شیانو لومړی ګڼي، چې د دغه حالت او د طرزفکر سره موافق عمل دی. به بله وینا: (هومانیزم د هومانیستانو له تعریف سره سم په آګاهي سره فکر او عمل کول او پر انساني حیثیت باندې ټینګار او اصیل انسانیت ته د لاس رسي لپاره هڅې کول دي).

د رنسانس څخه را وروسته هومانیزم په ډیر شمیر فلسفو او افکارو کې نفوذ کړی دی. خو د هغه راڅرګندیدل او رامنځته کیدل په ځینو فلسفي او سیاسي مکتبونو کې لکه پراګماتیزم، اګزستانسیالیزم، پرسونالیزم، مارکسیزم او لیبرالیزم کې ډیر زیات دی.

دغه طرز تفکر چې انسان د خپلو تاملاتو په مرکز کې او یا یې د خپل پام په محراق کې دروي، د رنسانس څخه را په دیخوا یې د ختیځو هېوادونو د خلکو په تمدن او د ژوندانه په بیلابیلو اړخونو کې اثر غورځوي او بیلابیل بدلونونه او تحولات یې رامنځته کړي دي. خو دا باید هیره نه کړو، چې هومانیزم د لویدیځ نوی تفکر او د مدرنیزم فکر ډیر مهم مثال دی.

په عمومي ډول ويلای شو، چې هومانيزم په لويديځ کې دوه عمده ګرايشونه لري: ۱ – وګړپال او ۲ – ټولپال. د وګړپال تمايل مثال په کپيتاليزم يا پانګوالي سيستم او ليبراليزم کې او د ټول پال تمايل بيلګه په سوسياليستي او مارکسيستي په سيستم کې دي.

که څه هم هومانيزم په ځانګړې مانا سره رنسانسي غورځنګ دی، خو له تاريخي پلوه دغه لرغونتوب لرغوني يونان ته رسيږي. دا ځکه چې په لرغوني يونان کې که د شعر موضوع راواخلو، د هومري حماسو څخه رانيولې بيا د يوناني فرهنګ تر وروستيو دورو پورې انسان او دغه برخليک دغه موضوع وه. همدارنګه د مجسمې جوړولو او نقاشي د هنر په برخه کې هم دغه مسا له صدق کوي. په دې مانا چې د نوموړي هنر له ډيرو مهمو مسالو څخه انساني اندام و. سوفسطايانو هم انسان د ټولو شيانو مقياس ګرځولی و او سقراط هم په همدغه دوره کې په ځان پيژندنې باندې زيات ټينګار کولو، چې په کلي توګه ويلای شو، چې د يوناني فرهنګ تاريخ د انساني حيثيت ارزښت ته وقف شوی او د انساني ټولنو د خپلواکۍ تاريخ يې بولي.

کله چې دغه يوناني خپلواکي او عظمت مخ په زوال شو، همدغه يوناني فرهنګ په بله بڼه روم ته په ميراث پاتې شو او روم ته وليږدول شو، نو دموکراسي او فردي آزادي هيڅکله د يوناني بيلګې په څير په پښو ونه دريدله، خو بيا هم يوناني طرز تفکر او د انساني تفکر خپلواک نظر په روم کې خپل ژوند ته دوام ورکړ. په روم او نورو اروپايي هيوادونو کې د مسيحيت د راڅرګنديدو او خپريدو سره سم او د کليسا نبض نيول حالت له بيخه واړوه او کليسا ددې دعوه را پيل کړه، چې د ځمکې پر مخ يوازيني ساتونکی الهي حقيقت دی، چې په دې توګه مسيحي انسان پيژندنه پر هغه انسان پيژندنه، چې د يوناني فرهنګ څخه اغيزمنه وه، غلبه پيدا کړه.

همدغه بهیر په منځنیو پیړیو کې تر هغه دوام وکړ، تر څو چې په ایټالیا کې لرغوني فرهنګ ته یو ښکاره تمایل، په لومړي سر کې ناآګاهانه او بیا وروسته آګاهانه د انفجار په بڼه راڅرګند شو او له هغه وروسته په ټوله اروپا او بیا وروسته په ټولې ختیځې خاورې کې هم خپور شو. دغه غورځنګ درنسانس غورځنګ بانديې مشهور شو. دا ټول طرز تفکر پایله دانساني وګړو خپلواکۍ او کلیسا د قمومیت څخه آزادي وه. په بله وینا دهومانیزم پیدا کول وو. ددغې دورې عجب توب او بل ټول والی د لرغونې زمانې په نسبت دبلهاینې له امله ددې سبب شو، چې دهومانیزم په نامه شاعران، لیکوالان، ویناوال، مؤرخین او څیړونکي راڅرګند شي، ترڅو خپل ایډیال دلرغوني یونان په آثارو، درومیانو په اتل والي او دلومړنیو مسیحیانو په عقایدو کې ولټوي.

په هر حال هومانیزم درنسانس د څرګندو او دنفوذ څخه ډکو اړخونو له ځانګو څخه و، لکه څرنګه چې وویل شول د یونان لرغونو متونو ته په پام لرلو سره یې انسان ته دخپلو تاملاتو په مرکز کې ځای ورکړ. ددغه هومانستي غورځنګ ټول پام یوازې د منځنیو پیړیو په دوره کې و خپلو نظریاتو ته د نظم ورکولو فکر یې چندان نه لرلو. هومانستانو دهغو نظریاتو څخه ډیر زیات استقبال کولو، چې د منځنیو پیړیو د حاکم نظام سره په تقابل او مخالفت کې وو.

هومانیستي غورځنګ که څه هم په ۱۶ مه م پیړۍ کې د بیلابیلو دلایلو له امله د یوه غورځنګ په نامه مخ په زوال شو، خو خپلې اغیزې یې د یوه نوي طرز تفکر په توګه په خپل دوران او د هغه څخه په را وروسته فکري بهیرونو کې په کلي توګه د غربي نوي تمدن په فکر، فرهنګ او کړنو باندې تر نن پورې پر خپل ځای پرې ایښې دي. په داسې توګه دهنر او ادب په ډګر کې چې هومانستانو د انساني افکارو او بیان آزادۍ ته د رسیدو لپاره د خپل لومړني د تیښتې ځای په توګه غوره کړې و او داسې وګړي لکه پیترارک، بوکاچیو او نور راڅرګند شول،

چې دخپلو انسان پالو نظریاتو سره او په دې باور چې دهغوی فرهنګ هماغه د لرغوني زوړ دوران فرهنګ دی، چې د رنسانس د زمانې طرز تفکر سته یې جوړه کړې ده.

دا خبره باید په یاد ولرو، چې د رنسانس دورې هومانستي فلسفه هومانیزم نه و، خو په نوې دوره کې د هغو فلاسفه و د راڅرګندیدو سره یو ځای لکه، برونو، بیکن، د کارت، سپینوزا په راسیونالستي چوکاټ کې (دعقل اصالت) او لاک، بارکلي او هیوم د امپریستي دوره کې (د تجربې اصالت) په تدریجي توګه منسجمو فلسفي مفاهیمو خپل ځای پیا وموندلو. همدارنګه په اوولسمه او اتلسمو پیړیو کې د (روشنګري دوره) د دغې لارې په افکارو او آثارو باندې د هومانستي نظریاتو اغیزې په بشپړه توګه څرګندې دي. په دغه دوره کې د ادباو، فلاسفه و او پوهانو د مشرانو څخه یوه مجموعه لکه ولتر، منتسکیو، دیدرو، د الامبر لاک، هیوم، کندرسه او نورو ژوند کولو، چې دهغوی عمومي باور دا و، چې انسانیت د شته والي بنسټیزه او محوري مساله د عقلي موازینو سره سم د هر فردي او ټولنیز ژوندانه سمبالول دي، نه ددغه خاورین موجود په باب د خدای (ج) د ارادې کشف، د انسان هدف ددغه جهان سره مناسب انساني طرحو ته تحقق ورکول دي، چې دعقل له لوري وړاندې کیږي.

د روشنګرې دورې هومانیزم تر معاصرې دورې پورې دوام کړی او اوسني ډیر شمیر اخلاقي، حقوقي، سیاسي، دیني، ښکلا پیژندنې او نور بحثونه لا هم د انسان پالنې له نظریاتو څخه الهام او شکل اخلي.

د عمومي پایلې په توګه ویلای شو، چې هومانیزم دغه لاندې ټکي په خپل غیږ کې ځای کړي وو:

۱ – د انسان محوریت یعني انساني غوښتنو او علایمو ته وفاداري.

۲- په عقل باندې باور او د انساني ټولنې جوړول.

۳- په عقل او اختیار باندې تکیه کول.

۴- په خود مختارۍ او اخلاقي برابرۍ باندې د اخلاقو او ټولنې بنا کولو باندې باور.

۵- په پرانستې او کثرتي ټولنې باندې باور.

۶- په دموکراسي باندې باور او د اسې نور.

## وړاندیزونه :

هومانیزم دهغو نظریاتو ټولګه ده ، چې په هغه کې انساني کرامت ته درناوی شوی وي او دانسان دنېکمرغۍ او سوکالۍ او دهغه دهراړخیز او پراخ تکامل سره دلچسپي او دانسان دفردي او ټولنیز ژوند لپاره دښو شرایطو او زمینې رامنځته کول ، دجنګ ، جګړو ، ویجاړیو او بربادیو څخه کرکه ، په آګاهانه ډول فکر او عمل کول او پر انساني حیثیت باندې تاکید کول او اصل انسانیت ته لاس رسی په کې نغښتی دی . نو پر دې اساس لاندې وړاندیزونه کوم :

۱. دهومانیزم او انسان دوستۍ په اړه دې دښوونې او روزنې په تعلیمي نصاب کې یو مضمون ورزیات کړای شي .

۲. انسان اوانسانیت ته داحترام روحیه دې پیاوړې شي او دا روحیه دې د رادیو تلویزیون او ټولنیزو رسنیو له لارې تبلیغ کړل شي ، ترڅو دجنګ ، جګړو ، بدبختیو ، کرکې او نفرت لمن ټوله او یوه سالمه انساني ټولنه رامنځته شي .همدا ددین عالمان هم همدغه کار ترسره کوي .

۳. انسان دټولو شیانو اصلي محور دی ، خپل ټول پام دې دانسان غوښتنې علایقو ته راواړول شي .

۴. دعقل او شک ګرایي په علمي روش باندې باور ، چې دحقیقت دکشفولو لپاره ډېر مهم میتود بلل کیږي او د انساني ټولنې د جوړولو لپاره ډېر مهم شمیرل کیږي ،ورڅخه پې ګټوره استفاده وشي .

۵. هومنیستان په تکثر ګرا او پراختیایي ټولنې باندې باور لري ، چې دا زموږ دټولنې لپاره هم اړین دی او باید زموږ په ټولنه کې ترې مؤثره ګټه واخیستل شي .

۶. په دموکراسۍ باندې تاکید او د زورمندانو او حاکمانو د غاصبانه قدرت غوښتلو په مقابل کې دې د هومانیزم څخه، چې دانساني حقوقو ډېر ښه تضمین کوونکی دی، دیوې وسیلې په توګه کار واخیستل شي.

۷. د هومانیزم څخه دې دمذاکرې او خبرو اترو د هنر روزلو، او د بېلابېلو پوهو دتوپیر او تقابل دحل د وسایلو په توګه کار واخیستل شي.

۸. په نړۍ کې دې له هومانیزم څخه دبشري ستونزو په حل کې ګټوره استفاده وشي.

۹. دهومانیزم په وسیله دې د ملموس او عیني حقیقت د موندلو لپاره پرله پسې پلټنه او دهغه څخه درک او پر هغه باندې باور ترلاسه شي. ترڅو نوی شناخت او تجربه تر لاسه کړو چې زموږ نیمګړي ادارکونه عیني حقیقت ته لار ومومي.

۱۰. په هومانیزم باندې باور خوش بینې، امید، حقیقت موندنې، تساهل، برده باري، عشق، ترحم، زړه سوی، ښکلا، عقل پالنه او نور په انسانانو کې روزي او په انسانانو کې دبدبینۍ، نا امیدۍ، ګناه او غوسې تعصبونه غندي او دهغې څخه کرکه کوي، نو پر دې اساس په ټولنه کې باید ورځنې وړ او ضروري ګټه واخیستل شي.

۱۱. په هیواد کې دې دټولو ملتونو او بشري پوهنو په باره کې باید ژورې او هر اړخیزې څېړنې وشي، تر څو د هومانیزم افکارو او نظریاتو پیاده کولو ته لاره آواره شي.

۱۲. په افغانستان کې دانسان پېژندنې یا انتروپولوجي ANTHROPOLOGY په اړه باید دهیواد په ګوټ ګوټ کې څېړنې ترسره شي، چې انسان څه شی دی ترڅو دانسان پېژندنې مسئله په افغانستان کې ښه روښانه شي.

# اخځليکونه

**لومړی- کتابونه:**


۱. قرانکريم ، سورة الانفال، سورة النساء ، سورة الحجرات ، سورة بني اسرائيل .

۲. آباداني ، مبلغی عبدالله . تاريخ اديان ، جلد اول ،انتشارات حر ، تهران ، ۱۹۷۶م .

۳. آريانا ،دايرة المعارف ، لومړی چاپ ،لومړی ټوک، کابل مطبعه، کابل ، ۱۳۲۹ ل .

۴. آريانا دايرة المعارف ، لومړی ټوک (پښتو) دنبراسکا مطبعه ، کابل ، ۱۳۸۶ل .

۵. آئين،امير نيک.واژه های سياسي اجتماعي ،ايران، تهران ، ۱۳۷۰ .

۶. آيتي ، عبدالمحمد ، تاريخ فلسفه درجهان اسلامي ، انتشارات فرهنگي ، تهران ، ۱۳۷۲ل.

۷. ابو داود . سليمان بن اشعث السجستاني، ۴ ټوک ، لبنان ، بيروت ، ۱۳۸۵ ل .

۸. اخرجه البخاري . فی الادب المفرد ، تحقيق محمد فواد عبدالباقي دار البشائر اسلاميه ، بيروت ، لبنان ، ۱۹۸۹ م .

۹. اخلاق ، سيد حسن . سنت روشن انديشی ، مؤسسه انتشارات امير کبير ، تهران ، ۱۳۸۸ ل.

۱۰. احمدزی ،اشرف غني .دعادلانه نظام لار ،سالنگ خپرندويه ټولنه ، کابل،۱۳۸۸ل .

۱۱. افق ، محمد ظاهر ، دلرغوني یونان دفلسفې لنډ تاریخ ، دافغانستان دعلومو اکاډمي ، کابل ، ۱۳۶۸ ل .

۱۲. ایوبي ، محمد نادر ، فلسفه ، لومړی چاپ ،صحاف نشراتي مؤسسه ، کویټه ، ۱۴۲۶هـ ق .

۱۳. بختاني خدمتګار، عبدالله . دګلګڅونو په ارمان ، کابل ، ۱۳۸۷ ل .

۱۴. بچواوف ،میخایل . بلغاریایي فلسفي ډیکشنري ، صوفیه ، پارتینزاد ، ۱۹۸۵م .

۱۵. بشریه، حسین. جامعه شناسي سیاسي ، چاپ سېزدهم ، تهران ، ۱۳۷۴ل.

۱٦. بیات ، عبدالرسول ، فرهنګ واژه ها ، چاپ دوم ، تهران ، ۱۳۸۷ ل .

۱۷. بېنوا ،عبدالروف. دافغانستان نومیالي،لومړی ټوک،دولتي مطبعه، کابل،۱۳۵۲ ل .

۱۸. پتنګ ، عبدالکریم . داعمالو توازن ، کابل ، نبراسکا ، ۱۳۶۹ ل .

۱۹. ترابي ، محمد انور . طبیب در ګسترده تاریخ ، کابل ، ۱۳۸۵ ل .

۲۰. تولقون ، سید احمد . تاریخ قرون وسطی ، کتاب درسي محصلان ، نشر وزارت تحصیلات عالي ، کابل ، ۱۳۶۳ ل .

۲۱. توماس ، هنري او توماس دانالي . په فلسفه کې تلپاتې پېښې ، مترجم ، نصیر احمد احمدي ، ، پېښور ، ۱۳۸۴ل .

۲۲. جعفریان ، رسول . تاریخ سیاسي اسلام ، جلد دوم ،وزارت فرهنګ ، ایران ، تهران ، ۱۳۶۹ ل .

۲۳. جیلاني ، سید نورالحق ، دحمید مومند در او مرجان ، یونیورستي بک ایجنسي ، پېښور ، ۱۹۷۸ م .

۲۴. چایلډ ،دون ګور. انسان خودرا میسازد ، مترجم ، اسد پور ، تهران ، ۱۳۵۲ ل.

۲۵. حسیني ، اسحاق . تاریخ فلسفه ، انتشارات امیر کبیر ، تهران ، ۱۳۸۳ .

۲۶. خټک ، خوشحال خان . کلیات ، دعبدالقیوم مشوانی په زیار ،دویم چاپ ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور ، ۱۳۸۷ ل .

۲۷. خلیابیچ ، ای. دفلسفې لنډه تاریخ ته یوه کتنه،چاپ پروگرس مسکو،۱۳۸۳ل .

۲۸. خلیل، سکندرخان . فلسفه زړه او نوې ، پېښور ، ۱۹۶۶م .

۲۹. دادبه ، داکتراضغر . کلیات فلسفه ، نشر دانشگاه پیام نور، تهران ، ۱۳۷۰ ل .

۳۰. دورانت ، ویل . تاریخ فلسفه ، مترجم ، عباس زریاب خوی ، انتشارات علمي وفرهنگي ، تهران ، ۱۳۷۳ ل .

۳۱. دمعلوماتو ترمینالوژي ،وړتیا او پرمختګ مؤسسه ، چاپ ماین پاکي ، کابل ، ۱۳۸۷ل.

۳۲. رادا کرشنان، سروپالي . تاریخ فلسفه شرق وغرب مترجم ، جواد یوسفیان ، ، جلد دوم ، تهران ، ۱۳۸۲ ل .

۳۳. راد کرشنان ، سروپالي . تاریخ فلسفه شرق وغرب، مترجم ، خسرو جهانداري ، جلداول ، تهران ، ۱۳۸۲ .

۳۴. رحمان بابا . کلیات ، د حنیف خلیل په زیار ، دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور ، ۱۳۸۴ل .

۳۵. رزمجو ، داکتر حسین ، انسان آرماني و کامل در ادبیات حماسي وعرفاني ، تهران ، ۱۳۷۵ ل .

۳۶. رسا، میا سید رسول. علامه اقبال ، اول چاپ ، یونیورستي بک ایجنسي ، پېښور ، ۱۹۶۴ل .

۳۷. رضايي ، عبدالعظيم . تاريخ اديان جهان ، چاپ دوم ، انتشارات علمي ، تهران ، ۱۳۸۰ل.

۳۸. زاهدي ، شير احمد . نقش مؤثر تربيه خودي درحيات مسلكي يک طبيب ، مطبعه اردو ، کابل ، ۱۳۶۹ ل.

۳۹. ستانکزی ، نصرالله . افغانستان ددموکراسۍ په لور ، ژباړه نعمت الله اندړ ، کابل ، ۱۳۸۷ل .

۴۰. سعديان ، عبدالحسين . دانشمندان ، چاپ سوم ، تهران ، ۱۳۸۷ ل .

۴۱. سولومون ، انوره رابرت . تاريخ فلسفه درجهان ، مترجم منوچهري شادان ، تهران ، ۱۳۸۷ ل .

۴۲. شريعتمداري ، علي. جامعه وتعليم وتربيه ، انتشارات امير کبير ، تهران ، ۱۳۸۱ ل .

۴۳. شريعتي ، داکتر علي . داسلام پوهنه ، مترجم اجرالدين ، انتشارات قيامت ، تهران ، ۱۳۷۰ل .

۴۴. عالم ، عبدالرحمن . تاريخ فلسفه سياسي غرب ، عصر جديد ، تهران ، ۱۳۸۴ ل .

۴۵. عثمان عارف ، خوشحال ختک او دده ادبي مکتب ، دافغانستان دعلومو اکاډمي ، دپښتو څېړنو نړيوال مرکز ، کابل ، ۱۳۶۱ل .

۴۶. عطايي ، شاه ولي ، دسيمينار دمقالو ټولګه ، مطالعات ستراتيژيک وزارت خارجه ، کابل ، ۱۳۸۸ل .

۴۷. علامه اقبال .باچهارده روايت ، چاپ اول ، چاپخانه رامين ، تهران ، ۱۳۷۹ل.

۴۸. علامه اقبال ، شاعر اسلام ، يونيورستي بک ايجنسي ، پېښور ، ۱۹۶۷ل .

۴۹. غروال محمد عارف ، په پښتو ادب کې دسولې انعکاس ، دافغانستان دعلومو اکاډمي ، کابل ، ۱۳۸۸ ل .
۵۰. کامجو، بصیر. تاریخ نظریات فلسفي، چاپ اول ، انتشارات حر، تهران، ۱۳۸۱ ل .
۵۱. لایق، سلیمان. دزردشت مینوي سرودونه ، لومړی چاپ ، کابل ، ۱۳۸۸ ل.
۵۲. لوکاس، هنري. تاریخ تمدن ، ژباړن (عبدالحسین) جلد دوم ، تهران ، ۱۳۸۴ل .
۵۳. لوتان کوی. اموزش و پرورش ، ژباړه ډاکتر محمد یمین دوزی، تهران، ۱۳۷۸ ل .
۵۴. مجروح ، سید بهاؤالدین . دجبر او اختیار دیالکتیک، دوهم چاپ دبشري علوم، کابل ، ۱۳۵۳ل .
۵۵. محمد رضا ، جعفري. فرهنگ نشرنو، (انگلیس - پارسي) ، تهران ، ۱۳۸۲ل .
۵۶. مندوزی ، محمد ولي . هومانیزم ، علومو اکاډمي ، کابل ، ۱۳۶۸ ل .
۵۷. مومني ، عبدالحی. تاریخچه طبابت وفارمسي وسیر تکاملي آن در افغانستان ، اکادمي علوم افغانستان ، مطبعه ازادي ، کابل ، ۱۳۸۴ ل .
۵۸. مومني ، عبدالحی ، دلیکوالانو ډله ، نړۍ او افغانستان کې دپرون او نن وخت طبابت ، کابل ، ۱۳۶۷ ل .
۵۹. مهرین ، مهرداد . مکتب های فلسفي ، نشر کانون معرفت ، تهران ، خیابان لاله زار ، چاپ سال ۱۳۷۰ ل.
۶۰. مینوش ، شیرمحمد . داقبال پیام شرق ، پښتو ترجمه ، پېښور اکاډمي، ۱۹۶۳ل .

٦١. نيكبين، احمد ضياء. مبادي فلسفه، چاپ اول، انتشارات ميوند، كابل، ١٣٨٥ ل.
٦٢. هاشم، زردشت در گاتا ها، چاپ اول، انتشارات سخن، ١٣٨٢ ل.

**دويم - مجلې:**

٦٣. اساسي قانون، ځانګړې ګڼه، كميسيون نشرات قانون اساسي، كابل، ١٣٨٢ل.
٦٤. خراسان مجله، دافغانستان دعلومو اكاډمي، دژبو اوادبياتو مركز، دوره سوم، ميزان وعقرب، كابل، ١٣٨٦ل.
٦٥. دافغانستان كلنۍ، نشر وزارت اطلاعات وكلتور، ۴۳مه ګڼه، كابل ١٣٥٣ل.
٦٦. دافغانستان دجمهوريت اساسي قانون، اطلاعات او كلتور وزارت، كابل، ١٣٨٢ل.
٦٧. دافغانستان اساسي قانون، نشر وزارت عدليه، كابل، ١٣۴٣ل.
٦٨. دونانت، هانري. ژباړه، احمدزی، سره مياشت، دافغاني سرې مياشت، كابل، ١٣٨٣ل.
٦٩. رڼاګل، هومانيستي ښوونه او روزنه، عرفان مجله، اتمه ګڼه، دپوهنې وزارت، كابل، ١٣٥٥ل.
٧٠. سالنامه، نظامنامه هاى دوره اماني، نشر وزارت معارف، كابل، ١٣٠٣ ل.
٧١. ظريفي، فرهاد. په فيوډالي اروپا كې دهومانيزم رامنځته كېدل، كابل مجله، ١٣٥٨ل.
٧٢. محمد رحيم، جګړه، ننګرهار مجله، جلال آباد، ١٣٧٦ ل.
٧٣. مومني عبدالحی، طبيعت مجله، اكادمي علوم، كابل، ١٣٨٨ل.

۷۴. هوسا ، امان الله. آزاد مطبوعات، حقوق بشر مجله، کابل ، شماره اول ، ۱۳۸۴ل .

درېيم - انترنيتي پاڼي :

۷۵. www.addtoany.com.
۷٦. www.arwansoinfo,۲۰۰۸,۱۱,۲٦۱۵,html.
۷۷. www.pashgah.net/topics.
۷۸. www.tebyan.net.
۷۹. www.persanavarchiue.com.
۸۰. www.vikipedia.org.

**د لیکوال لنډ ژوندلیک:**

څېړنوال سلطاني منګل دحاجي الوزي منګل زوی چې په ۱۳۳۸المریز کال دپکتیا ولایت دموسی خیلو ولسوالۍ په مریم کلي کې زېږېدلی دی، خپلې لومړنۍ او ثانوي زده کړې یې دپکتیا ولایت دڅمکنیو په لیسه کې په ۱۳۵۷المریز کال پای ته رسولي او لوړې زده کړې یې د بلغاریه هیواد په صوفیه کې دفلسفې په څانګه کې دماسترۍ تر کچې سر ته رسولي دي.

لومړنۍ دنده یې د ۱۳۶۳ال کال څخه تر ۱۳۶۵ال کال پورې دخوست ولایت دحرفوي کارپوه په توګه ترسره کړې

له ۱۳۶۶ال کال څخه تر ۱۳۶۹ال کال پورې دافغانستان په خلق دیموکراتیک ګوند کې دپارلماني کارونو په اړه کارشناس دنده درلوده.

له ۱۳۶۵څخه تر ۱۳۶۶ال کال پورې دعسکري خدمت دمکلفیت دوره ترسره کړې.

د ۱۳۶۹ال کال څخه تر ۱۳۷۱ال کال پورې یې دعسکري خدمت داحتیاط دوره ترسره کړې.

د۱۳۷۱ال کال څخه تر دې مهاله دافغانستان په علومو اکاډمي کې دعلمي غړي په توګه دنده ترسره کوي، چې اوس مهال یې علمي رتبه څېړنوال ده.

**اثار:**

۱. په تاریخ کې دخلکو رول (دماسترۍ دورې تېزس په بلغاریایي ژبه)
۲. دیالکتیک در اندیشهٔ هیګل و فلاسفهٔ عرفانی شرق (د څېړندوی رتبې ته د ترفیع اثر په دري ژبه)
۳. دشاتو مچیو روزنه او دهغوی دناروغیو مخنیوی. (ژباړه)
۴. هیومانیزم دشرقي او غربي فلاسفه و له نظره. (همدا اثر)

**مقالې:**

۱. په پښتني چاپیریال کې دتشدد او عدم تشدد لاملونه.
۲. د افغانستان کړکیچ یوازې طالبان نه بلکې ډېر اړخونه لري.
۳. سوله او دیموکراسي.
۴. ددولت دقواوو تفکیک درامنځته کېدو او ودې تاریخي بهیر
۵. دیموکراسي او لیبرالیزم.
۶. دبشر دحقوقو په وده کې دمدني ټولنو او خبري رسنیو ونډه.
۷. دمولوي صالح محمد هوتک دلیکنو ښوونیز اړخ ته یوه کتنه.
۸. په افغانستان کې د سولې پر وړاندې خنډونه.
۹. په ټولنیزو تحولاتو کې دمدني ټولنو دنهادونو اغېزې.
۱۰. دافغانستان په لاره کې پراته خنډونه.
۱۱. داخلاقو فلسفه.
۱۲. ملي یووالی.
۱۳. په نوي اساسي قانون کې دبشر حقوق.
۱۴. علامه رشاد دپوهانو له نظره.
۱۵. په دیموکراتیکو نظامونو کې ښوونه او روزنه.

څېړندوی عبدالظاهر شکیب



# HUMANISM

## in the East & West Philosopher's thinking

AUTHOR
SULTANY MANGAL